# سل پگړی

# یو پوړنی

## د هوتکو ملي، روحاني، علمي، ادبي او ټولنيزې خيرې


ليكوال

محمد معصوم هوتک


ACKU

# سل پګړۍ

# یو پوړنۍ

هوتکو ملي، روحاني، علمي، ادبي او
ټولنيزې څېرې

ليکوال:

محمد معصوم هوتک

ACKU

ACKU


## د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم : سل پګړۍ يو پوړنی

ليکوال : محمد معصوم هوتک

خپرندوی : د افغانستان د کولتوري ودې ټولنه- جرمني

لړ : ۶۹

چاپ کال : ۱۳۸۴ل/۲۰۰۵ز

چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ

د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه

قصه خوانی بازار، پېښور Tel/ Fax: 2564513

E-mail: danish2k2000@yahoo.com

# د خپرندویې ټولنې یادښت

## د هوتکو دغه نومیالي

د هوتکو د نومیالیو په اړه دغه کتاب په حقیقت کې د افغانستان د تاریخ د نومیالیو د ستر بهیر یوه ډېره په زړه پورې برخه ده، ددغو نومیالیو ډېره برخه د نوي افغانستان د نوي جوړښت د پیلامې د هڅو په ویاړلیو شېبو پورې اړه پیدا کوي.

ښاغلي لیکوال محمد معصوم هوتك د هوتکو د نومیالیو دغه لړۍ په تاریخي تسلسل کې سره په ښه توګه رانغاړلې او دغه تاریخي ګلدسته یې ترې جوړه کړې ده.

د افغانستان د کولتوري ودې ټولنه سږ کال د افغاني-

هوتکي پاڅون د پیلامې د درې سومې کالیزې جشن د کندهار په تاریخي ښار کې او دغه راز د جرمني د کولن په ښار کې لمانځي. د ډېرې خوښۍ ځای دی، چې د یو لړ نورو مهمو تاریخي کتابونو په لړ کې ددغه ویاړلي مناسبت لپاره د ښاغلي هوتك دغه تاریخي څېړنیز اثر هم چاپ او خپروو.

موږ هیله لرو، چې ددې ارزښتناك اثر په خپراوي سره به د افغانستان د تاریخ یو لړ مهمې څېرې په ښه توګه د خپل تاریخ مینه وال ځوان نسل ته وروپېژنو او د وطن د عمومي تاریخ د یوې ډېرې ځلندې دورې مهمې څېرې به په ځانګړې توګه د تاریخ په پاڼو کې ثبت او محفوظې شي.

ددې کتاب کمپیوټري لګښت او کمپوز هم خپله د لیکوال له خوا تر سره شوی او کټ مټ هماغسې خپرېږي.

په درنښت

د افغانستان د کولتوري ودې ټولنه

جرمني- د کولن ښار

د ۲۰۰۵ز کال د اپرېل ۲۶

د ۱۳۸۴لمریز کال د ثور (غويي) شپږمه.

# دلوی خدای په نامه

د ۲۰۰۳ ع کال په سرکي زما د پرمحترم دوست ښاغلي زرین انځور راته دهوتکي غورځنګ دپیلامې په باب دیوه سیمینار د جوړولوخبره وکړه . ماورته دکوکران دجرګې د دریې سوومې کالیزې نمانځل مناسب وګڼل اوده هم خوښه کړه .په دې برخه کې د کتابواومقالوپه هکله هم سره وږغېدواوپه دې ترڅ کې دهوتکو د مشاهیرو موضوع رامنځ ته سوه . زماسره په دې برخه کې یاداښتونه موجود وو او دهغودتنظیمولوعده مي ورکړه . دوی یې دچاپولو ذمه ووهله اوزیاته یې کړه ، چي داکتاب به دسیمینارله پاره د چاپېدونکو کتابوپه لیست کې ونیسو.ماکارپیل کړی و، چي ښاغلي انځورصاحب حال راکړ، چي تردې سیمینارووړاندې یې خیال دئ دافغانستان دخپلواکی دګټونکي غازي امان الله خان په یادغونډه جوړه کړي . ماخپل کاغذونه بیرته سره غوټه کړل او د اماني عصراولویي جرګې په باب مې دټاکل سوي سیمینارله پاره لیکنه ترلاس لاندې ونیوله . سیمینارپرټاکلي وخت په جرمني کې ښه په درب ونمانځل سو اوله بده مرغه ماونسوکولای په غونډوکې یې برخه واخلم .سږکال یې بیا راته دهوتکي غورځنګ په هکله دټاکل سوي غونډې یادونه تازه کړه اوماته یې پرنورکارونوسربېره دهوتکي مشاهیرود کتاب لیکلودنده هم راوسپارله ، چي دادئ څه اومه و پاخه مې سره راغونډکړل اوستاسي درنولوستونکو مخې ته مې څه وړاندې کړل . په پښتوژبه کې دیوه خاص ټبراوقوم د مشاهیرو معرفي زماتر همدې لیکني وړاندې نوره سابقه هم لري .

علامه حبيبي مرحوم له نن څخه څلورشپېته کاله وړاندې دابداليو مشاهيرپه يوه رساله کې راپېژندلي دي اوپه هغه کې يې ترلوی احمدشاه بابا دمخه ددغه قوم لويان اودسرسړي معرفي کړي دي. زمامهربان استاد اود پښتنودسرتاج علامه رشاد رحمه الله عليه د امين الملک گل محمدغورياخېل باېړ اودهغه کورنۍ په يوه ناچاپ درانه اثرکې راپېژندلې ده.داکورنۍ دعلامه استاد نيکونه دي . دغه رازتذکره وشمه اثاردراتلونکوڅېړونکودڅېړني کاراسانه کوي . ماخپله همدا ليکنه پرځلوروبرخواويوپايڅوروپشلې ده اوپه هره برخه کې مې تر يوې اندازې پورې دزماني تسلسل له مخې د هوتکوملي ، روحاني ، علمي، ادبي او ټولنيزي څېرې معرفي کړي دي .ډېره هڅه مې کړې ده ، چې پر پخوانيوڅېړنوباندې څه نوي خبري هم ورزياتي کړم .په دې برخه کې ځای ځای بريالی سوی هم يم خوپه تورو کې مې بياله نه وسه پخوانۍ څېړني رااخيستي دي.ما چې کله خپل ياداښتونه سره تنظيمول او ټايپول، دپښتنودادبي کاروان لوی قافله سالارعلامه رشادصاحب لادژوندپرمېنه و .څکه نودمتن په زياتروبرخوکې يې له درانه نامه سره دمرحوم يااروانښاد کلمه نه ده تړله سوې .هيله ده لوستونکي گوته راته ونه نيسي .که دکتاب د نامه اوپه متن کې دراغليوڅېرودشمېرترمنځ کوم تناقض په سترگه سي ، محترم لوستونکي دي يې جدي نه نيسي . تردې لنډې سريزې وروسته زه دځان فريضه گڼم ، چې په المان کې د افغانستان دکلتوري ودې ټولنې ته ددې کتاب اوزما د نورو ناڅيزو آثارو د چاپولوله امله دزړه له کومې کورودانۍ ووايم . دوی

تل زماآثارپخپله غوښتنه ، پېرزوینه اولګښت خوزماپخپله سلیقه او اوډنه بې له لاسوهنې چاپ کړې دي اوزه يې تراحسان لاندې کړی یم . پاك خدای دې دوی ته په دغه فرهنګي خدمت کې نورهم توفیق ورکړي ، چې په دې ډول د پښتو نثلې اورتلې ژبې نوره فرهنګي غنا هم په نصیب سي .

محمدمعصوم هوتك

اوکویل ـ کاناډا

داپریل دریمه ۲۰۰۵ ع

ACKU

# فهرست

نوم | مخ

## سرخېل او پاچاخېل


باباهوتک ........ ۱
ملکیار هوتک ........ ۳
ښالم خان ........ ۵
حاجي میرویس نیکه ........ ۷
میرعبدالعزیز ........ ۱٤
یحیی خان ........ ۱۷
عبدالقادرخان ........ ۱۸
شاه محمود ........ ۱۹
شاه اشرف ........ ۲٤
شاه حسین ........ ۲۷
بي بي زینبه ........ ۳۰
اسماعیل شهزاده ........ ۳۵
ابراهیم شهزاده ........ ۳۵
دوست محمد خان ........ ۳٦
حاجي نورمحمد خان مشهور په حاجي انګو ........ ۳۸
یارمحمد خان ........ ٤۱
محمد خان ........ ٤۳
غازي نورالله خان ........ ٤٤
حاجي عبدالغفورخان ........ ٤٦
حاجي عبدالرسول خان ........ ٤۷
حاجي عبدالرحمان خان ........ ٤۸

| نوم | مخ |
|---|---|
| عبدالجبارخان | ٤٨ |
| خان خانان عبدالرحیم خان | ٤٩ |
| میرعلم خان | ٥١ |
| عبدالغفارهوتک | ٥٣ |
| حاجي امان الله خان | ٥٦ |

## د سیوري او مرغۍ ګلونه

| | |
|---|---|
| عبدالرحیم هوتک | ٥٨ |
| شیخ حمید عمرزی | ٦٥ |
| حاجي شهبازنیکه | ٦٦ |
| قادرخان | ٦٦ |
| حاجي مشکی | ٦٧ |
| حاجي اسماعیل خان | ٦٩ |
| یوسف خان | ٦٩ |
| قاضي یارمحمد | ٦٩ |
| جانان هوتک مشهورپه فدوي | ٧٠ |
| ملاخیرالله هوتک | ٧٤ |
| حنیفیاخان | ٧٨ |
| شینواری خان | ٨٠ |
| محمدکریم | ٨١ |

## د ذاکرشریف حضرات

| | |
|---|---|
| میاعبدالحمید ( رح ) | ٨٢ |
| میاجان محمد ( رح ) | ٩٣ |
| میانورمحمد ( رح ) | ٩٤ |
| میاشیرمحمد ( رح ) | ٩٩ |




ACKU

| نوم | مخ |
|---|---|
| عبدالباقي صاحبزاده | ۱۰۰ |
| خیرالدین صاحبزاده | ۱۰۲ |
| عبدالودود صاحبزاده | ۱۰۳ |
| محمدعلي صاحبزاده | ۱۰٤ |
| میرزامحمد مجرم | ۱۰٦ |
| افقرالوراء مولوي عبیدالله صاحب ذاکري | ۱۰۸ |
| **دکندهار ښار هوتک** | |
| ملاپیرمحمد میاجي | ۱۰۹ |
| ملایارمحمد | ۱۱۳ |
| بابوجان بابی | ۱۱٤ |
| داودخان هوتک | ۱۱۷ |
| محمدهوتک | ۱۱۹ |
| ملا شاهو مشهورپه ملاارادت | ۱۲۳ |
| ملاشیرمحمد هوتک | ۱۲۵ |
| ملاصاحبدین | ۱۲۹ |
| قاضي غلام هوتک | ۱۳۱ |
| ملاعبدالاحد | ۱۳۵ |
| نورمحمد نوري | ۱۳٦ |
| ملامحمداکرم هوتک | ۱٤٤ |
| صدیق اخوندزاده | ۱٤٦ |
| عیسی هوتک | ۱٤۹ |
| قاضي عبدالعلي | ۱۵۲ |
| عبدالغفورهوتک | ۱۵۲ |
| حاجي محمداکبرهوتک | ۱۵۳ |

ACKU

| نوم | مخ |
|---|---|
| عبدالطيف هوتک | ۱٦۸ |
| مولوي صالح محمد هوتک | ۱۷۱ |
| حاجي عبدالغني مشهور په حاجي اکو | ۱۸۱ |
| حاجي عبدالباقي | ۱۸٥ |
| ميرزا عبدالودود هوتک | ۱۸۸ |
| احمدعلي اخوندزاده | ۱۹۸ |
| شيرمحمد هوتک | ۱۹۹ |
| عبيدالله هوتک | ۲۰۰ |
| ګل محمد افغان | ۲۰۱ |


دبلاهېر


| | |
|---|---|
| ملارمضان هوتک | ۲۰۳ |
| عبدالعلي خان مستغني | ۲۰٤ |
| عبدالولي عاشق | ۲۰۸ |
| بهادرخان | ۲۱۰ |
| ولي محمد هوتک | ۲۱۰ |
| ميرحاتم غازي | ۲۱۱ |
| خداينظرخان ماما | ۲۱٤ |
| ميرزا محمد ايوب | ۲۱٦ |
| سردار محمد زهير | ۲۱۷ |
| محمدصادق معلم | ۲۱۹ |
| محمديوسف ويران | ۲۲۱ |

# سرخیل او پاچاخیل

ACKU

# باباهوتك

باباهوتك د غرزيو پښتنو د هوتك ښاخ د سر سړى ښوول سوى او په پټه خزانه كي دده دژوند شرح حال بيان سوى دئ . هورې ليكل سوي دي ، چي بابا هوتك د تولر زوى او دبابا غلجي لمسى و . وايي چي لوى شيخ او دكراماتوخښتن و . د زوكړي ځاى يې اتغر او د زوكړي كال يې ۶۶۱ هـ ق او دمړيني كال يې ۷۴۰ هـ ق بلل سوى دئ . د پټې خزانې مولف د خپل پلار له خولې روايت كوي ، چي په هغه وخت كي به مغولو هركله دارغنداو پرغاړو بريدونه كول او اتغر و اولان و كلات به يې چورول . بابا هوتك خپل قوم راغونډ كړ او له مغولو سره يې داسي جگړې وكړې ، چي سور غردمغولو په وينو لژند سو. بابا هوتك په دغو جگړو كي يوه سندره ويله او خپل خپلوان يې دمغولوپرضد تشجيع كول .( ۱ )

پرسورغربل راتــــه نن اوردئ وگړيه جــــور راته پيغوردئ

پركلي كورباندي مغول راغى هم په غزني هم په كابل راغى

د پټې خزانې ددغه روايت ځيني برخي له تاريخي متونوسره سرنه خوري .د پښتنو په نسبي شجروكي هوتك په درخي ، درخي په بارو ، بارو په توران او توران په غلجي گډېږي . علامه عبدالحى حبيبي توران ــ تولر ــ بولر لرغوني اريايي نومونه بولي او ليكي چي په اوستا كي هم دغه نومونه راغلي دي ( ۲ ) . د پټې خزانې مولف چي په اوومه ميلادي پيړى كي كوم بابا هوتك مورته

---

( ۱ ) پټه خزانه ــ ۷ ــ ۱۱ مخونه ــ لومړى چاپ ( ۱۳۲۳ ش )

( ۲ ) حبيبي ــ عبدالحى ( پوهاند ) ــ تاريخ مختصرافغانستان ــ ۲۴۲ مخ ــ د ۱۳۶۸ ش چاپ

راپېژني ، یقین ته په غالب گومان به هغه څوك نه وي ، چې د هوتك قوم يې نامه ته منسوب دئ . داشخص متاخر سړی ښکاري.ددغه روایت په باب اروانباد بېنوا ( ۱۲۹۳ ـ ۱۳۶۳ ش ) له نن څخه اووه پنځوس کاله وړاندې خپل شك څرگند کړی دئ .
اروانباد بېنوا لیکي « احتمال لري چې دابه دوهم هوتك نامی وي چې دلوی نیکه په نامه یادشوی وي اویابه ددوی دواړو په نومونو کښې کمه اشتباه شوې وي او یا به داهغه لومړی بابا هوتك وي، مگرد ژوند تاریخ به یې نژدې ناکل شوی وي پانورڅه .....»(۱) .
بایدووایم چې ننی‌علمي څېړني ددغو قومونو څرك له اسلامي عصرڅخه زرگونه کاله وړاندې راښيي .

***********
**********
*********
********
*******
******
*****
****
***
**
*

(۱) میرویس نیکه ـ دعبدالروف بېنوا تالیف ـ ۱۶ او ۲۰ مخونه ـ کابل ـ ۱۳۲۵ ش

## ملکیارنیکه

د هوتکو قوم په لوی سرکي ځلور ځانګي لري چي يوه ځانګه يې ملکيار نومېږي . درې نوري يې دولتيار ، تون او يوسف دي . خود ملکيار نيکه په نامه يو متاخر شخص مورږته داولسي عنعنې اوځينو کتبي رواياتو له مخي معلوم دئ . ددغه ملکيار نيکه د ژوند زمانه هغو کلونو ته رسېږي ، چي پښتنانه دکسي غره له لمنوڅخه د مېني د تنګوالي له امله مخ پر اوسني زابل ، پکتيا ، پکتيکا ، غزني ، کابل او ننګرهار رانيسي او په دغو سيمو کي اړوي .ملکيارد بابا هوتک زوی بلل سوی دئ چي د اتغر ، غوړي مرغې او سيوري په سيمو کي د ميشتو هوتکو مشري يې پرغاړه درلوده . ده خپل اولس و کرهڼي ته وهڅاوه اودده په مشوره کارېزونه وکينل سول .ملکيارنيکه ددغي پراخي اورشو مځکي پرطايفو ووېشلې . دده دوخت له کارېزو څخه اوس لا هم تقريبا پنځه شپېته کارېزه سته او دده وېش ته اولس په درنه سترګه ګوري ( ۱ ) . دمځکودغه وېش د شيخ ملي د دفتر وېش ته ورته بللای سو، چي په لسمه هجري پېړۍ کي تاکل سوی و .

پټي خزانې ددغه دوهم ملکيار يوه خوږه سندره رانقل کړې ده چي د سر اوپای بندونه يې داسي دي :

ترنک بـــهېږي ترنک بـــهېږي غاړي تـــرغاړي

زما زړګی خـــو خپل لالی غواړي

---

( ۱ ) هوتك ــ امان الله خان ــ دخپلواکۍ لمرخرك ــ ۱۴ مخ ــ دوهم چاپ .

کـــه روده روده    دتـــــرنك روده    خاوند دي وچ کا
چي زړګی مومي    زمـــاخپله سوده
که نېز دئ نېزدئ    نېزدېېلـــتون دئ    زړه نـــېزه وړی
پـــــه ویرژړلی    په غم زبـــون دئ
که اوردئ اوردئ    په زړه مي اوردئ    دا اوربــه وچ کا
د ویـــــرنېزونه    بل ډېرپــه زوردئ
نمنځنه یـــوسه    سپیني سپوږمـیه    ورتـــــه ووایه
چي ترنك تال کړم    ستالــــه خولګیه
که خـــړو خـــړو    اوبوســوان کړئ    بېل ملکیار دئ
جلا لــــه یاردئ    سوب يې جانان کړئ
***************
*************
*********
*****
***
**
*
*
*
*
*
*

# ښالم خان هوتك

ښالم خان ، چي په ځينو کتابو کي د ( شاه عالم خان ؟ ) په شکل ليکل سوی دئ ، دکرم خان زوی اود ملي قايد حاجي ميرويس نيکه پلار و. پخپله قبيله کي په مهرانه ، سخاوت او زړه ورتوب مشهور اودښه نامه ځښتن و. د پلار تر وفات وروسته دقام دمشرتوب پګړی دده پر سرسوه . د هوتکوښالم خېله پښه دده له نامه سره اړيکه لري . ښالم خېل د هوتکو پاچاخېل دي چي په نسبي پيوند کي د ساګزيو هوتکو يوښاخ دئ . ساګزي هوتك په حسين زيو (اوسين زيو ) او اوسين زي په ملکيارو ګډيږي . د کندهارپه پښتنوکي ښالم خېلو ته د عزت په سترګه کتل کېدله او د هوتکو سرداران يې بلل . ملاعبدالباقي افغان په تهذيب الواجبات ( ۸ مخ ـ د۱۴۰۸ ق چاپ ) کي دعلم دين دښېګنو د بيانولوپه ترځ کي دکندهار دمشهور روحاني پېشوا صوفي صاحب ( رح ) (محمدرسول اسحق زی مدين زی ) يادونه کوي او وايي چي دده پلار و نيکونه نه دجاه وعزت ځښتنان وو ، نه ښالم خېل وو خوده د علم لمن ټينګه کړه ځکه نودخپل خېل « سرکرده » سو.دی وايي :

مدين زی دبرو ګوره آفـــــرين يې پرتربت
ځومري مړه په ده ژوندي ســوه پرظاهردشريعت
نې نيکه صاحب دجاه و نه پــه اصل ښالم خېل
و طالب دطالبانو ســـــ کرده يې کئ دخېل
عالمان اوفاضلان يې په سوو وينښ کړه ئه خوبه
سرداران او خـــوانين يې ددربار د در خاکروبه

صوفي صاحب داحمدشاهي کندهار د برودروازې د یوسفزیوپه مسجدکي اوسېدئ ښکه نو ملا عبدالباقي افغان « د برو مدین زی » بللی دئ .

ښالم خان دسلطان ملخي توخي ( ۱ ) له لور « نازو » سره واده کړی و او له هغې څخه يې څلور زامن پاته سول : حاجي میرویس نیکه ، یحیی خان ، عبدالعزیزخان او عبدالقادرخان . د ښالم خان نه د زیږېدني او مړیني نېټې څرگندي دي اونه د ژوند نورحالات .

**********

*********

********

*******

******

*****

****

***

*

---

( ۱ ) سلطان ملخی توخی دمغولي پاچا اورنگزیب ( ۱۰۶۸ ــ ۱۱۱۸ هـ ق ) معاصرپښتون و اودغلجیو قومونو مشرتوب يې کاوه .اولاده يې اوس هم دشاهجوی اوکلات ترمنځ دتازي رباط په جنوب کي اوسي . ده دابدالیو دمشرخداداد سلطان سدوزي په همکاري دغلجیو او ابدالیو قومونوترمنځ دکلونوکلونولانجه په سوله او ورورې سره حل کړه اودجلدك په سیمه کي يې دگرماو حد ددغو دوو قومونوترمنځ پوله وټاکله . دسلطان ملخي له اولادې څخه اشرف خان دلوی احمدشاه باباپه وخت کي له کلاته ترغزني پورې حکمراني کوله اوپرهندباندي دلوی احمدشاه باباپه لومړي برید کي دبابا له لښکروسره مل و . ددې کورنی اقتدار دامیر عبدالرحمان خان تر زمانې پورې چلبدی . ( دپټې خزانې تعلیقات ــ ۲۵۸ مخ ـ لومړی چاپ )

# حاجي میرویس نیکه

حاجي میرویس نیکه دافغانستان د هغه ملي قهرمان نوم دئ، چي د معاصر افغانستان د تاداو اینبوولو الهام دده له هغو ملي مبارزوڅخه اخیستل سوی و، چي د پردیو له سلطې څخه یې د ژغورني په لاره کي په سربنندني سره کړي وې. میرویس نیکه د ښالم خان زوی او دکرم خان لمسی و ، چي دنسب سلسله یې په نهم پښت کي باباهوتك ته رسېږي ( ۱ ).دهوتکودغه کورنۍ د ترنك او ارغنداب پرغاړو باندي یوه سیمه ییزه حکمراني وه او ویل کېږي چي له چنګیزیانوسره جګړې کړي وې . ددوی مفصل حال د میرویس نیکه ترزمانې پورته ډېر څرګند نه دئ او دومره ویل کېږي چي دمیرویس نیکه پلار او نیکه دخپل قوم په متنفذو مشرانوکي ګڼل کېدل .دمیرویس مور دغلجي قبایلو دهغه وخت دمشر سلطان ملخي توخي لور وه او نازو نومېده .لکه په تېرمخ کي چي موولوستل ، ښالم خان له نازوڅخه څلور زامن درلودل چي مشر یې حاجي میرخان یا میرویس خان و. نوردرې یې عبدالعزیز خان ، یحیی خان او عبدالقادرخان وو . میرویس خان له غزني څخه تر کندهار وفراه پوري په غلجیو او ابدالیو پښتنوکي نفوذ درلود او دډهلي او اصفهان شهنشاهیو هم ورته په درنه سترګه کتله .

دمیرویس نیکه دژوندزمانه پرلوی کندهارباندي دپارس دصفوي

---

( ۱ ) دغه بابا هوتك په نسبي شجروکي د هوتکو د قبیلې د سر سړی بلل سوی دئ. خودا چي د ژوند زمانه یې داوومي هجري پېړۍ پای او داتمي سرتاکلی دئ . خېړونکو ته داسي فکر وراچوي . چي دابه نوهغه هوتك نه وي . چي قوم یې نامه ته منسوب دئ .

واکمنی له تسلط سره برابره وه .د پارس صفوي دربار په ۱۷۰۵ ع
کال دگرگین په نامه یو ظاهرا جدیدالاسلام سړی د کندهار د
بیګلربیګي په توګه وټاکه . دده دواکمنی په ساحه کي بست،
زمینداور، شال ، مستونګ ، پښین ، قلات ، دغلجیوکلات ،
ګرشك ، فراه او شینډنډ شامل وو.په دغه پراخ قلمرو کي دی د
نامحدودواختیاراتوخښتن و . ګرګین په ظلم اوسفاکی سره واك
چلاوه.دخلکودعزت او آبرو پروایې نه کوله .ده غوښتل دابدالیو او
غلجیو پښتنومشران یوپه بل پسې له منځه یوسي .دکندهاردغه
صفوي حکمران په ښارصفاکي د دولت خان ابدالي پرکوربرید وکړ
او دولت خان یې ، چي نژدې پنځوس کاله یې پردغه سیمه واکمني
کړې وه،له خپل زوی نظرمحمدخان سره ووواژه ( ۱۱۵۰ هـ.ق = ۱۷۰۳ع
شاوخوا ).ابدالي قبایلودولت خان تر وژلو وروسته دهغه زوی رستم
خان خپل مشر وټاکه . رستم خان له صفویانوسره دمخامخ
مخالفت بیچ په ځان کي نه لید ،ځکه زوی یې زمان خان په کرمان
کي دصفوي حکومت له خوایرغمل و ،خودبلوڅو په مرسته یې
دکندهارپه جنوب کي پرصفوي لښکرو باندي دمرګي واري وکړل
.رستم خان ترڅلورکاله مشرتوب وروسته مړ سواو ابدالي قبایل بې
مشره پاته اوسره خواره واره سول .زیاتره لویان یې هرات ته ولاړل
.دکندهار اوشاوخواسیموابدالیانود جعفرخان سدوزي د کورنۍ په
پیروی دمیرویس نیکه زعامت ته غاړه کښېښووله اوپه دې توګه
میرویس نیکه د غلجیواوابدالیوګډ مشرسو.
ګرګین دمیرویس دله منځه وړلو لپاره اوږدي نقشې په سر کي لرلې

خو میرویس نیکه ددې سړی نه و ، چي په اساني سره دي دگرگین ددسیسو په لومه کي راگیر سي . ده په لوم‌ړي سرکي دگرگین اعتمادخان ته جلب کړ او ښایي گرگین به هم غوښتل دخپلوپلانونودعملي کولو په منظور له میرویس سره ظاهرا د دوستی لاره غوره کړي. میرویس هڅه وکړه گرگین له پښتنوسره خپل ناوړه چلند ته متوجه کړي خودهغه غرورنه دغرور او تکبر پومبه وو دپ کړي وو او دنصیحت اوریدلو خاصه یې له لاسه ورکړې وه . ددې پرځای چي دمیرویس په نصیحت عمل وکړي ، هغه یې اصفهان ته دصفوي واکداری دلوی دښمن په توگه د سیاسي بندي په حیث ولیږه . میرویس نیکه ته لوی خدای دومره پوهي او هوښیاري ورکړې وه ، چي دصفوي دربار په اراکینو کي دخپل عقل و تدبیر ، پانگي و سوغاتو د په کاراچولو له لاري نفوذ وکړي اوپه لږ وخت کي د درباردااکثریت غړو پاملرنه خان ته واړوي اودخان پلویان یې کړي . ده دیوه دراك سیاستمدارپه توگه دصفوي دربارله فساد او د دربار د غړوله خپلمنځي اختلافاتو څخه دخپل اولس دخپلواك کولو په لاره کي کارواخیست . ده نه یوازي دربارته دگرگین دخطونو منفي اغېزې له منځه یوړې ، بلکي ټول درباریې دگرگین په نسبت شکمن کړ.ده داصفهان له حکومت څخه دحج دفریضې اداکولو اجازه واخیستله او هورې یې دحجازله دیني علماوو څخه دگرگین پرضددجهاد فتواوي ترلاسه کړې .له حج څخه ترراستنېدلو وروسته کندهارته دتگ اجازه هم ورکړه سوه اودا وار بیرته دکندهاردکلانتروظیفه وروسپارل سوه . صفوي دربار پر

گرګین باندي خطونه ورکړل او په هغوکي ګرګين ته سپارښتنه سوې وه چي په اولسي چاروکي له میرویس څخه مشوره واخلي .

میرویس خان دسیاسي قیدي په توګه اصفهان ته لیږل سوی و خودخپل فطري ذکاوت په مرسته یې ځان ته د سیاسي سلاکار موقف وګاټه . ددغه شان سیاسي کردار سرته رسول د پوهاند ډاکټر محمدحسن کاکړ خبره یوه داسي کارنامه ده، چي نظیریې په افغاني تاریخ کي نه لیدل کیږي ( ۱ ) .

میرویس په کندهارکي خپل قوم او اولس ته دخپلواکۍ ګټلو په باب خپله دزړه خبره ورسوله اوورسره سم یې دصفوي دربارکمزوري اودحجازدعلماوو فتواوي وښوولې اوهغوی یې په څو جرګو کي دیوه ملي خپلواکۍ غوښتونکي پاڅون لپاره سره تنظیم کړل .

دمیرویس نیکه محبوبیت اوپه اولس کي دده درناوی دومره زیات و، چي ترلومړۍ جرګې وروسته دده دملي ارمانودپوره کیدودلاري ملګرو دکندهاردآزادۍ تر ورځي پوري د ملي غورځنګ پټ رازونه پخپلو سینو کي وساتل اوددوی په فعالیت باندي دڅا خبره د ګرګین تررږېره لاندي غوږ ترغوږه خبر نسو. ددې راز امانتدارۍ مثالونه هم د هیوادپه تاریخ کي لږ موندل کیږي .میرویس نیکه دګرګین د درانه پوځ په وړاندي دیوه ماهرجنرال په توګه ډېره دقیقه نظامي ستراتژي وټاکله اوعملي یې کړه . داسي یې عملي کړه چي دصفویانوله دغه درنې قوې څخه یوڅو دګوتوپه شمارمحدود کسان په تیښته له کندهاره ژوندي ووتل اوپه کندهار کي دلومړي ځل

---

( ۱ ) کاکړ ــ محمدحسن ـ رڼا او دفاع ــ ۱۲۸ مخ ـ ۱۹۹۹ ع

لپاره دپښتنوپه لاس ملي حکومت جوړ او کندهار د پښتنودیوه خپلواك مرکزپه توګه ومنل سو ( ۱۱۱۹ هـ ق کال د ذی الحجې لومړی ورځ = ۱۷۰۷ ع ) . میرویس نیکه دجګړې دډګر فاتح و خونظامي فتح يې دډیپلوماسي په قوت پیاوړې کوله . ده داصفهان دربارته دخان له بابته دډاډ لیکونه ولېږل اوپه دې ډول يې غوښتل مات سوی دښمن نورهم دغفلت په تیارو کي وساتي .

د « هرات ، پښتانه او ستره لوبه » نومي کتاب دانشمند لیکوال لیکي « میرویس دشیرشاه سوري په څېرهروخت لومړی دمذاکراتواوعقل څخه کاراخیست اوبیابه يې پرغولېدلي اوغافل دښمن باندي دتوري داسي ګوزارکاوه ، چي بیرته به پرهوښ راتللو موقع په لاس نه ورتله » ( ۱ ). صفوي دربار دوه واره کندهار ته لښکر ولېږه اوپه هرواریې کلکه اوتباه کوونکې ماته وخوړه .

میرویس که له یوې خوا له صفوي لښکرو سره دجګړې په میدان کي دمقابلې تیاري نیوله نوله بلې خوا يې دافغانستان له بل ګاونډي ، دهندمغولي امپراتورته دخپل وراره په لاس لیکونه اوسوغاتونه ولېږل اودډیلي له دربارسره يې ددوستی لاره غوره کړه اوپه دې هڅه کي بریالی هم سو . مورخین په دې عقیده دي ، چي په کندهارکي دحاجي میرویس نیکه په قیادت د۱۷۰۷ ع کال پاڅون دهرات دخپلواك کولو لپاره زمینه برابره کړه اوله دغه پاڅون سره سم په نوموړي ښار . سیستان . بلوچستان .، بحرین اودصفوي امپراتوری په ټول پراخ قلمرو کي دناراضو اولسونو قیامونه پیل سول اوصفوي دولت يې له بېخه ولړزاوه ( ۲ ).

---

( ۱ ) جهاني ـ عبدالباري ـ هرات . پښتانه اوستره لوبه ـ ۱۱۴ مخ ـ دوهم چاپ ـ ۱۳۸۰ ش

( ۲ ) هماغه اثر ـ ۱۱۲ ـ ۱۱۳ مخونه ( کلمات سره لاندي باندي سوي دي )

شك نسته چي میرویس نیکه دټول هیواد دیوموټي کولو نقشې په سرکي درلودې خوعمر وفاورسره ونکړه . له اتوکالو حکومت وروسته په ۱۷۱۵ ع کال مړ سو . وروستي مدارك ښيي چي صفوي دربار دمیرویس نیکه پخپله کورنۍ کي دده د ورور میر عبدالعزیز پرلاس اختلاف واچاوه اوداسي ښکاري ، چي د میرویس نیکه مړینه طبیعي مرگ نه و.

علامه حبیبي دمیرویس نیکه په باب لیکي « نوموړي زعیم په تن لوړ او غښتلي موټي یې وې . ږیره یې سپینه او اوږده وه ، سریې له وریښتانو خالي و . سپین کمیس اوسپین پرتوگ یې اغوست .څادریې له څانه سره گرزاوه . په ملي جرگو او افغاني کلیو کي تل دخلکو په منځ کي دهغوی په شان پرخپل څادر کښېنوست اونور یې هم له ځان سره پرخپل څادرکښېنول » ( ۱ ).

دحاجي میرویس نیکه په باب مورخین ټول په یوه خوله دي چي ده پرخان باندي دپاچا یاامیر نوم کښېنښوواودیوه ملي زعیم په توگه یې دحکومت چاري پرمخ بېولې . اروانښاد خلیل الله خان خلیلي په ۱۳۵۳ ش کال دبغدادپه موزیم کي دمیرویس نیکه په نامه دسرو زرو سکه وموندله اودهیوادپه مطبوعاتوکي یې ددغه کشف خبره خپره کړه.زه ددې کرښولیکوال داروانښاد خلیلي تردغي لیکني وړاندي دښاغلي عبدالرحیم هاتف له خولې خبرسوی وم، چي بغدادته دیوه تجارتي سفرپه ترڅ کي ده ته داروانښاد خلیلي له خولې خبر ورکړه سوی و چي دبغداد په موزیم کي دغه راز یوه

---

( ۱ ) تاریخ مختصرافغانستان ـ ۲۴۹ مخ

سکه خوندي ده .اروانښادخليلي خيال درلوددغه سکه له ډيپلوما ټيکو اړيکوڅخه په استفادې سره دکابل موزيم ته نقل کړي . ښاغلي هاتف زياته کړه ، چي ده اروانښاد ته مشوره ورکړه ، چي داسکه به همالته خوندي ښه وي .که کابل ته نقل سي نو ليري نه ده ، چي ديوې پېغلي دغاړي هاردي سي او وريسې ورکه دي سي . ددغي سکې سجع داسي وه :

سکه زد بردرهم دارالـــــقرارقندهار

خان عادل شاه عالم ميرويس نامدار

دميرويس نيکه ملي ارمانونه دده تر مرگ وروسته دهيواد ديوه بل نوميالي لوی احمدشاه بابا ( ۱۱۶۰ ـ ۱۱۸۶ هـ ق ) په توره و تدبيرعملي سول .

[[[[[[[[[[[[[[[[[[

[[[[[[[[[[[[[[[[

[[[[[[[[[[[

[[[[[[[[

[[[[[[

[[[[[

[[[

[[

*

*

## میرعبدالعزیز

دحاجي میرویس نیکه ورور و او دملي قاید تروفات وروسته داولس په مصلحت دحکومت مشر وټاکل سو. ده دخپل ورور حاجي میرخان نیکه په شان نه دتوري همت درلود او نه پوهه و تدبیر ودرایت . یو استراحت غوښتونکی سړی او له جګړې بېزار شخص و. دمشرتوب په لومړیو شپو کي یې دقوم مشران راوبلل اودپارس دصفوي حکومت دپیاوړتیا اودخان دکمزورتیاپه باب یې خبري ورته وکړې اوپه دې ترڅ کي یې قام ته څرګنده کړه ، چي له صفوي حکومت سره دروغي جوړي دخبرو خیال لري . دده داڅرګندوني پر قومي مشرانو ښې ونه لګېدې او په جواب کي یې په زغرده ورته وویل ، چي دروغي جوړي خبري خوبه کورټ پرخوله لاهم نه راوړې اوکه دخپل مشر وروملي قاید حاجي میرخان پرپله ګام ایښوولو ته تیار نه یې ، له مشرتوبه لاس واخله او ځای بل چاته پرېږده . میرعبدالعزیز دقام دمشرانو دمشورې پرخلاف دپارس حکومت ته دروغي جوړي وړاندیز وکړاو په هغه کي یې دغه لاندي شرایط پیشنهاد کړل :

- له افغانانودي باج نه اخیستل کېږي ؛
- کندهارته دي صفوي عسکر نه راځي؛
- دافغانانوپاچهي دي دمیرعبدالعزیز په کورنۍ کي میراثي ومنل سي .

دمیرعبدالعزیز دغه دریځ ته نه یوازي دقوم مشرانو په کرکه وکتل ، بلکي ده ته یې پخپله کورنۍ کي هم غم جوړ کړ .دده وراره

یارمحمد خان ، چي په دغه وخت کي دشاهي کورنی مشر سړی و ، ورسره مخالف او په نتیجه کي دمیرعبدالعزیز لخوا په یوه خدعه سره دپښتني دود و دستور برخلاف په داسي حال کي ووژل سو، چي دده دناروغی پوښتني ته دده خپل کورته ورغلی و. د میر عبدالعزیز ددغي ناوړي وضعي له امله اولس دحاجي میرویس نیکه پر مشر زوی محمود باندي راټول سو ، هغه يې دخپل مشر په توګه وټاکه او هغه دقام دمشرانوپه سلامشوره میرعبدالعزیز وواژه . دپټي خزانې دروايت له مخي میرعبدالعزیز دنارنج له کلاڅخه ځان لاندي واچاوه او مړ سو . خوتاریخونه ټول پردې متفق دي ، چي دی د شاه محمود لخواپه ۱۱۲۹ هـ ق کي ووژل سو . میرعبدالعزیز دوه کاله پرتخت ناست و. دغه ټکي ته عبدالغفار هوتك هم اشاره کړې ده ( ۱ ) . دعبدالغفارهوتك په کورني تاریخ کي میرعبدالعزیزدمیرویس نیکه په مسمومولوتورن سوی دئ . داخبره ددغه تاریخ ترخپرېدلو وړاندي چانه وه کړې او ویل کېږي ، چي دحاجي میرویس نیکه کورنی مصلحتا خاشه پراچولې وه . خودمحمودپه لاس دمیرعبدالعزیز وژل اودشاه حسین په حکم دشاه اشرف ( دمیرعبدالعزیز دزوی ) وژل هغه غچ اخیستونکي اقدامات دي ، چي پرمیرعبدالعزیزباندي دواردسوي اتهام د سموالي پله درنوي . اشرف هوتك دپلار پرخلاف خورا ډېر مېړنی اودپوهي وتدبیر درلوونکی پښتون و، چي بیان به يې پرخپل ځای راسي .

---

( ۱ ) عبدالغفارهوتك ـ هوتکنامه ــ ۵۶ مخ ـ ۲۰۰۰ ع

دهوتکوددورې په مروجوتاریخوکي د مغضوب میر عبدالعزیز د اولادې په باب څه نه دي لیکل سوي .زما وروستیوڅېړنو ددغي اولادې ځرك په کندهار کي وايست اوددغي کورنۍ متاخرکسان درې ورونه اروابناد سردارمحمد زهیر ، شهید محمدصادق خان معلم اوحاجي محمد رحیم دي . ددوی په باب به پرخپل ځای وږغېږم .

## یحیی خان

دملي قاید حاجي میرویس نیکه بل وروړ و اوپه ټولو هغو جرګوکي یې برخه اخیستې وه ، چې په کندهارکي دصفوي واکمنوپرضددملي پاڅون لپاره دحاجي میرویس نیکه په قیادت رابلل سوي وې . کله چې ددغه پاڅون لپاره لښکري راغونډېدلې ، یحیی خان مرغې ته تللی و اودهغه ځای ملي قوتونه یې په یوه لښکر کې سره تنظیم کړل اودحاجي میرویس نیکه مرستې ته یې راوستل . دده دنورژوندپه باب زه دوېلو ډېرخه نلرم . دده زوی یارمحمد هوتك ، چې پخپل وخت کې یې ددغې کورنۍ مشرتوب پرغاړه درلود ، دهغه کورنۍ اختلاف له امله دخپل اکا میر عبدالعزیزلخوا ووژل سو، چې بیان یې دمیرعبدالعزیز په برخه راغلی دئ او لوستونکي دي یې هورې ولولي . دیارمحمدخان تر وژلو وروروسته دکورنۍ مشري دده وروړ حاجي نورمحمدخان مشهور په حاجي انګوته ورسېده . دحاجي انګو اولاده د امیر عبدالرحمان خان په وخت کې دړوب او لورلایي سیمې ته فراره سوه او د شهید محمدنادرشاه دپاچهۍ تر وخته هورې وه . ددغه پاچا لخوا د عفو فرمان ورکړه سو اوبیرته خپلې ابایي سیمې ته راوکوچېدل . د حاجي انګواولاده اوس هم دسیوري دهوتکوخانان دي .

*********

*******

***

## عبدالقادرخان هوتك

دملي قايد حاجي ميرويس نيكه ورور و. د عبدالقادر خان د ژوند حالات په تياره کي دي . نه دده او نه يې د اولاد په باب څه معلومات سته .تردې چي ددې کورنۍ عالم و محقق غړی حاجي امان الله هوتك لاهم دده په باب ډېرڅه نه لري.دومره ليکي ، چي« د عبدالقادر اولاد نسو پاته په ځوانی کي مړشو » ( ۱ ) .

**************
*************
************
***********
**********
*********
********
*******
******
*****
****
***
**
*

( ۱ ) دخپلواکی لمرخرك ـ ۱۸ ـ ۱۹ مخونه ـ لومړی چاپ .

## شامحمود هوتک

دحاجي میرویس نیکه مشر زوی ، دښالم خان لمسی اودکرم خان کړوسی و. دپلاردوفات پروخت ۱۸ کلن و څکه نو د پښتنو مشرانو جرګې دمیرویس نیکه ورور میرعبدالعزیز دحکومت مشرتوب ته وټاکه . لکه چې دمیرعبدالعزیز دپېژندني په ترڅ کي موولوستل ، په ده کي نه دمیرویس نیکه توره وشهامت و اونه عقل وتدبیرودرایت . استراحت غوښتونکی اوپه عین وخت کي دخپلوخاني ګټو مشتاق سړی و . دهوتکوپه شاهي کورنۍ کي یې اختلافونه وزیږول اوپه اولس کي یې دځان په نسبت کرکه ونفرت وپارول . هغي جرګې چي دهیواددآزادولو فیصله یې کړې وه ، دمیرویس نیکه مشرزوی ته دخپل دغه اکا دله منځه وړلو لاربنوونه وکړه اوده داکارعملي کړ . دهوتکوشاهي کورنۍ دملي او خانداني مصلحتوله امله دمحمودپه لاس دمیرعبدالعزیز دوژلو موضوع ډېره عامه نکړه . همدغه سبب دئ ، چي په پټه خزانه کي دمیرعبدالعزیزدمړیني عامل دنارنج مانۍ له بامه څخه خان رالوېدول ښوول سوی دئ .

شامحمود هوتک ته په تنکۍ ځوانۍ کي دقام او اولس اوهیواددرهبرۍ درنه وظیفه وردغاړي سوه ( ۱۷۱۷ ع ) . دده پلار دخپل مشرتوب په اته کلنه دوره کي دحلکو زړونه دومره ساتلي وو، چي ټولوپه یوه سلا ، بوه خوله اویوآواز دشاه محمود هوتک پاچهي ومنله اوله ده سره په سروومال وډېډل . دپښتنوپه تاریخ کي د پاچهی پرسر ددغه راز عام وتام توافق مثالونه ډېر لږ

پېښ سوي دي . شاه محمود هوتك زړه ورسپاه سالار و ، باشهامته اومېړنی سپاهي و ، داولس په زړوکي محبوب مشر و خوله دې ټولو سره سره دسیاست دډګر بریالی زمامدار نه و ، داځکه تنکی زلمی و اوداخبره مویایدپه پام کي وي ، چي د زمامداری له پاره سیاسي پوهه اوتجربه اساسي عنصردئ . شاه محمود هوتك دمخه تردې چي دخپل هیواد یووالی تامین کړي ، دپارس دګټلو سودا وررولوېده .وايي دايې دپلار وصیت و ، چي ده بایدپرځای کړی وای. ده دپښتنودځیروګرالبو او لوځوپښوپه لښکر اصفهان وواهه، خوکله چي دهغه هیواد د اداري واوراغی ، خپل و پردي ځیني آزرده سول . ده دیوه باکفایته سپه سالارپه توګه د جګړې په ډګر کي خپل کفایت وښود خودیوه سیاسي مشر په حیث د اداري په سمبالولوکي پاته راغی . دې حالت دزړه دوك اودمغز خوراړه ورواچول اوذهني توازن يې له لاسه ورکړ . دډېرو بېګناه انسانانودوژلوپړه یې پرځان ومنله اوپه پای کي دخپل اکا په خبر د خپلواعمالو له امله دپښتنومشرانو دجرګې له غوځ دریغ سره مخامخ سو اود هماغه اکاد زوی اشرف هوتك په لاس خلع او ور پسې ووژل سو . اشرف هوتك دې کارته دملي مصلحت په حکم غاړه کښېښوله خودشاه محمود په کورنی کي ، چي دغه وخت یې کشر ورور دکندهارپرتخت ناست و، داموضوع بل راز وګڼله سوه . دهغوی په نزد دشاه محمود وژل داشرف لخوادخپل پلار د وژلوپه بدل کي یو غچ اخیستونکی اقدام وبلل سواوکورنی بدي یې وزیږوله .دې بدی نه یوازي دډېرو پښتنوکړی ورژولې ، بلکي د

آزادی د هغه نیالګي ریښې يې هم له بېخه وچې کړلې، چې ملي قاید حاجي میرویس نیکه دخپل زړه په وینو اودتندي په خولو اوبه کړی اوثمرته رسولی و.

د شاه محمود تابوت داصفهان تر ګټلوتقریبا اته کاله وروسته د ملازعفران تره کي په همت کندهارته ورسول سو. دڅغه مېړني سپهسالار او داصفهان دفاتح قبر ومزار چاته معلوم نه دئ . دده دشخصیت اوسېرت په باب دکرونسکي په یاداښتو کي داسي راغلي دي : « شاه محمود میانه قده غنم رنګی و سترګي يې دایم په حرکت کي وې. تریوتندی ، سره ږیره ، لنډ مزغی، ډېردانضباط خاوند... و. دخپلودښمنانوپه حق کي جبار او قهار و افغانان يې بېرولي اوترخپل اطاعت لاندې راوستي وو ترداسي اندازې چې دجنګ په شدت کي هم چادده دامرمخالفت نسوای کولای . داسي سخي چې فضول خرڅه وبللل سي نه و، مګردغنیمت له ماله يې پرخپل لښکرهرڅه لورول.په جنګو کي دخپل پوخ په مخکي تلی . دخپلومطالبوپه پوره کولوبه يې اصرارکاوه . ډېر کم بیده کېدی اکثراوقات به ویښ و . نس پروري او تن پروري ته راغب نه و . هرخواړه چې به حاضر وه خوره به يې اوهرچیري چې و ، هلته به بیده کېدی . په یوه کمیس کي به په باران کي روان و اوپه هم هغه حال کي به يې پردښمن برید کاوه ... په سپرلي کي ډېرچابك و چې داس ورو ته به يې لاس ورسېد بې له دې، چې په رکاب کي پښه کښېږدي بیابه په زین کي سپور و ... په قصاص او تعذیر او تادیب کي هیچا شفاعت نسوای ورته کولای اوشرعي اوامر به يې

تېكي په تېكي اجراكول . عيش وعشرت اوشرابو ته راغب نه و . وروسته له هغه چي دشاه حسين لوريې نكاح كړه ، جاريه وغيره ته يې رغبت نه ښكاره كاوه .هرسهاربه يې نيم ساعت دخپل لښكر له زوررورو پهلوانانوسره غېږ نيوله اونوره ورځ به يې نور ورزشونه كول ... دنېزې په غورځولو كي دونه ماهرو چي هيڅكله هدف نه ځني خطاكېدى . دلښكركښيوپه وخت كي هيڅكله پرتسترو نه بيده كېدى . دشپې له خوابه به له خپلو معتمدواشخاصوسره په اردو اواصفهان په ښاركي گرزېدى . » ( ۱ ) .ويليام فلور پخپل كتاب كي ، چي فارسي ترجمه يې د « بر افتادن صفويان وبرآمدن محمود افغان »په نامه خپره سوې ده وايي : « محمود نخستين بار روزهفتم نومبر۱۷۲۲ به تخت نشست و مجلس شاهي تشكيل داد . هلنديان درتوصيف خلق و خو وهيات ظاهرى محمود مينويسند :مردى است بيست وچهارساله ، خوش ريخت ودراجراى عدالت بسيارسختگير . ميگويند هوشياراست وشبهابه بازرسى نگهبانان مى پردازد بى آنكه به وضع هوااعتنايى داشته باشد ، بيشتراوقات رادرفضاى بازوبى سقف مى گذراند » ( ۲ ) . په همدغه كتاب كي لولو چي :( ترجمه ) محمود دسلطان حسين صفوي تاج يوازي اصفهان ته دننوتلوپروخت پرسرايښى و . نوريې بياپرسركښېښنبود اوپرهغه ځاى هم نه كښېښستى، چي دسلطان حسين صفوي دناستي ځاى و ( ۳ ) .

---

( ۱ ) دخپلواكى لمرخرك ــ ۱۴۱ ــ ۱۴۲ مخونه . دكرونسكي دياداشتود ۶۲ مخ په حواله
( ۲ ) برافتادن صفويان ــ برآمدن محمودافغان ــ ازدكترويليام فلور ــ ترجمهٔ ابوالقاسم سرى ــ ص ۲۳۲ــ چاپ ۱۳۶۵ ش .( ۳ ) هماغه اثر ــ هماغه مخ

ويليام فلور دمحمودله لښکروڅخه ديوه سرتېري بيان کوي اودهغه له مخي په لښکر کي دنوموړي شهنشاه دمحبوبيت ښه بېلګه ګڼل کېدلای سي . دی ليکي « ... يك افغان كه ازسپاه خود بدور افتاده توسط دوايرانى دستگيروبه پيشگاه شاه آورده شد ، شاه ازين دزدبى درنگ پرسيد : محمودچگونه گذران ميكند وما چگونه مى توانيم اورابشناسيم ؟ مرد اسيرسكوت كرده فقط گفته : ( كدام محمود ، شاه محمود راميگوييد ؟ ) اورانخست باچماق سپس بالگدمى زنند وبه زندان مى برند »( ۱ ) .

**************

**************

*************

***********

**********

*********

********

******

****

**

( ۱ ) هماغه تېراثر ــ ۱۰۷ مخ . مادويليام فلور دکتاب اصل نه دئ کتلی . خوپه فارسي ترجمه کي يي مولف دکلماتواوداشخاصوله نامه سره دتوصيفي ترکيبونه برخه کي لاس وهلی دئ . له نوموړي سرتيري سره د « دزد » لقب زه دويليام فلور انتخاب نه ګڼم . فارسي مترجم زياتره ځايونه چي مولف دافغانستان نوم راوړی وي . حذفوي اوپرځای يي « ايران آنروز » ليکي .

# شاه اشرف هوتك

شاه اشرف هوتك دمیرعبدالعزیز زوی دښالم خان لمسی اودکرم خان کړوسی و . پلاریې دمیرویس نیکه تروفات وروسته دحکومت مشروتیاکل سو خوله صفوي دربارسره دملي ضدمراودوله امله دپښتنومشرانودجرګې په حکم دشاه محمودپه لاس ووژل سو . وايي اشرف هوتك دپلارله چلنده ناراض و خوځرګنده خبره ده چې د پلار وژني له خپلوتربروځخه مانېجن کړی و . ده که دخپل پلار ملي ضد دریځ ته دموافقې سرنه ښوراوه ، دغه رازیې دهغه وژنه هم پر زړه نسوای اورولای . وايي په دغه وخت کي دهوتکومشران داشرف پرکورسره جرګه سول ، چې دشاهي کورنی خپلمنځي اختلافونه اوخوابدی سره اواري کړي . دقام جرګې ته دواړوخواوو صلاحیت ورکړ . جرګې ددوی ترمنځ ددوو وژنو ( دیارمحمدخان او میرعبدالعزیز وژنه ) موضوع وڅېړله اوله پښتني دود سره سم یې دغه لانجه حل کړه . اشرف یې دلښکرودیوې برخي قوماندان وټاکه اوهغه له شاه محمود سره داصفهان په مهم کي دخرپ توري ووهلې . اشرف له توریالیتوب سره دپوهي په ګڼه هم سمبال و . دوراندیش اوصاحب رای سړی و . بې ځایه وژني اودخلکو اذیت یې نه خوښاوه . ځکه به نوهروخت له شاه محمودسره دهغه دناوړه کړووپرسردمخالفت تربریده دربدی . دشاه محمود دغلطیو اوسمي لاري ته دنه راتلو له امله خودوه واره مرور کندهارته ولاړ ، خودقام مشرانوبه بیرته دلاساکړ او اصفهان ته به یې ولېږه . هوري یې ترځه مودې پوري له شاه محمودسره ګوزاره سمه وه . آخر هـــــغه

بندي کړ. هغه وخت چي دشاه محمود دماغي توازن دومره وران سو چي نوريې درغېدو تمه وشلېده ، په اصفهان کي اوسېدونکو پښتنومشرانو اشرف له بنديخانې راويوست اودشاه اشرف په نامه يې د پارس دحکومت واګي وروسپارلې او بيعت يې ورسره وکړ ( اپريل ۱۷۲۵ ع ). اشرف ، ناروغ شاه محمود درنځ له کړاوه خلاص کړ او ويې واژه .

شاه اشرف ترپاچا کېدو وروسته خپله ټوله سعيه وکړه ، چي دشاه محمود په لاس زيانمن سوي اوکړېدلي اشخاص دلاسا کړي ، په اصفهان کي دخلکوپرسردمهرباني لاس تېرکړي . خودی له څلوروخواوو دروسانو ، ترکانو ، طهماسب ميرزا او افشارنادر په شان دښمنانو احاطه کړی و . له کندهاره يې دمرستي اميد نه لاره اوپه پارس کي دپاته پښتني لښکر قوت هم دمضمحل کېدو پرلور روان و . ده په تدبير او مېړانه له حوادثو سره ډغري ووهلې . روسانواوترکانوته يې دتوري زور وربښکاره کړ اوپه ځينو برخوکي يې بری هم وګاټه . خوپه پردي ملك کي په پرديو لښکروځه نه وي جوړه . دده دلښکرو زياتره برخه غيرپښتني عناصر وو . همدغه وجه وه چي دجګړې په بېلابېلوډګرونوکي يې پرله پسې ماتي وخوړلې او په پای کي يې مات زړه له ناکامه مخ پرخپله ابايي مېنه ، کندهار ونيو. دګرمسير په ريګستان کي د لکي کلي ته نژدې دعبدالله خان بلوڅ زوی ابراهيم بلوڅ ورته دشاه حسين هوتك په امر کمين نيولی و اودپښتنودغه زړه ور ، مدبر او خيرخواه زلمی ټولواك يې دژوندله نعمته بې برخي کړ ( اپريل - ۱۷۳۰ ع ).

تاریخ حزین دشاه اشرف هوتك دمړيني په باب وایي چي دبروهي بلوڅ عبدالله نامي زوی له دوو دروتنو نوروسره وواژه ؛ سربې له يوې ټوټې الماس سره ،چي داشرف پربازوتړلی و ، شاه‌طهماسب ته واستاوه . شاه الماس بیرته ورکړ اونورانعام یې هم ورولېږه ( ۱ ) .

دغه زلمي نیمه خواه ټولواك ، چي دمرګ پروخت دېرش کلن و، څلورکاله دپارس پرتخت دمارانوپرسرونوپاچهي وکړه . ده دوې ښځي کړي وې . یوه د شاه محمودهوتك خور اوبله د صفوي شاه حسین لور ورته ناستي وې ، خواولاد یې پاته نسو.

په تاریخ حزین کي دشاه اشرف دیوه ورورېادونه ستنه اووایي ، ( ترجمه ) شاه اشرف چي له اصفهانه دتېښتي په حال کي « لار » ته ورسېد . لښکریې په دغه کلاکي ځای پرځای کړ اوخپل ورورېې له څوتنواوډېروسوغاتوسره له « رومیانو » څخه دمرستي غوښتلوله پاره ددریاب له لاري بصرې ته ولېږه . خوبصرې ته نررسېدلو دمخه دشاوخواسیمو خلك پرراووتل ، دی یې وواژه اومالونه یې لوټ کړل . دتاریخ حزین مولف دشاه اشرف ددغه ورورنوم نه اخلي ( ۲ ) . دغه راز همدامولف داشرف دیوه وراره یادونه کوي چي شل کلن و او مولف د « لار » له حاکم خدا داد خان سره یوځای « دعمان په سواحلو » کي په داسي حال کي ولید چي دخلکوکورونوته یې په ژیوکي اوبه رسولې ( ۳ ) . ددغه وراره نوم یې هم نه دئ راوړی .

---

( ۱ ) حزین ــ محمدعلی ــ تاریخ حزین ــ ۸۹ مخ ــ دریم چاپ ــ ۱۳۳۲ ش ــ اصفهان .
( ۲ ) هماغه اثر ــ ۸۸ مخ
( ۳ ) هماغه اثر ــ ۸۹ مخ



ACKU

## شاه حسين هوتك

دحاجي ميرويس نيكه کشر زوی و اوکله چي يې وروړشاه محمود هوتك دپارس دنيولو پرلور له کندهاره وخوځېد ( ۱۱۳۵ هـ ق ) ، ده ته يې دکندهار تخت وسپاره او دهوتکودپاچهی د نسکورېدلو تروخته يې ( ۱۱۵۰ هـ ق ) له غزني څخه تر سيستان و هراته او په جنوب کي تر ږوب ، گومل او دېره جاتو پوري په عدل و انصاف و علمپروری پاچهي وکړه . د شاه حسين هوتك نوم د افغانستان په تاريخ کي دهغه مېړني کردار له امله تلپاتی دئ، چي د نادري اشغالگرو قواوو په مقابل کي يې يوکال وڅو مياشتي د کندهاردخوان ملي حکومت په دفاع کي سرته رسولی دئ . دده بشپړژوندليك مورته د پټي خزانې له لاري رارسېدلی دئ. ددغه روايت له مخي شاه حسين د ۱۱۱۴ هـ ق کال د لومړی خور پر درويشتمه دکلات په سيوري کي زيږېدلی دئ .ملايارمحمد هوتك ورته دفقه ، تفسير و منطق و بلاغت کتابونه لوستي وو.له شعر او ادب سره يې مينه وه اوپخپله يې هم شعر وايه .دخپلي پاچهی په جريان کي يې په سلطنتي قصر ، نارنج مانۍ کي د پوهانواو شاعرانو يو مجلس درلود او يوه کتب خانه يې جوړه کړې وه .

دغه مېړنی او علمپرور پاچا په ۱۱۵۰ ق = ۱۷۳۷ ع دافشار نادر د يرغل په وړاندي تربېساري مقاومت وروسته له تخته ليري او مازندران ته تبعيدسو . هوري يې په نادري زهرو باندي دشهادت جام نوش کړ. دده په ليري کولو سره دهوتکودېرش کلنه واکمني پای ته ورسېده .د علامه حبيبي خبره ده ، چي دغه دوره

« دافغانستان په تاريخ کي ...دداخلي نهضت او دخپلواکی غوښتني داحساس د جوش له حيثه خورا مهمه دوره ده ، ځکه چي په دغه دوره کي ...په کندهارکي دداخلي اوملي حکومت بنسټ کښېښووه سو ، چي وروسته بيا احمدشاه بابا پرهغه بنسټ دافغاني سلطنت مانۍ ودانه کړه .... » (١) .

دده داشعارو دوې نمونې زموږ په واك کي سته ، چي يوه يې د تذکره الشعراء دمولفينو ( غالبا مولوي صالح محمد هوتك ) پر لاس اوبله يې دپټې خزانې له لاري رارسېدلې ده . دتذکره الشعراء بدله په پښتانه شعراء لومړي ټوك کي هم ثبت ده .ددغي بدلي لومړی او وروستی بند به دلته رانقل کړو.

راشه دلبري تـــــه زمـــــاد زړه کتره يې
هم ته ښايسته يې
زړګی مي وينې ، ته د ناز پـــــه ننداره يې
د ګل دســـته يې
داستاپه عشق کښي مي پردی خپل کلی کورکئ
بل دي پرما اورکئ

.....

زه که پاچاحسين هوتك يـــــم ستاګدايمه
پــــه واويلايمه
داستالــــــه عشقه زه په دوه کونه رسوايمه
تل پــــه ژړايمه

---

( ١ ) دافغانستان لنډتاريخ ــ ٣٧٦ مخ ــ پښتو ټولنه ــ دتاريخ ټولنه ــ کابل ــ ١٣٥٦ ش

خپل اوښــــــــــکي مي ستادعشق دگورپه غورکي

بل دي پرما اورکي

*******

په پته خزانه کي ثبت سوي غزله.

بېلتانه دي دغـــــــــمو په چپاوچورکړم

په تياروکي دهـــجران يې له تادورکړم

بېلتانه دي هسي اوښکي راځېږې کړې

ستادفکرپــــــه ګرداب کي تل عبورکړم

دفراق پــــــړی مي کښېووت ومرۍ ته

په جهان کي يې رسـوالکه منصورکړم

په وصال دي هـــــم ناښاد يمه دلبري

دبېلتون فکرپــــــه زړه کي ناصبورکړم

دبانوغشی مي وخـــــوړپه ځکرکي

غمازانــــــوپه غمزوغمزومهجورکړم

خلك ياد زمادعشق پـــــــه لېونوکا

زه «حسين» محبت هسي مشهورکړم

*****

***

*

*

*

## بي بي زينبه

دا عالمه او فاضله مېرمن دحاجي ميرويس نيکه لوروه . په ورکتوب يې دخپل پلار ترلاربښووني لاندي دهوتکو دعصرپرلوی عالم اود حاجي ميرويس نيکه دکورني پراستاد ملا نور محمد غلجي باندي دقرآن او اسلامي فقه او فارسی کتابونه ولوستل. دکتابو دمطالعې ذوق يې درلود او دشاعرانو دېوانونه يې کتل . پخپله يې هم شعر وايه . دابي بي ډېره هوښياره او دمملکت داری په اصولو پوه ښځه وه . دېټي خزانې له روايت سره سم يې له خپل ورور شاه حسين هوتك سره د پاچهی په چارو او دستونزو په حل کي مرسته کوله او پاچا يې پرخبرو غوږ نيىاوه . کله چي پر کندهارباندي دافشارنادرلښکري راتوی سوې،دغي مېرمني له خپل توريالي ورور شاه حسين هوتك سره د جنګياليو ښاروالو پرخنګ توري وهلې اوکله چي بياپښتنو مشرانوله يوه کال کلابندی وروسته شاه حسين هوتك ته ددغه تاريخي ښاردتسليمولو مشوره ورکړه، نو نوموړي پاچاد زياترو تاريخي کتابو په متفق روايت سره د خپلي همدغي خورپه لاس مهرکړی قرآن مجيد او د متارکې پيغام دافشارنادرقواوو ته ورساوه ، چي داپخپله په سياسي چارو کي دمېرمن زينبي د بشپړ لاس لرلو څرګند ثبوت دئ .د ميرمن زينبي په باب د « عالم آرای نادری » متعصب ايراني مولف پخپل کتاب کي يو روايت راوړی دئ ، چي په دي وروستيو وختوکي يې خينو افغاني کتابو ته هم لارموندلې ده اود هغه کوټلی مطلب داسي دئ ، چي ګــويا افشارنادر پرکندهارباندي تريرغل وړاندي

شاه حسین هوتك ته د محمدبیگ قولر آقاسي په لاس د « زینب خاتون »دغوښتلو پیغام لیږلی و اوپه هغه کي یې ورته لیکلي وه ، چي ده دغه پېغله له اصفهان څخه دشاه اشرف هوتك دتېښتي پر مهال هغه وخت لیدلې وه ، چي د شاه محمودهوتك حرم او ښځي دوی ته په لاس ورغلي وې . تر دغه کتلو وروسته یې گویا له دغي افغاني پېغلي سره یې ایجاب وقبول هم کړی و ؟ او دښځو دغه ډله یې له دې وېري خوشي کړې وه ، چي دده او افغانانو ترمنځ عداوت نورهم زیات نسي ؟ اوس یې دغه غوښتنه په دې نیامت کړې ده ، چي دده او شاه حسین ترمنځ ورورولي او اعتماد منځ ته راولي او دواړه دولتونه سره یوموټي سي او وحدت ومومي ( ۱ )

دعالم آرای نادری مولف داسي ښوولې ده ، چي که شاه حسین دغه دوستي منلې وای نویه بیا دومره تاوتریخوالی منځ ته نه وای راغلی ! او څرنگه چي شاه حسین هوتك نادرته دزینبي له ورکولو ډډه وکړه او تردې اندازې په خښم سو ، چي دمرکه چیانودوژلو هڅه یې وکړه ، نونادرله اتحاد اودوستی څخه مایوسه سو اوله شپېتو زرو لښکرو سره یې پرکندهار ورودانگل.دغه مطلب دعالم آرای نادری دنورو مطالبو په شان یوه له خانه جوړه سوې افسانه ښکاري او هیڅ بل تاریخي ملاتړ یې ماونه موند . د فاتحینو لخوا د مفتوحینو شاهانو او واکمنانوښځي غوښتل کومه نوې خبره نه ده خودبي بي زینبي په باب دغه روایت کمزوری لري . لومړی داچکی چي دشاه اشرف هوتك دماتي پروخت دي بي بي

---

( ۱ ) محمدکاظم مروی ـ عالم آرای نادری ـ لومړی جلد ـ ۲۹۹ مخ ـ لومړی چاپ ـ ۱۳۶۴ ش



ACKU

زينبه په ايران كي وي اودشاه محمود هوتك له مېرمني او دحرم له نوروښځو سره يوځای دي دنادري قواوو لاس ته ورغلې وي او نادردي په سرسره ورسره كتلي وي ، يوه داسي پېښه ده چي هيځ تاريخي ملاتړ نلري . البته دشاه محمود هوتك مېرمن او دده دحرم نوري ښځي او ماشومان ، چي له نادر سره بنديان وو د اسحق سلطان او ملازعفران تره كي په منځګړتوب د دوو صفوي ښځو په تبادله كي خوشي سول اودهمدغو دوو تنوپه لاس كندهار ته ورسول سول . په دغه ډله كي دشاه محمود دوه زامن شهزاده ابراهيم او شهزاده اسماعيل او نوري ديازلس تني ښځي شاملي وې ( ۱ ) . په دوی كي د زينبي بي بي نوم هيڅ تاريخ نه دی راوړی . او دهوتكو له دې ناري څخه واضح ښكاري ، چي دشاه اشرف او نادردجګړو پروخت بي بي زينبه په كندهار كي وه او د خپلو ورېرو اودشاه محمود هوتك دتابوت په رسېدلو سره يې خان دملازعفران تر احسان لاندي بللی دئ . ناره داسي ده :

دزعفران احسان مي زړه ده وروره وړی

يومې راوستل ورېرونه بل يې دئ دشاه محمود تابوت راوړی

له بلي خوامورته څرګنده ده ، چي دهوتكوپه واكمنه كورنی كي د ميرعبدالعزيز تر وژل كېدو وروسته كورنی بدي روانه وه اودهغې په نتيجه كي شاه محمودهوتك دميرعبدالعزيز د زوی شاه اشرف هوتك په لاس ووژل سو . دې پېښي دشاه حسين هوتك اوشاه اشرف هوتك ترمنځ دښمني دومره سخته كړه ، چي دشاه حسين

---

( ۱ ) دخپلواكۍ لمرځرك ـ ۲۴۳ مخ

هوتك له خوا اشرف ته په ډېره بده ورځ کي هيڅ رازمرسته ونه لېږل سوه اوداصفهان تخت دپښتنوله لاسه ووت . کله چي شاه اشرف د نادري قواوو له لاسه په ماتې گرمسيرته ورسېد ، دشاه حسين هوتك په امردابراهيم بلوڅ په لاس ووژل سو . نو دداسي دښمنيوپه شته والي کي به آيا شاه حسين هوتك دې ته حاضرسوی وي ، چي خپله خورزينبه دخپل دښمن تربور شاه اشرف په حرم کي پرېږدي ؟ عقل و درايت داخبره نسي منلای .

دعالم آرای نادری د ليکوال دانظر خوديوه ايراني متعصب په توگه دحيرانتيا وړ نه دئ .مگر افغاني څېړونکي بايد دده په روايتونو کي هغه څه انتخاب کړي ، چي تاريخي استنادې پياوړی وي . نادرافشار دافغانستان اوهندوستان دلاندي کولو لويې نقشې په سرکي درلودې او داخبره له حقيقته ليري ده ، چي دی له پښتنو سره دوروړی او اتحاد راوستلو په لټه کي و .ده د هرات پرابدالي‌وباندي د برلاسی په لارکي هيڅ راز وسيله ونه سپموله اودکندهارپه نيولو کي يې هغه رازبېرحمی وکړې لکه نورو اسلافو چي يې کړي وې . زمورداستادپوهاندرشاد صاحب دخولې خبره ده ، چي دکندهارخلکو افشارنادرته «خوني نادر» وايه اوداځکه چي دی دپښتنوقاتل و .داچي ويل کېږي ده له پښتنوسره پام کاوه اودجنگ ترپای ته رسېدو وروسته به يې دهغوی ښارونه نه چورول ، له تاريخي شواهدوسره سرنه خوري . که ده د پښتنو ښارونه نه چورول او هغوی يې نه قتل غامول ، نود کندهار زوړ ښارچاله خاوروسره برابرکړ؟ داخودبي بي زينبي په بحث کي يوه

ضمني خبره وه ، چي رامنځ ته سوه .بي بي زينبي دخپل وروړشاه محمودهوتك پرمړينه يوه وېرنه ويلې ده ، چي ټول متن يې زموږ په ادبي تاريخو كي راغلی دئ او زه به يې يوه برخه دلته رانقل كړم .

بړغ سوچي ورور تېرله دنياسونا
كندهار واړه پــــه ژړاسونا
زړه مي په ويــركي مبتلاسونا
چي شاه محمود له مــاجداسونا
داروڼ جهان راتـه تورتم دئ نا
زړه د بېلتون پـه اوركړم دئ نا
هوتك غمجن په دې ماتم دئ نا
دپاچهی تاج مو بـــرهم دئ نا
چي شاه محمود تېرله دنياسونا
كندهار واړه پــــه ژړاسونا

*****

بي بي زينبه په هغه ډله كي مازندران ته تبعيد سوه، چي افشارنادرله شاه حسين هوتك سره يوځای مازندران ته وشړله . نور يې دمرگ وژوند پته وركه ده . دكندهارپه زاړه ښار كي دسرپوزي د غره پرسر يوه كلا ستـه ، چي دزينبي كلا نومېږي اوددغي عالمي اوتوريالی پښتنې ياد په تازه كېدلای سي .

*****

****

*

## اسماعیل هوتک او ابراهیم هوتک

دشاه محمود هوتك زامن وو . كله چي شاه اشرف هوتك له شیرازه راووت، د شاه محمود دوه زامن شهزاده ابراهیم او شهزاده اسمعیل له دیارلسو تنو ښځو او کوچنیانوسره یوځای له نادرافشارسره بندیان پاته سول ، چي وروسته بیا دملازعفران او اسحاق سلطان ناصر په منځګړتوب د دوو تنو صفوي ښځو په تبادله کي ، چي له افغانانو سره اسیري وې ، راخوشي سول او د ملازعفران په لاس کندهار ته راوستل سول . دهوتکو په یوه ناره کي د حاجي میرویس نیکه د لور زینبو له خولې وایي :

د زعفران احسان مي زړه ده وروره وړی
یومې راوستل وروړونه بل یې دئ دشاه محمود تابوت راوړی

اسماعیل او دده ورور ابراهیم دشاه حسین هوتك دپاچهی ترپایه په کندهارکي واوسېدل خومقدراتوېي مړینه دافشارنادرپه زهروتسجیل کړې وه . دادوه وروڼه په هغه ډله کي شامل وو، چي د شاه حسین هوتك او نورو پښتني مشرانو سره یوځای د افشارنادر په امر دکندهار ښار تر سقوط او دهوتکو دپاچهی تر نسکورېدلو وروسته ( ۱۱۵۰ هـ ق = ۱۷۳۷ ع ) دایران مازندران ته شړل سوې او هورې له شاه حسین هوتك او کورنی سره یوځای مسموم سوې وه ( ۱ ).

( ۱ ) ددې پېښې دتفصیل لپاره وګورئ : تواریخ خورشیدجهان ــ ۱۶۱ مخ ــ د ۱۸۹۴ ع چاپ



ACKU

## دوست محمدخان هوتک

دوست محمد خان هوتک یو له هغو نومیالیو څخه و، چي پر کندهارباندي دافشار نادر دتاړاك اوددغه ښار دنیولو په جګړو کي یې د هیواد او ناموس دخوندي کولو لپاره دخرپ توري وهلي وې او « دکندهار دتسلیمېدلو تروروخي یې توره له ملا نه وه خلاصه کړې .... » ( ۱ ) . د دوست محمدخان هوتك له نامه سره موږ د « عالم آرای نادری » نومي کتاب له لاري آشنا کېږو . هوري یې دی د شاه حسین هوتك د اکا زوی بللی دئ خودایې نه ده څرګنده کړې، چي دشاه حسین هوتك دکوم کاکا زوی و. په نورو منابعو کي ماته د دوست محمدخان نوم په مخه نه دئ راغلی .

وایي کله چي دنادرلښکر دملاآدینه بیګ په مرسته او خدعه د چهل زینو برج ته وختل ، شاه حسین شل زره تنه د همدغه دوست محمد خان اوسیدال خان ناصرپه مشری ورولېږل .د « عالم آرای نادری » خپل روایت داسي دئ : « چون حسین شاه افغان ، صدای غلغله وآشوب و سرنج و نای زرین و سیمین قزلباش راملاحظه نمود در دم به قدر بیست هزارنفربه سرداری دوست محمد خان بنی عم خود وسیدال خان روانهٔ سر راه غازیان جلادت نشان نمود .... » ( ۲ ) .

ماته دومره څرګنده ده چي د دچهل زینو د برج دنیولو پروخت سیدال خان ناصرد نادري قواوو لخوا نیول سوی او په دواړو

---

( ۱ ) هرات . پښتانه او ستره لویه ـ ۱۴۹ مخ ـ دوهم چاپ

( ۲ ) عالم آرای نادری ۲ / ۵۴۸ مخ

ستر گو ړوند کړه سوی و، څکه نود عالم آرای نادری دغه روایت دهغه د یولړ نورو رِوایتونو په شان دتامل وړ دئ . د دوست محمد خان هوتك د سرنوشت په برخه کي هم دعالم آرای نادری روایتونه له تناقضه ډك دي . په ۵۵۱ مخ کي وايي چي نادر افشاردکندهار تر فتح وروسته دوست محمد خان دشاه حسین له کورنۍ او د غلجیو دقوم له نورو نارینه وو اوښځوسره « ری و شهریار»(۲) ته ولېږه . خوپه ۵۵۲ مخ کي بیا وايي چي دوست محمد خان يې له یوشمېر غلجیو مشرانوسره » دموسی خان دانکی دوژلو پروخت په قتل ورسول . د موسی خان دانکی دوژلو پېښه دکندهار تر فتح وروسته په همدغه ښارکي واقع سوې وه .

**********

******

****

**

*

*

*

*

*

*

---

( ۱ ) په جهانکشا ی نادری ( ۳۰۲ مخ ) کي ویل سوي ، چي شاه حسین هوتك يې مازندران ته ولېږه . دغه روایت زیاترو منابعو تایید کړی دئ .

## حاجي نورمحمدخان مشهور په حاجي انگو

دحاجي انگو نوم د پښتو خزانې په گڼون په نورو مروجو تاريخوکي محمدخان ثبت سوى دئ خود حاجي ميرويس نيکه د کورنى معاصرفرهنگي شخصيت، مورخ او مشر اروابنادحاجي امان الله هوتك يې پخپل تاريخ ( دخپلواکى لمرڅرك ) کي نوم نورمحمدخان ليکلى دئ .( ۱ ) حاجي انگود حاجي ميرويس نيکه د وروريحيى خان زوى او دښالم خان لمسى و. د زوکړي دقيقه نېټه يې ماته معلومه نه ده خو دومره ويل کېږي ، چي له صفوي استعمارڅخه د کندهاردخلاصون په مبارزو کي تېر ځوان و اوله خپل پلار او اکا ملي قايدحاجي ميرويس نيکه سره اوږه پراوږه ولاړ و. حاجي ميرويس نيکه پخپل دغه ورواره کي د لويى نخښي ليدلي وې ځکه يې نو په سفر او حضر کي له ځانه نه ليري کاوه . کله چي حاجي ميرويس نيکه د گرگين دمظالمولو املة اصفهان ته په فرياد ولاړ او هورې د پارس صفوي دولت د نظر بند په توگه وساتل ، زمونږ تر بحث لاندي نورمحمد خان ( حاجي انگو ) ورسره و . دوى دواړه يوځاى د بيت الله شريف په زيارت مشرف سول . حاجي انگو په ټولو هغو جرگو کي فعاله برخه درلوده ، چي د ملي قايد لخوا له صفوي استعمار څخه د ژغورني په ملحوظ

---

( ۱ ) ښاغلي حبيب الله رفيع د هوتکنامي په تعليقاتو ( ۸۵ ــ ۸۶ مخونو ) کي دعبدالغفارهوتك ديوه بيت په استناد دحاجي انگو نوم « پيرمحمد خان » کښلى دئ . بيت داسي دئ :

حاجي انگو پيرمحمد جان        پسي ولاړ لـــــه خراسان

زماکومان دادئ . چي پيرمحمد جان د حاجي انگو دسفر ملگرى و . په دغه نيم بيتي کي دشاعر مرادِ دوه کسان دي : حاجي انگو او پيرمحمد جان .( م . هوتك )

دپښتنو مشرانو په ګډون رابلل سوي وې . حاجي انګو د « ده شيخ » په تاريخي جګړه کي ، چي د سفاك ګرګين د وژلو په مقصد وسوه ، ديوه غښتلي جنګيالي په توګه ګډون درلود اود عبدالغفارهوتك د وينا له مخي دوې ګولۍ ويشت سوی و .دی وايي:

حــاجي انګولکه زمــری پــر کافــريې و غرڅی
ډېر کفاريې کـــړه مردار باندي وې نشــومــدار( ۱ )
حـــاجي انګـــو و دلاور دوه مـــردك پـــر برابر
جاجي ميرخان ويل « هوتکو ! حاجي انګو واخلئ له مردکو!»
نـــورده ووېل اکاتــه : « ولاړ به نه سم وهيڅ خــواته
چي زه ولاړ ســم لـــه ميدانه
جنګ به څوك کړي زماجانه ! »( ۲ )

حاجي انګو په کندهارکي دملي حکومت تر جوړېدو( ۱۱۱۹ ق = ۱۷۰۷ ع ) وروسته د ډيلي دربارته د لومړني افغان ديپلومات په توګه ولېږل سو. هغه دربار ورته په ډېره درنه سترګه وکتل او يو پيل او لس هزاري جاګير يې ورته منظورکړ . په جاګير کي يې ديره جات ( ديره اسمعيل خان ، ديره غازی خان ) ، بنو او د ملتان ځيني برخي شاملي وې ( ۳ ) « حاجي انګو ترڅو مړکيدئ دکلات د جختران په سيمه کي دهوتکو سردار و .» ( ۴ )

---

( ۱ ) په « هوتکنامه ـ ۳۱ مخ » دانيم بيتی « باندي نه وشو مدار » دئ . ما دحاجي امان الله خان هوتك دتاريخ « دخيلواکی لمرخرك ـ۵۷ مخ » ثبت اخيستی دئ . هوتکنامه د عبدالغفارهوتك منظوم تاريخ دئ .چي دبناغلي حبيب الله رفيع په همت په ۱۳۷۹ ش کال دپښتو يون ( نيويارك ـ امريکا ) لخوا چاپ سوی دئ . ( ۲ ) په هوتکنامه کي « جنګ به څوك که زماجانه » دئ . ( ۳ ) دخپلواکی لمرخرك ـ ۲۹۸ مخ ( ۴ ) تاريخي پلټني ـ ددمقالومجموعه ـ دپوهاند رشادمقاله ـ ۱۲۰ مخ



ACKU

دده د مړيني نېټه هم څرګنده نه ده . قبر يې د کلات په سيوري کي د ښه بولان په هديره کي څرګند دئ . دسيوري دښالم خېلو سرخېل زياتره د ځاجي انګو نيکه اولاده ده .

**********

********

******

*****

****

***

**

*

*

*

*

*

*

*

*

**

***

****

*****

## یارمحمدخان هوتک

د حاجي میرویس نیکه وراره کېدئ ، د یحیی خان زوی او د مشهورحاجي انګو ورور و . دده په باب عبدالغفار هوتک پخپل تاریخ کي ، چي اوس د هوتکنامې په نوم دښاغلي حبیب الله رفیع پر لاس خپور سوی دئ ، یو لړ نوي مطالب لیکلي دي، چي په نوروتاریخوکي نسته .« دخپلواکی لمرخرک »یوازنی اثردئ ، چي دغه برخه یې د عبدالغفار هوتک له تاریخه اخیستې ده .کیسه داسي ده : د حاجي میرویس نیکه تر ملي پاڅون وروسته صفوي حکامو درې واره پر کندهار لښکري راوبهولې او هرواریې شرمولې ماته وخوړه . تر دغو ماتو وروسته یې په پټه د حاجي میرویس نیکه کورنی ته دبې اتفاقی اچولو په نیت لاس رااوږد کړ او ددغي کورنۍ یو کمزور شخصیت ، دحاجي میرویس نیکه ورور عبدالعزیزخان یې تطمیع کړ اود پاچهی نیولو ته یې وهڅاوه . ده حاجي میرویس نیکه ته زهر ورکړل او هغه یې په زهرو شهید او خان یې پاچااعلان کړ . له دې اعلان سره سم یې دپارس له دولت سره دروغجي جوړي لاره پېشنهاد کړه . دده له دغه پېشنهادسره نه اولس موافقه درلوده او نه هم دحاجي میرویس نیکه کورنی . په دغه وخت کي د حاجي میرویس نیکه په کورنی کي دحاجي انګو ورور یارمحمد خان دکوړنی مشرتوب پرغاړه درلود . ده له خپل اکا عبدالعزیز سره ددښمنی تر سرحده مخالفت وکړ . عبدالعزیز په دغه وخت کي ناروغ سو او یارمحمدخان یې پوښتني ته کورته ورغی.دعبدالعزیزخان نفرو یارمحمد خان په هغه کور کي وواژه .

دمیرویس نیکه په کورنۍ کي داخبره تیت سوه او داولس په مصلحت عبدالعزیز خان ووژل سو ( ۱ ) اوپرځای یې د میرویس نیکه مشر زوی اتلس کلن محمود پرتخت کښېناوه . میرویس نیکه ته دخپل ورور لخوا دزهرو ورکولوپېښه ددوی په کورنۍ کي مصلحتا پټه ساتل سوې او تاریخونوته یې لار نه وه کړې خو عبدالغفار هوتك پخپل تاریخ کي دغه پېښه ثبت کړې وه .هورې لولو:

په زهـــروپې شهید حاجي میرخان که .
حکومت یې برادربیاعزیزخان که ( ۲ )

ددې پېښي تفصیل د هوتکنامې له ۱۳۶! بیت څخه تر ۲۲۸ بیت پوري راغلی دئ. لوستونکي یې هورې لوستلای سي .

د یارمحمد خان نور حالات ماته معلوم نه دي . دومره راته معلومه ده چي دګرګین دوژلو په پېښه کي د حاجي میرویس نیکه ډېر باوري ملګری و .

******
*****
****
***
**
*

---

( ۱ ) پټه خزانه لیکي ، چي عبدالعزیزخان دنارنج ماڼی له بامه خان راواچاه او مړ سو .

( ۲ ) هوتکنامه ــ ۴۲ مخ

# محمدخان هوتك

د حاجي میرویس نیکه لمسی اودشاه حسین هوتك زوی و . محمدخان دخپل علم پرورپلارپه لارښوونه لومړنی زده کړې دهوتکودعصرله پیاوړي عالم مدارالمهام اوصدرافاضل ملازعفران تره کي څخه بشپړي کړې . په تنکی ځواني کي یې دهیواددفاع لپاره توره غاړي ته واچوله اودنادري لښکرو پرضد یې دمېړني سپه سالار سیدال خان ناصر تر رهبری لاندي دکلات دکلا په مدافعه کي برخه واخیستله . کله چي دکلات کلادپښتنوتر اتلوال مقاومت وروسته دافشار نادردلښکرو لخواونیول سوه ، محمدخان هوتك دنادري لښکرو لاس ته ورغی اوولچك و زولانه یې کندهار ته راووست . ترهغه وخته یې له ځان سره ساتلی و ، چي د ښاریانومقاومت تریوکلني کلابندی وروسته ختم سو اوشاه حسین هوتك دښارتسلیمولوته غاړه کښېښووله . نادر نوموړی پاچا له خپلي کورنی سره مازندران ته تبعید کړ ، چي محمدخان هم پکښې و .د محمدخان په ګډون دغه ټوله ډله هوري په زهرو مسموم سوه .د هوتکوپه یوه ناره کي کندهارته د محمدخان ولچك و زولانه راوستل داسي بیان سوي دي :

لبونی له ډېره ګرومه پښتنې دي
محمدخان نادرنیولی په پښو کي یې بې ډوله زولنې دي

*******

****

**

# غازي نورالله خان هوتك

نورالله خان د حاجي انګو دریم زوی دئ . د شاه محمود هوتك سره د اصفهان دنیولو په جګړه کي ملګری و . د شاه حسین هوتك د پاچهی په وروستیوکلونوکي د دېره جاتو حاکم و او دغه وظیفه یې د کندهار د سقوط تر وخته پر غاړه وه . د لوی احمد شاه بابا ( ۱۱۶۰ ـ ۱۱۸۶ ق ) په واکمني کي هم له نظره ونه لوېد او د اخلاص قلیخان لقب ورکړه سوی و( ۱ ) .اروا ښادعلامه پوهاند رشاد د لوی احمد شاه بابا په پوځي سوبو کي د غازي نورالله خان هوتك د ونډي په باب لیکي « ... په ۱۱۷۰ هجري قمري کال چي لوی احمدشاه بابا څلورمه پلاپرهندوستان بریدکاوه ، نورالله خان ورسره و.له پېښورڅخه چي شهزاده تیمور اوسردارجان خان سپهسالار ددوهم سرلام(قراول )په توګه وګمارل سوه،چي د دوابې د حاکم آدینه بیګ ( ۱۱۷۳ هـ ق مړ ) دځپلوپه نیامت پرآدینه نګرباندي بریدوکړي . په دغه دوهم سرلام کي د هوتکو یوفوج د نورالله خان ترمشرتابه لاندي و. دلوی احمدشاه باباله خواچي لومړی وارډهلی نیول کېده ، نورالله خان هم دیوه پښتانه خان په توګه برخه پکښې اخیستې وه . په ۱۱۷۳ هـ ق کال چي لوی احمدشاه بابا له مرهټو سره د غزاله پاره پنځمه پلا

---

( ۱ ) تاریخي پلټني ـ دمقالومجموعه ـ دپوهاند رشادصاحب مقاله ـ ۱۲۱ مخ . نورمحمد نوري په ګلشن امارت ۱۷۹ مخ کي دغه لقب « خواص قلیخان » لیکلی دئ . دغه راز یې حاجي انګو د حاجي میرویس نیکه وروربللی. چي سم نه دئ . حاجي انګو د میرویس نیکه وراره و . په تواریخ خورشید جهان ( ۲۱۸ مخ ) او د خپلواکۍ لمرځرك ( ۳۱۰ مخ ) کې راوړي دي . چي نورالله خان هوتك ته د اخلاص قلیخان لقب تیمورشاه ورکړی و .

هندوستان ته تئ ، هم نورالله خان ورسره و . د پښتنولښکروسرلام ( قرلول ) فوج چي د دريمي خورپه څلورمه ورځ دسردارجان خان په مشری دختيزپنجاب په تراوري نومي ډاگ کي له مرهټو فوجونوسره ونښت . لوی احمدشاه بابا دختيزپنجاب له دوآبې څخه شاه پسندخان ساگزئ اونورالله خان (اخلاص قلیخان) هوتك وگمارل چي له خپلو قبيلوي فوجونوسره د دوهم سرلام ( قراول ) په توگه دسردارجان خان مرستي ته ژرځانونه وروړسوي ... دپاني پت په لويه اومشهوره غزاکي چي د ۱۱۷۴ ق کال دڅلورمي خور په اوومه ( ۱۴ جنوري ۱۷۶۱ ع ) دپښتنوغازيانواومرهټوترمنځ سوېده هم غالبا نورالله خان گډون درلود . »

حاجي امان الله خان هوتك پخپل تاريخ کي ليکي ، چي نورالله خان هوتك ته دتيمورشاه لخوا « خپل پدري جايگير د ډېره جاتو، بنو او ورگون ماليه ورکړه سوه او اخلاص قلي خطاب يې ورکړ . » له دې عبارته داسي ښکاري ، چي دنورالله خان هوتك لپاره د اخلاص قلي لقب د تيمورشاه لخوا هم په رسميت پېژندل سوی و. عزيزالدين وکيلي په دره الـزمان ۴۱۶ مخ کي د « زعمای ملی و ملتزمان رکاب شهنشاه زمان » په لست کي د « نورالله خان ملقب به اخلاص قلی خان ولد حاجی انکوخان زعيم ملی » نوم هم اخلي ، چي فاضل استاد پوهاند رشاد صاحب يې د تامل وړ بولي ( ۱ ) . موږ ته څرگنده نه ده ، چي نورالله خان هوتك به تر کومه وخته ژوندی وخوقبر يې د سيوري د ښه بولان په هديره کي څرگندئ .

---

( ۱ ) تاريخي پلټني ـ ۱۲۵ مخ

## حاجي عبدالغفورخان هوتك

د حاجي نورمحمد خان مشهورپه حاجي انگو پنځه تنه د نامه څښتنان زامن پاته سوي دي ، چي په هغو کي يې مشر زوی حاجي عبدالغفورخان هوتك و . دی دشاه حسين هوتك د پاچهی په وخت کي د کلات حاکم او پرکندهارباندي د افشار نادر دتاړاك تر وخته ( ۱۱۵۰ ق ) پـردغـه وظـيـفـه پـاتـه و. تـر ده وروسته د کـلات حکمراني د حاجي ميرويس نيکه د ماما حاجي عادل خان ( ۱ ) په لاس کي وه . ده د شاه حسين هوتك دپاچهی په زمانه کي د ترنك پرغاړه يوه پخه کلا جوړه کړه . د حاجي عادل خان زوی بايي خان به له دغي کلا څخه د هوتکو پر کلاوو ، چي د ترنك پر دابله غاړه واقع وې ، بريدونه کول او هوتك به يې ځورول . هوتکو د حاجي انگو په مشری ناڅاپي بريد پر وکړ ، بايي خان په جگړه کي ووژل سو او دکلات حکمراني د توخو له لاسه ووتله . له دغه وخته دکلات واکمني د حاجي عبدالغفور هوتك لاس ته ورغله .( ۲ )

*****

****

***

**

*

---

( ۱ ) حاجي عادل خان دسلطان ملخي توخي زوی و ، چي دپلارترمرگ وروسته يې له خپل زوی بايي خان سره يوځای پرکلات اوملحقاتوباندي واکمني چلوله .

( ۲ ) تاريخي پټه‌ني ــ د پوهاند رشاد صاحب مقاله ــ ۱۱۹ مخ .

## حاجي عبدالرسول خان هوتک

د حاجي انگو دوهم زوی او په حاجي رسول خان سره مشهور و. کله چي افشار نادر دکندهار ښار محاصره کړ، حاجي رسول خان د اوسني پکتيا ولايت د سر روضې سيمي ته د خروټو او سليمانخيلودمرستي جلبولو او د نادرپرضد ديوه لښکر د راغونډولو په نيت تللی و . دی لا له دغو قومونو سره په خبرو بوخت و ، چي د کندهار د سقوط خبر ور ورسېد . سمدلاسه يې يو لښکر د همدغو قومونو په مرسته جوړ او مخ پر کندهار رارهي سو . په شيبارکي يې له نادري قواوو سره مخامخ او خورا دمېراني جگړه يې وکړه .

حاجي امان الله خان هوتک پخپل تاريخ « دخپلواکی لمرځرک » کي ۳۱۰ مخ کي ليکي « دحاجي رسول خان قبر دکابل په شهدای صالحين کي دئ . د جانبازدزيارت ختيځي خواته دغره په اخيري ډډ کي دوې گمبتي دي ، چي يوه دسرلخوانړېدلې ده بله يې روغه ده . په روغه گمبته کي دحاجي رسول خان قبردئ خودده دسر ډبره نسته ....» نه پوهېږم چي دغه گومبتي به د وروستيوتنظيمي جگړوپه بهېرکي روغي پاته سوي وي که يا ؟

*****

****

***

**

*

## حاجي عبدالرحمان هوتك

دی هم د نورمحمد خان مشهور په حاجي انگو زوی و . دده په باب نورڅه معلومات لاس ته رانغلل . نوم يې د تواريخ خورشيد جهان د ( ۲۱۰ مخ ) په شجره کې د حاجي انگو په زامنو کې راغلی دئ او څرگنده کړې يې ده ، چې له حاجي عبدالرحمان هوتکه د شيرشاه په نامه يو زوی هم پاته دئ .

## عبدالجبار خان هوتك

عبدالجبارخان هوتك د حاجي انگو پنځم زوی دئ . زوی يې عبدالغفار هوتك نوميدئ ، چې وروسته به يې مفصل بيان راسي .

***********

*******

*****

****

***

**

*

*

*

*

*

# خان خانان عبدالرحیم خان هوتك

عبدالرحیم خان هوتك دغازي نورالله خان هوتك مشر زوی د حاجي انگو لمسی او د یحیی خان کړوسی و . یحیی خان د حاجي میرویس نیکه وروړکېدی . عبدالرحیم خان هوتك د سدوزي شاه زمان د دربارله لوړو « امراوو » څخه و . لور یې صاحب جانه په شاه زمان سدوزي واده وه . نوموړي پاچا ورته د « خان خانان » لقب او د ډېره اسمعیل خان حکمراني ورکړې وه . په ۱۲۱۶ هـ ق کال ، چې د شاه زمان او شاه محمود سدوزي تر منځ مخالفت پېښ سو او ددغه مخالفت په نتیجه کې د سدوزي شاه زمان سترگي د شاه محمود په امر ړندې سوې ، خان خانان عبدالرحیم هوتك د خپل زوم پرسیلمه ودرېد اویوکال وروسته یې پر ځان د عبدالرحیم شاه نوم کېښود، شهاب الدین خان توخی یې خپل وزیر وټاکه ( ۱ ) او سدوزي شاه محمود ته پورته سو. وکان ذلك فی ( ۱۲۱۷ ق ) .له همدې امله د سره غره دېوان لرونکی شاعر جانان فدوی دخپل اصل ونسب او ځای ځایگي دبیان په ترڅ کې عبدالرحیم خان د « شاه » په لقب سره ستایي . دی وایي :

په مرغه کېنې زماځای زمامسکن دئ
په اولاد کېنې دعبدالرحیم شاه هوتکي
دا حدود دي د کلات پـه نواحي کېنې
دا ټـول غـواړم د ښه خدای په پناهي

---

( ۱ ) شهاب الدین خان توخی د رحمت خان توخي زوی او د الله یارخان لمسی و ( خورشید جهان ــ ۲۱۸ مخ )

عبدالرحیم شاه یوکال وجنگېد ، په پای کي مغلوب سو او بیرته خپلي ابایي مېني ولاړ ( ۱ ).

علامه حبیبي په « تاریخي پښتلیك » کي د ۱۲۱۸ هـ ق کال دپښتو په ترخ کي لیکي « غلجیان چي شاه محمود ته یاغي سوي وو په سجاوند کي مات سول اوددوی مشرعبدالرحیم خان او دوه زامن یې په توپ کي والوزول سوه » ( ۲ ) .

**********

********

*******

******

*****

****

***

**

*

*

*

*

*

---

( ۱ ) پښتانه شعراء ــ دریم ټوك ــ د ۶۹۸ مخ حاشیه

( ۲ ) سجاوند په لوګر کي دیوي سیمي نوم دی .

## میرعلم خان هوتك

میرعلم خان هوتك دخان خانان عبدالرحیم خان هوتك زوی د غازي نورالله خان ( اخلاص قلیخان ) لمسی او د حاجي انگو کړوسی و. پلار يې د سدوزي شاه زمان ( ۱۲۰۷ ـ ۱۲۱۶ هـ ق ) له « زبده امراوو » څخه و. عبدالرحیم خان هوتك په ۱۲۱۷ هـ ق کال سدوزي شاه محمود ته پورته او تر یوکال هلوځلو وروسته مغلوب سو. کورنی يې تاك لتاکه او لالهانده سوه . میرعلم خان هوتك په دغه وخت کي د سیوري په سیمه کي پخپل پلرني ټاټوبي کي د فلاکت ژوند تېراوه . کله چي شاه شجاع سدوزی د ۱۲۵۵ هـ ق په پای کي د انگرېزي لښکرو په مرسته او ملتیا له لودیانې څخه دتخت وتاج د گټلو په نیامت مخ پر کندهار راروان سو، میرعلم خان يې مخي ته د هرکلي لپاره ورغی . شاه شجاع دېره درنه وضعه ورسره وکړه او کله چي يې کندهار و کابل ونیو، دکلات حکمراني يې میرعلم خان هوتك ته ورکړه . د شاه شجاع تر وژلو ( ۱۲۵۸ هـ ق ) وروسته میرعلم خان په کندهار کي دشهزاده صفدرجنگ په خدمت کي و . یو کال وروسته چي سردارکهندل خان د کندهار واکمنی ته ورسېد ،د کلات واکمني يې بیا هم نوموړي میرعلم خان ته ورکړه چي داخل يې د واکمنی موده د امیر دوست محمد خان او امیرشیرعلیخان د پاچهیو تر زمانو پوري دوام ومومند . میرعلم خان له امیردوست محمد خان سره دومره وفادار و ، چي د توخیو بغاوت کي يې د نوموړي امیر په پلوی له خپلو زامنو سره یوځای د خرپ توري ووهلې . وایي په دغـه جگړه

کي د میرعلم خان هوتك زوی محمد افضل خان سره له دې چې پر زنګانه یې کاري ټپ خوړلی و، بیا یې هم په دواړولاسو توري چلولې (۱) میرعلم خان هوتك په ۱۲۸۶ هـ ق کال له خپلو دوو زامنو محمد افضل خان او عبدالله خان سره یوځای دپاچهي جنډه پورته کړه او ترڅو سختو جګړو وروسته یې ماته وخوړه اوله خپلې ټولي کورنی سره کاکړستان ته بارسو. دمیرعلم خان د مړیني نېټه ماته څرګنده نه ده . شیرمحمد ګنډاپور په تواریخ خورشید جهان کي د هوتکو په بیان کي لیکي « بالفعل درینقوم میرعلم خان نبیره زادهٔ عبدالرحیم خان هوتك و سدوخان ، خانان کلان اند » خورشید جهان په ۱۳۱۱ هـ ق لیکل سوی دئ څکه نود میرعلم خان ژوند تردغه کال پوري یقیني ګڼل کېږي . دا کال د امیر عبدالرحمان خان ( ۱۲۹۷ ـ ۱۳۱۹ هـ ق ) دپاچهي څورلسم کال دئ .

*********

********

*******

******

*****

***

*

---

( ۱ ) نوري نورمحمد ـ ګلشن امارت ـ ۱۲ مخ

# عبدالغفار هوتک

عبدالغفار هوتک د پښتو ژبي شاعر او د هوتکودتاريخ ليکونکی دئ .دده کليات اوتاريخ د ښاغلو حبيب الله رفيع او زلمي هيواد مل لخوا ددوی د هغه سفر په ترځ کي پيدا سول ، چي په ۱۳۵۵ ش کال يې د کلات سيوري ته کړی و او هورې يې د خان امان الله خان په مرسته د پښتو ورکو آثاروپه باب پلټنې کولې (۱) . خو پښتني دنيا ددغه مشهور شخصيت او دهغه د آثارو په باب د هغي مقالې له لارې خبرسول ، چي فاضل استاد پوهاند عبدالشکور رشاد د « دوه سوه کاله پخواني نوم ورکي شاعر: عبدالغفارهوتک » تر نامه لاندي کښلې او په « تاريخي پلټنې » نومې مجموعه کي په ۱۳۵۷ ش کال خپره سوه . د عبدالغفار هوتک د اشعارو او تاريخ د موندلو په زړه پوري داستان دي درانه لوستونکي په « هوتکنامه » کي ولولي . زه به دلته دده د ژوند او آثارو په باب د فاضل استاد رشاد صاحب د ځېرنواودهوتکنامې د سريزي له مخي يوه لنډه شانته يادونه وکړم .

عبدالغفارهوتک د عبدالجبار خان هوتک زوی د حاجي انګو لمسی اود يحيی خان کړوسی کيږي . د زيږيدني وخت يې د لوی احمدشاه بابا ( ۱۱۶۰ ـ ۱۱۸۶ هـ ق ) په پاچهۍ کي اټکل سوی دئ. دی پخپلو اشعارو کي تيمورشاه سدوزي ( ۱۱۸۶ ـ ۱۲۰۷ هـ ق ) ته د برحاله پاچاپه توګه خطاب کوي ، د تلوکان ملاحسن اخوند

---

( ۱ ) هوتکنامه ـ د عبدالغفار هوتک اثر ـ د حبيب الله رفيع په سريزه ـ ۴ مخ ـ ۱۳۷۹ ش چاپ

ساکزی ( ۱۲۴۵ هـ ق ) دخان معاصر رانبیي او دپوتي د میاصاحب نورمحمد داوي یادونه هم د حال په صیغه کوي . له دې قراینو څخه دده د ژوند زمانه د تیمورشاه او زمانشاه د پاچهیو وختونه اټکل سوي دي .

کل پښتون یې په آرام که
د تیمورشه پاچهي ده ( ۱ )

....

چي د زړه خبري کاندي
ملاحسن اسحاق زيي ده

...

چي دېر وږي یې ماړه کړل
نورمحمد داوی سخي ده

د مړيني نېټه یې هم د اټکل له مخي د دیارلسمي هجري پېړی لومړی دریمه بلل سوې ده .( ۲ )ویل کېږي ، چي قبر یې هم د ښه بولان دښالم خېلو هوتکو په لویه هدیره کي څرگند نه دئ .

عبدالغفارهوتك په پښتو ژبه شاعري کړې ده او پر ځنگ یې د تصوف سره هم خپل اړیکي ساتلي دي . په شعرکي ځان د رحمان بابا « نایب » گڼي او په تصوف کي «حافظ جمال » خپل پير بولي .

په افغان کي شاعران ترحساب تېردي
عبدالغفارده د رحـــمان شاعرنایب

---

( ۱ ) په هوتکنامه کي « دتیمورښه پادشاهي ده » دئ . ( ۲ ) تآریخي پلټني ـ ۱۲۸ مخ

زما پیر حافظ جمال دئ
دی پارس دئ مابه زرکه
عبدالغفارهوتك په پښتو ژبه دغه لاندي اثرونه پښتني دنیاته پرې ایښي دي .

دیوان :

ددېوان د ټولو مخونوشمېر یې ۱۵۶ ته او د بیتو شمېر یې دریو زروته رسېږي .شاعري یې د متوسطي درجې بلل سوې ده ، چي له عیبونوخالي نه ده .دښاغلي رفیع صاحب دارزیابی له مخي ، نه د « مضمون نوښت » پکښې سته او نه « شاعرانه ښکلا » .

دده په دېوان کي درې الفنامې ، یوه قصیده او غزلیات سته .

مثنوي گاني :

لومړی مثنوي یې په شپېتو بیتو کي د پنځو شهیدانو پنځه داستانه دي .

دوهمه یې د سوداګر بچه قصه ده .

دریمه یې دکورنی حالات دي . دغه برخه ترټولو مهمه ده او په هغې کي دهوتکو د دورې په باب ځیني نوي مطالب موندل کېدلای سي . له بده مرغه دامثنوي نیمګړې ده او دشاه اشرف هوتك دپاچهی یوه برخه یې لا پکښې بیان کړې ده او نوره برخه یې لوېدلې ده . دغي مثنوي ته ښاغلي حبیب الله رفیع « هوتکنامه » نوم ورکړی او په ۱۳۷۹ ش کال یې له سریزي او سپړنو سره د ښاغلي لطیف جان بابي په سپارښتنه خپره کړې ده . دچاپ لګښت یې هم ښاغلي لطیف جان بابي پرغاړه اخیستی دئ .



ACKU

# حاجي امان الله خان هوتك

اروابناد خانصاحب دښالم خېلوهوتکو له مخورو مشرانو څخه و . نوموړی دحاجي میرویس نیکه دورارہ حاجي انگوپه اولاده کي دفتح محمدخان زوی ، دشمس الدین خان لمسی ، دمحمدشاه خان کړوسی ، دمحمدافضل خان کوسی ، دمیرعلم خان کودی او د خان خانان عبدالرحیم خان پردی دئ . عبدالرحیم خان دنورالله خان زوی او دحاجي انگولمسی کېدی .

دخانصاحب حاجي امان الله خان ورنیکه محمدشاه خان هوتك د امیرعبدالرحمان خان دپاچهی په وخت دایوب خاني غورځنگ د پاته مخورو په ملاتړ له دغه امیرسره ترجگړو او ماتي وروسته له خپل ټول ټبرسره دروب اولورلایي علاقې ته مهاجر سوی و . حاجي امان الله خان په همدغه علاقه کي د۱۳۰۸ ش په شاوخواکي زیږېدلی دئ .دی لاد شیدو ماشوم و، چي کورنی یې دمحمد نادر شاه ترپاچاکېدو وروسته خپل ملك ته د بیرته ورتگ اجازه ترلاسه کړه( ۱۳۰۹ ش ) . خانصاحب پرخپله پلرنی مېنه رالوی سو او د خپلي کورنی په غېږ کي یې دعلم و ادب وتاریخ و فلکلور پراخي مطالعې وکړې . ددغو مطالعاتوله برکته یوروښانفکر عالم او مورخ څني جوړ سو . دهوتکوپه باب دده مطالعه ترډېرومعاصرو پوهانو ژوره ده اوددغي ژوري مطالعې محصول یې هغه درونداثر دئ، چي «د خپلواکی لمرځرك» نومېږي اوپه ۱۹۸۹ ع کال د ښاغلي حبیب الله رفیع په سریزه لومړی وارچاپ سوی دئ .په دې اثرکي دهوتکو ددورې په باب ډېري نوي خبري موندل کېدای سي .

خانصاحب داروپايي ليکوالو ، ايراني مولفينو ، کورنيو چاپي اوقلمي آثارو له څېړني اونقد وروسته دهوتکوداسي يو جامع تاريخ کښلی دئ ، چي ترده وړاندي چاپه دغه کم وکيف نه و ليکلي . خانصاحب دپښتو ادب دخپنو ورکو او نايابه پانو په موندلو کي دادب له مينه والو سره ډېري منډي وهلي وې . دده ددغه زيارپه نتيجه کي دهوتکو د دورې خپني ورك آثارله فناکېدو ژغورل سوي دي . ښاغلی رفيع ليکي ، چي الحاج امان الله هوتك « ... د پښتنوله کلتور او فولکلور سره ژوره مينه لري اوپه دې برخه کي يې ابتکاري کارونه کړي دي » ( ۱ ) . دخانصاحب دغه کارونه ما نه دي موندلي . دومره خبريم ، چي دجنوبي پښتونخواله « توبې »څخه په خپرېدونکې پنځلس ورځنی مجله « آزادپښتون » کي دښاغلی امان الله هوتك په قلم د کاکړو د کلتوري ځانګړتياووپه باب يولړ څېړني خپرې سوي دي ( ۲ ) .

خانصاحب دوه کاله وړاندي وفات سوی اوپخپله پلرنی هديره کي ښخ دئ .

*****

****

***

**

*

---

( ۱ ) دخپلواکی لمرخرك – سريزه – يوولسم مخ

( ۲ ) رفيع – حبيب الله – پښتوخپروني – ۱۴۴ مخ

# دسيوري اومرغي

# گلونه

ACKU

## عبدالرحیم هوتك

د پښتو ژبي دغه دېوان لرونکی پردېس شاعر په عبدالرحیم بخارایي مشهور و. داځکه چي له لس کلنی څخه له خپل پلرني ټاټوبي ( زاړه کندهار ) څخه پردېس سوی، تربخاراپوري رسېدلی او په بخارا کي تر مرګه پوري استوګن و. دده په باب وارد واره لوی استاد علامه حبیبي د طلوع افغان ددولسم اودیارلسم کال په څو پرله پسي ګڼوکي د « پښتوپېږدېس شاعر عبدالرحیم قندهاری» تر سرلیك لاندي دده دیوه خطي دېوان په استناد لیکني وکړې او پښتني دنیاته یې وروښود . تر دغي لیکني وروسته بیا پخپله د لوی استاد لخوا په « تاریخچهٔ شعرپښتو » او وروسته په « پښتانه شعرا، لومړي ټوك » کي مفصلي خبري وسوې او دغه څېړني نورو لیکوالو هم واخیستلې . دپخواني شوروي اتحاد دعلوموداکاډیمی داسیایي ملتونودانستیتوت دلیننګراد ( اوسنی پتروګراډ ) په څانګه کي دعبدالرحیم هوتك دپښتودېوان دیوې بشپړي نسخې تر موندلو وروسته ښاغلي ولادیمیرکوشیف یوه په بله پسي دوې مقالې وکښلې ، چي پښتو ژباړي یې په ترتیب سره دعبدالله بختاني خدمتګار او اروانښاد څېړندوی محمد اکبر معتمد شینواري په قلم په کابل مجله ( ۴ ګڼه ۱۳۴۷ ش ) اوزېري جریده ( ۱۳۵۶ ش کال ) کي خپرې سوې .

په افغاني لیکوالوکي دعبدالرحیم هوتك پرژوند اواشعارو باندي ترټولومفصله اوهراړخیزه وروستنی لیکنه دښاغلي حبیب الله رفیع

رفیع په قلم سوي ده (۱) دغو ټولو څېړنو چونل سوي خبري ، چي څه یې د شاعر پر خپل بیان ولاړي او نوري یې حدسیات و اټکلونه دي ، دادي :

عبدالرحیم هوتك د لوی کندهار د کلات د سیوري په « ښه بولان » کي زېږېدلی دئ. د زوکړي کال یې ۱۱۴۰ هـ ق اټکل سوی دئ . په دري کلني کي له خپلي کورنۍ سره له ښه بولان څخه د کندهار زاړه ښار ته رالېږدېدلی دئ . دا وخت په کندهار کي د هوتکو غورځنګ د بري په حال کي و. په لس کلني کي له کندهاره ایران ته پردېس سوی دئ .د پردېسۍ عوامل یې ښایي پر کندهار باندي د افشارنادر یرغل او د دغه ښارترنیولو وروسته د هوتکو عمومي تبعیدول وي . له خپل هیواده تر وتلو وروسته یې په نیشاپور کي اړولي دي . څو کاله وروسته تهران او ورامین ته کډه کېږي او هوري اووه کلونه پاته سوی دئ . په تهران کي یې د ملاحضرت هاشم په نامه دیو پیر لاس نیوی کړی دئ . له دغه ځایه بخاراته تللی دئ . بخاراته د تګ په وخت کي یې عمر شل کاله بلل سوی دئ . په بخاراکي د ملامحمد « املا » په حضور مشرف سوی او اووه کاله دده په کورکي د مېلمه په توګه پاته سوی دئ . په دغه اووه کاله کي تل د خپل پیر « املا » په خدمت کي ولاړ و . کورنۍ یې له تهرانه بیرته خپل ټاټوبي « ښه بولان » ته ستنه سوې او ده په بخارا کي استوګنه غوره کړې ده . پنځوس کاله یې په بخارا کي تېر کړي دي ، عمر یې تراویاوو کلونو رسېدلی دئ . او

(۱) د سره غره کلونه ــ ۴ ــ ۴۶ مخونه ــ ۱۳۵۷ ش کابل

په همدغو کلونوکي په بخاراکي مړ او غالبا به هورې ښخ وي . ښاغلی سرمحقق زلمی هیوادمل لیکي چي دعبدالرحیم هوتك « ددېوان دیوې خطي نسخې پرسرچایویادښت لیکلی دی ، چې دهغه یادښت له مخي عبدالرحیم هوتك باید په ۱۱۶۲ هـ ق کال په بخاراکي مړ او هلته ښخ وي .» ( ۱ )

ده په بخارا کي دخپل خواره هیوادپه یاد سوځنده چیغي وهلي او دکندهارپه یاد یې ، چي ده په ورکتوب لیدلی و ، سوي غلبلې د شعر په جامه کي خپل تلپاتې یادگارېرې ایښی دئ .

دعبدالرحیم هوتك له کلامه څوك پوهېږي ، چي ده د وخت مروج علوم صرف ، نحو ، تفسیر ، فقه ، فلسفه ، منطق او اخلاق لوستي وو. په پښتو ادبیاتو کي یې مطالعه لرله او د میرزاخان ، رحمان بابا ، خوشال خان او بابوجان یاد یې پر دې خبره دلالت کوي ، چي ددغو شاعرانو اشعار ور رسېدلي او لوستي یې وو.

داهغه خبري وې ، چي دده دخپل کلام په استناد له علامه حبیبي نیولې بیا تر نورو ځوانو څېړونکو پوري ټولو په یوه خوله البته په لږ و ډېر اختصار و تفصیل سره بیان کړي دي ( ۲ ). خو دده دیوه بل پارسي اثر په کشفېدلواوخپرېدلو سره دده ژوند لیك په باب د نوې کتني اړتیا محسوس سوه . دا اثر « مهاجرتنامه »

---

( ۱ ) هیوادمل ـ زلمی سرمحقق ـ دپښتوادبیاتوتاریخ ( لرغوني او منځنۍ دوره ) ـ ۱۹۳ مخ ـ ۱۳۷۹ هـ ش

( ۲ ) ما ( هوتك ) په « احمدشاهي کندهار » لسم مخ کي دهمدې څېړنې پراساس دعبدالرحیم هوتك په باب لنډ معلومات ورکړي وو . دغه معلومات دکتاب په دوهم چاپ کي دنویو اسنادوپربنسټ له سره لیکل سوي دي .

نومېږي چي دپښتو او اردو پياوړي ليکوال ، محقق او شاعر ښاغلي سعيد گوهر واردواره موندلی او ښاغلي حبيب الله رفيع ته د سوغات په توگه ورکړی او هغه بيا په ۲۰۰۱ع کال له منظومي پښتو ترجمې ، سريزي او حواشيو سره خپور کړی دئ . په دې نوي اثر کي ده دکندهار دزاړه ښلر نسبتا مفصله تشريح اودشاه حسين هوتك دپاچهی دوخت ځيني اشخاص په نامه ښوولي دي . په هغه کي يې د خپلي کورنی د غړو يادونه کړې ده اود خپل يواځيني « محمد » نوم يې هم اخيستی دئ ، چي د شاه حسين په دربار کي يې د « شربت باشي » وظيفه درلوده .( ۱ )

د مهاجرتنامې له مخي د عبدالرحيم هوتك کورنی پر کندهار باندي دافشارنادرترتاړاك دېره وړاندي له هيواده وتلې ده اوپه هغه وخت کي چي شاه حسين هوتك دپاچهی پر تخت ناست دئ ، عبدالرحيم هوتك په بخارا کي دپردېسی په لمبو سوځي او دسهار باد ته دخپلو دوستانو او کوروکلي و ښار په ياد فراقيات او سلامونه خپل ټاټوبي کندهارته لېږي . دمهاجرتنامې ددغو رواياتو له مخي ، ښاغلي حبيب الله رفيع دپردېس شاعر عبدالرحيم هوتك د ژوندليك په باب خپله نوې کتنه داسي بيان کړې ده : عبدالرحيم هوتك به « ... د ۱۱۰۰ هـ ق کال شاوخوازېږېدلی اود ۱۱۱۰ هـ ق کال شاوخوا به ديولېږېښو ، شخړو اودښمنيوله کبله چې په مهاجرتنامه کښې تته اشاره ورته کوي له هيواده ايران تــه په تلو مجبورشوی وي ، تر ۱۱۲۰ هـ ق کال وروسته به بخارا ته تللی وي

---

( ۱ ) د ښاغلي رفيع صاحب په اټکل دغه « محمد » او د پټې خزانې « محمد هوتك » يو سړی دئ .

اوهلته يې دده د ويناله مخې تراوياكلني پوري ژونديقيني دي او اټكل كېږي چې تر ۱۱۷۰ هـ ق كال وروسته به هورې وفات شوی وي .» (۱)

دعبدالرحيم هوتك دشعر ژبه خوږه ، روانه او خوراسليسه بلله سوې ده . په پښتو او پارسي كي يې دشعر ويلو استعداد درلود او پوخ شعريې پكښې وايه.په پښتو ژبه دشعر ضخيم ديوان ځني پاته دئ، چې ۶۱۷ غزلي او قصيدې ، شپاړس مخمسه او دېرش څلوريځي لري نسخې يې په افغانستان، پېښور او پترزبورگ كي سته (۲) . د اشعارو نمونې يې « دسره غزه گلونه » كي لوستلای سئ . زه به يې هغه دوه نظمه چې يوېې دخپل اصل ونسب په باب او بل يې دكندهار په باب ويلی دئ،دلته دده د پښتوكلام د نمونې په توگه راوړم .

زه فقيركندهاری يم او پــــه اصل كي غلځی يم
په كلات كي يم زوكړی ، عمرباد غــوندي تيرېږي
په غلځي كي يم هوتك ، پــلارنيكه مي نه وو ورك
عالم ټوله په خبردئ، كه پـــــوښتنه پسي كېږي
په هوتك كي ملكياريم ، خـــوارناست پربخاريم
دفراق نارې وهمه، دادمي چاتـــــه نه رسېږي
حسين زی پرملكياريم ، د خـــوبانو يار و غاريم
په حسين كي سفرزی يم ، سرتـــرپا اور رالگېږي

---

( ۱ ) هوتك ـ عبدالرحيم ـ مهاجرتنامه ـ پښتوژباړه.سريزه.سمون اوسپړني د حبيب الله رفيع ـ دسريزې ۹ ـ ۱۰ مخونه ـ ۲۰۰۱ ع
( ۲ ) هيوادمل ـ زلمی ـ فرهنگ ادبيات پښتو ـ ۹۶ مخ

په سفرکي ملېزی یم، خــــوارغریب په زړه بزی یم
دهجران له ډېره غمه ، زړه مي دوه ټـــوکره کېږي
په ملي کي اتمانخېل یم ، پــــراتمان بابکرخېل یم
پربابکرسماعیل خېل یم، کم عقلـــونه پرې چلېږي
دملك سلطان لمسی یم، د اتـــــوملېزي زوی یم
گلرخانو یم خوارکړی ، اورمي درست په څان بلېږي
ماول ووایه اې ورورہ، خدای دي وژغوره لـــه اوره
زه به ستاحاجت قبول کړم ، که زما لـــه لاسه کېږي
ده ول تاچي کتاب جوړکړ،پرجهان باندي دي خپورکړ
خپل نسب پکې بیان کړه ، چي خلق ټول په ورسېږي
لهخاطره د میرا، داغــــزل مي کـــــړه انشاء
خپل نسب مي ټولـه هېر و، که باور مو باندي کېږي
****
یو وار ولیدای په سترگـــــو قندهار
ورته تېږی یـــــــم بېحده بې شمار
ارغنداب نهرمي ولیدای پــــه سترگو
چي اودس مي باندي وکـــړلای سهار
چل زینولره په شوق او پـه ذوق راغلای
چي ور وخـــــــتای په امرد ستار
هم ترطاق هم تر رواق لاندي یې کښېنم
پــــه ژړا مي دواړه سترگي وای خونبار
پر زاړه ښـــــهر مي راوړای قدمونه
دفراق ناري مي وکـــړای په کوکار

هغه ښــــه نیازمن چي ما لیدلي وونه
په پوهېږم یـــــــوبه نه وي په قرار
شرافت د مکان تـــوله په مکین دئ
بې مکینه څه پـــه کاردئ تش دیار؟
که هرڅوسړی پاچا شي پـــه غربت کي
په سینه کې وي د خپل وطن پرهـــــار

دکندهار ښارپه باب ښایي عبدالرحیم هوتك ته پرخپلوخاطرو سربېره دنوروله‌خوا هم معلومات ورکول سوي وي ځکه دده د خپلي خولې روایت دئ ، چي په لس کلنۍ کي له کندهاره وتلی دئ ،

*************
************
***********
**********
*********
********
*******
******
*****
****
***
**
*

# شیخ حمید عمرزی

شیخ حمید په قام عمرزی هوتك و . پلار یې ملاعبدالغفور نومېدی او دکلات دسیوري په « منداو » نومي کلي اوسېدئ . د شیخ حمید عمرزي د ژوند زمانه د فاضل استاد پوهاندرشاد صاحب د څېړني له مخي « د هوتکودپاچهی وخت دئ یعني د دولسمي هجري سدی په لومړی نیمایي کي ژوندی و » ( ۱ ). د شیخ حمید کړوسی ملاصاحبدین اخوند د کندهار د ارغنداب ولسوالی په « مزره » کي اوسېدی او هوري ښخ دئ .زیارت یې د عاموخاصو مرجع ده . دشیخ حمید نورلمسیان په دکلات دسیوري په منداو او دارغنداب په مزره کي اوسي .

عبدالغفار هوتك د شیخ حمید عمرزي یادونه داسي کړې ده :

چي یې وچه ونه شنه کړه
شیخ حمید عمرزیي ده

د وچي وني دشنې کولو پېښه لکه چي د میا عبدالحمید صاحب رحمه الله علیه په بحث کي به اشاره ورته وسي ، زماسره د یوه خطي متن په استناد د نوموړي میا عبدالحمید ( رح ) کارنامه وه او په احمد شاهي دور کي پېښه سوې وه . والله اعلم بالصواب .

***
**
*

---

( ۱ ) تاریخي پلټني ـ دپوهاند رشاد صاحب مقاله ـ ۱۳۷ ـ ۱۳۸ مخونه

## حاجي شهباز نيکه

دی دکلات د بولان اوسېدونکی و او ددغي اوسېدني له امله يې له نامه سره « بولاني » لقب ليکل سوی دئ . عبدالغفارهوتك وايي :

چي ځلوېښت حجه يې وکړل
حاجي شهباز بـــولاني ده

زموږ فاضل استاد پوهاندرشادصاحب ليکي ، چي حاجي شهبازنيکه په قام هوتك و ( ۱ ) ځکه نوما په دغه مجموعه کي راوړ. داسي ښکاري ، چي حاجي شهباز نيکه دي دعمر وروستی شپې په کابل کي تيري کړي ، هورې مړ سوی او هورې دي ښخ سوی وي ، ځکه د پوهاند صاحب دليکني له مخي دده دقبر شنختي بهادرخان هوتك له کابله راوړي وې .

## قادرخان هوتك

د پټي خزانې د مولف محمد هوتك نيکه و. قادر خان په مرغه کي اوسېدئ اوله هغه ځايه د کلات سيوري ته راکډه سوی و. په سيوري کي ترڅه مودې استوګني وروسته دکندهار کوکران ته راغی،اوپه کرنه بوخت و . په ۱۰۵۸ هجري قمري کي په همدغه کوکران کي مړ اوښخ دئ ( ۲ ).

---

( ۱ ) تاريخي پلټني ـ ۱۳۷ مخ . ( ۲ ) پټه خزانه ــ لومړی چاپ ( ۱۳۲۳ ش ) ـ ۱۹۵ مخ . کوکران د کندهار ښاردلوېديځ په کي واقع دئ . دحاجي ميرويس نيکه مزارپه همدې کوکران کي دئ . زيارت ته څرمه دهوتکو زړه هديره سته . په کوکران کي د هوتکو څوکوره تر دې رورستيو کلونو پوري اوسېدل . ددغو کورنيو څيني کسان ماپېژندل . پېوزلي خلك وو .

## حاجي مشکی خان ساګزی ( هوتك ؟ )

حاجي مشكي خان ساګزي د هغي زړه وري کارنامې له امله په تاريخ کي نوم ګټلی دئ ، چي دافشار نادر په وړاندي يې سرته ورسوله . ددغي کارنامې په باب فاضل استاد پوهاندرشاد صاحب د « واقعات درانی » او « دولت درانيه » په حواله ليکي : په ۱۱۴۱ هـ ق کال يې افشارنادرپرهرات بريدوکړ ، دجنګ په ميدان کي حاجي مشکي خان ابدالي خپل جاسوس ولېږه چي د افشار نادر جامې ، نخښي او په صفونوکي د درېدلو ځای معلوم کړي . جاسوس چي حال ورته راووړ ، ده ملګروته وويل :« زه نن ځان افشارنادرته رسوم يابه پښتانه له دغه خونخوار لېوه خلاص کړم او يا به ځان ترقوم قربان کړم .

هغه و چي آس يې پونده کړ ، ځان يې افشارنادرته ورساوه ، حمله يې پروکړله اوپه سانګه يې افشارنادرپرپښه ټپي کړ . په دغه ترڅ کي دنادرساتندوی فوج له هري خوا پر راتوی سو ، نادريې دحاجي مشکي خان توريالي له بل واره وژغوره او مشکين خان ترخپل قوم ځان قربان کړ »( ۱ ) .

عبدالغفار هوتك وايي :

پرنادر يې ګـــــــوزار وکه
حاجي مشکی اسحاقزيی ده

د عبدالغفار هوتك منظوم تاريخ د هوتکو تاريخ دئ او په دې دليل

---

( ۱ ) تاريخي پلټني ـ دپوهاند رشاد مقاله ـ ۱۴۰ ـ ۱۴۱ مخونه .

ماته حاجي مشکی خان د هوتکو ساګزی ښکاره سو . حاجي امان الله هوتك يې هم هوتك ساګزی بولي او وايي ، چي د مرغې د علاقې اوسېدونکی و( ۱ ) .دهوتکوپه ناروکي دحاجي مشکي زياته يادونه هم دده پرهوتکوالي يودليل کېدلای سي .

حاجي مشکي ويل ابلکي وچي کلکي

يوواريښي رالاندي واخله په اردوکي پښتني ماته ګيله کي

حاجي مشکي ول چي خدای نکړي مابڅه کړ

پرنادرمي واری وکړپولادي توره مي زنګ خوراك يې نه کړ

زما په خيال د حاجي مشکي خان له نامه سره د « ساګزي يا اسحق زيي »لقب دغه التباس پېښ کړی دئ . اسحق زيي يا ساګزي په پښتني شجرو کي د هوتکو يوه پښه هم ده اود پنجپای ابداليو يوه پښه هم .ځکه نوحاجي مشکين خان چا ابدالی ساګزی او چا هوتك ساګزی بللی دئ . دهوتکو ساګزي ځانونه « ښالم خېل » بولي . د دغي زړه وري کارنامې د پېښېدلو پر ځای هم اختلاف سته . د پوهاند رشاد صاحب په نقل قول کي داسي ښکاري چي دا کارنامه دي هرات ته نژدې پېښه سوي وي خو حاجي امان الله هوتك يې دافشارنادر په حکم د کندهارد زاړه ښارد نړولو پروخت پېښه سوې بولي .

ددغو اختلافي روايتو له آمله ما د حاجي مشکي خان له نامه سره د هوتك لقب نه ، سره له دې چي پر هوتك والي مي يې ديقين پله درنه ده ، بياهم د پوښتني نخښه کښېښووله .

---

( ۱ ) دخپلواکی لمرخرك ـ ۲۸۵ او ۳۲۰ مخونه

## حاجي اسماعیل خان هوتك

دغه سړی په هوتکو کي معروف زی و .ددېره جاتودحاکم په توگه کي يې رسمي دنده درلوده . دخپلواکی لمرخرك مولف لیکي ، چي قبريې دښه بولان په هديره کي څرگند او په ښايسته ډبروېټ دئ ( ۱ ). نورمعلومات مي دده په باب ترلاسه نکړای سول .

## یوسف هوتك

د یوسف هوتك نوم د ریدي خان مومند په « محمودنامه » کي راغلی دئ او وايي ، چي دکلات د سیوري دهوتکو له مشرانو څخه و او دملي قاید حاجي میرویس خان په ملي مبارزو کي ورسره ملگری و . په محمودنامه کي لولو:

میاجي هم راغی دمیرخان په کومك
یوسف راټول کړله د سیوري هوتك

د همدې بیت په استناد اروانباد بینوا په ( هوتکی ها ـ ۱۷۷ مخ ) او حبیب الله رفیع د ( محمودنامې دتعلیقاتو په ۶۵ مخ ) کي د یوسف هوتك یادونه کړې ده .

## قاضي یارمحمدهوتك

قاضي یارمحمد ملاخېل،غازي خېل،عمرزی هوتك دئ، چي د جانان فدوي پلار و .ویل کېږي د شاه محمود سدوزي په وخت کي يې دقضا چاري پرمخ بیولې او« بالاستقلال قاضي و » ( ۲ ) .

---

( ۱ ) دخپلواکی لمرخرك ـ ۳۱۱ مخ ( ۲ ) دسره غره کلونه ـ ۱۲۸ مخ
دملایارمحمد هوتك دقاضیتابه هغه فرمان . چي دشامحمود سدوزي لخوا صادرسوی و . ښاغلي حبیب الله رفیع د ملاجانان هوتك له کتابتون څخه ترلاسه کړی و او په دې باب يې د ۱۳۵۵ ش کال دزیري جریدې په کال کښه ۳۷ مخ کي معلومات کښلي و .

## جانان هوتك ( ۱ )

د پښتو او پاړسي ژبودغه قادرالکلام او کثیرالکلام شاعر زموږ په ادبي څېړنو کي په جانان فدوي مشهوردئ داځکه چي شعري تخلص يې « فدوي » و. اصل نوم يې جانان یا محمدجانان و . پلار يې يارمحمد نومېدی اود نیکه نوم يې هارون و .په ختـه هوتك ، په هوتکو کي عمرزي ، په عمرزو کي غازي خېل او په غازي خېلو کي ملاخېل دئ ( ۲ ) .دی دخپل اصل ونسب په باب وايي :

که اخبارمي د نسب غــــــواړي تالي
دئ نسب مي پــه غــلجي کي هوتکي
په «سره غره»کي زمـــاکام وعزیزان دي
په هوتك کي يم بيا خـــاص عــمرزايي
پــه مرغه کي زماځـــــای زمامسکن دئ
په اولاد کي دعبدالرحيم شاه هوتکي ( ۳ )
دا حدود دي د کلات پـــــه نــواحي کي
دا ټول غـــــواړم د ښه خــدای پــه پناهي
محضه نوم زمـــا « جانان »دئ له پدره
مُخَلِّص دئ پــــه کتاب کي په « فدوي»

---

( ۱ ) دجانان فدوي هوتك په باب ترټولو مفصله څېړنه واردواره فاضل استاد پوهاند رشاد صاحب په پښتانه شعراء دريم ټوك کي کړې ده . ښاغلي زلمي هيوادمل چي د ښاغلي حبيب الله رفيع په ملتيا « دسره غره گلونه » مجموعه خپره کړه . په هغې کي يې د جانان هوتك پېژندګلوي د پښتانه شعراء دريم ټوك له مخي ترتيب کړې ده اود شاعريه آثارو کي يې دخپلي مطالعې نتايج هم ورسره مل کړي دي . زه ددغو دوو ليکنو په مرسته دجانان فدوي په باب خپله حاضره ليکنه وړاندي کوم .

( ۲ ) دهوتکو عمرزی ښېبه د « تواريخ خورشيد جهان ». « حيات افغاني » او « پښتانه د تاريخ په رڼاکښې » د روايتونو له مخي په « ملکيار » او« يوسف » ځانګو کي سته . خو « د خېلواکی لمرخرك » ښاغلی مولف بيا عمرزي د « تون » په ښاخ کي راوړي دي .

( ۳ ) دعبدالرحيم شاه هوتکي په باب وګورئ دهمدې ليکني ۴۹ مخ



ACKU

د جانان هوتك كورنى په اخونزاده خېلو مشهوره وه .داځكه چي دى او پلار ونيكه يې دخپل وخت عالمان اوعارفان تېرسوي دي . د جانان پلاردشاه محمود سدوزي په پاچهي كي دقضا پرمسند ناست و. ددوى اصلي ځاى دسره غره لمنې وې چي د د كابل كندهار پراوسنى لويه لار باندي دشاه جوى شمال لويديځ ته پرتې دي . خو جانان تر تحصيل وروسته له سره غره څخه « مرغې » ته ليږدېدلى دئ .په مرغه كې بياپه ښالم خېلوهوتكوكي دغلام رسول خان په كلاكي اړولي وه ( ١ ).دغلام رسول خان كلا دقيق موقعيت ماته څرګند نه دئ خودجانان له كلامه داسي ښكاري ، چي داكلابه په « زهره » نومې سيمه كي واقع وه . دى وايي :

هوتك زمـــــــانسب وطن دئ
په «سره غره»كي مي مسكن دئ
پـــــه سره غره كي بيا «مرغه» ده
په مــــــرغه كي بيا «زهره» ده
يخ ( يې )دئ له زمــــــهريره
د ښـــه خداى له ښه تقديره ( ٢ )

دجانان هوتك دزېږېدلو نېټه پر اټكلونو ولاړه ده او څېړونكو د ١٢٢٥ هـ ق كال حدود بللي دي . دده خپل روايت داسي دئ ،

---

( ١ ) پښتانه شعراء ــ دريم ټوك ــ ٦٩٧ مخ . « مرغه » يا « غوړه مرغه » يوه پراخه اورشو ده . چي سرېې د كندهاردكلات له جنوبه پيل اوكښته د ارغسان وكوړك وكاكړستان سيمي په خان كي رانغاړي . د پښتنودعنعنوي رواياتو له مخي دپښبور دشاخوا سيمو ځيني پښتني قبيلې له همدغي غوړي مرغې څخه ليږدېدلي دي .

( ٢ ) دسره غره كلونه ــ ١٤١ مخ

چي « ازپدرماندم یتیم پنجسال » . ژوند یې تر ۱۳۰۹ هـ ق پورې یقیني دئ ځکه په دغه کال خلیفه محمد عثمان نقشبندي یو لیک ورلیږلی دئ ( ۱ ) . دجانان هوتك قبرد مرغې دزړي کلا په هدیره کي څرګند دئ .

جانان هوتك په پښتو اوپارسي ژبه زیات منظوم آثار پرې ایښي دي . دپښتو اشعارو کلیات یې څو ټوکه لري، چي دټولو ټوکو دمخونوشمېر یې تر زرومخو اوړي . نسخې یې دکابل دپښتو ټولني ، داطلاعاتواوکلتور په خطي کتابو ، دملي آرشیف په خطي زېرمه او دغه راز دښاغلو پوهاندرشاد صاحب ، سرمحقق زلمي هیوادمل او ایوبي په شخصي کتب خانوکي خوندي وې . پارسي اشعار یې دپښتودیوان په خطي نسخو کي خوندي دي چي له هغو څخه دښاغلي هیوادمل په قول « یوغټ ټوك جوړیدای شي » دغه راز یې دپارسي یو بېل دیوان چي فقط شپږ پښتو غزلي لري ، دده په کورنی کي «دده دکودي نورالحق اخونزاده په واك کي دی» . جانان هوتك پښتو الفنامه هم لري او د منثورو آثارو یادونه یې هم سوې ده ( ۲ ). جانان هوتك خپل زیاتره آثارپخپل لاس کښلي دي اوپه دې ډول یې دخطاط په توګه هم یادولای سو. دکتابو دټولولو

---

( ۱ ) دپوهاند رشاد صاحب دلیکني له مخي دغه « محمدعثمان د حاجي ملادوست محمد نقشبندي خلیفه و او دکسي غره ښیخ لورته ددامان په سیمه اوسېد » . حاجي دوست محمد یوسفزی کندهاری د دیارلسمي هجري پېړي له لویو مشایخو څخه و . په غونډان . غوره مرغه . کلات او دېره جاتو کي یې زیات مریدان او مخلصان درلودل . جانان فلوي هم ددغه حاجي ملادوست محمد لاس نیوی کړی و.

( ۲ ) دآثارو تفصیلي بیان یې « دسره غره ګلونه » په ۱۴۸ _ ۱۵۵ مخونوکي کتلای سی.

ذوق یې هم درلود . دده دکتابتون پاته برخه تر ۱۳۵۵ ش پوري لا ددوی په کورنی کې پاته وه . نه پوهېږم چې اوس به یې څه پاته وي که یا ؟

دجانان هوتك دکلام په باب زمونږ فاضل استاد پوهاند رشاد صاحب لیکي « دجانان په کلام کښې ملایمت اوسلاست زیات دئ ، ترډېره حده یې له وضوح و صراحته کاراخیستی دئ . تعقیدات یې په کلام کې نسته ، دتصوف رنګ یې پروېناغالب دئ اود سیر و سلوك اصطلاحات پکښې ډېردي ـ طبعه یې ښه قدرت لري اودهر رازمطلب دافادې ترعهده وتلای شي ، ځینې نادرتشبیهات او غریبې استعارې یې هم په ډېرسهولت سره افاده کړې دي»( ۱ ) .

دکلام ښې ډېري نمونې « دسره غره ګلونه » په نامه مجموعه کې خوندي دي.دلته به یې یوه لنډه بېلګه راواخلم.

ځودتن خونه رنګینه پـــــه غم نه کړم
رونې اوښکې پـــر بانو باندې تم نه کړم
پرخشکه وجودمې بـــوی دعرق نه وي
ځودزړه خوناب په هررګ کې نم نه کړم
نه سمېږي موزون حرف دعـــــاشقیه
خـــــود زړه له وینو تر خپل قلم نه کړم
په خــــــوب نه وینم وصلت دګلرخانو
ځو رنګین له هــــره خاره قدم نه کړم
پرهغه عهد وپیمان مې زیات ثبات دئ
«فدوي» مات به په اسانه قسم نه کړم

---

( ۱ ) پښتانه شعراء ـ دویم ټوك ـ ۳۰۲ مخ

## ملا خیرالله هوتك (۱)

ملاخیرالله دکندهار دکلات د « ښه بولان » دهوتکو په مشهور ټبرکي د ولي محمد زوی اودالهداد لمسی و.ده خپله د نسب سلسله « په هوتك کي ملکیار ، په ملکیارکي حسین زی، په حسین زي کي سفرزی ، په سفرزي کي ملېزی ، په ملېزو کي سمایل خېل ، په سمایل خېل کي سلطان خېل اوپه سلطان خېل کي رهي خېل » بللې ده .(۲) د ملاخیرالله نیکه الهداد پخپله قبیله کي په « گاجو» مشهور و. ملاخیرالله هوتك وایي :

له سمایله سلطانخېل یم له سلطانه رهي خېل یم
د نیکه نوم مي گاجو دئ اسم محض یې الهداد

ویل کېږي،چي دزابل ولایت د« گاجوی»کلی دهمدغه الهداد نامه «گاجو » ته منسوب دئ .(۳) دملا خیرالله هوتك مورنی انا ( نیا )دلوی احمدشاه باباد علمي مشاور ملاشاهو اخوندلورکېده ، چي په عبدالرحیم نومي واده وه .دغه عبدالرحیم دملاخیرالله مورنی نیکه اوداسرارالعارفین مولف ملاشیرمحمد هوتك یې ماماو.دی وایي :

شیرمحمد ، عبدالرحیم زه یې له پښته
یـــوماما، دوهم مي جد د نازندیم

دملاخیرالله هوتك پلار ولي محمد دخپل وخت سالك سړی و او

---

( ۱ ) دملا خیرالله هوتك په باب واردواره مفصله او جامع څېړنه زموږ فاضل استاد پوهاند رشاد صاحب په پښتانه شعراء دریم ټوك کي کړې ده . زما لیکنه دهمدغي څېړني له مخي برابره سوې ده .
( ۲ )زموږ په دودیزه نسب څېړنه کي د اتمي هجري پېړي ستانه عارف او شاعر ملکیار بابا او دهوتکو دملکیار ښاخ دسرسړی یو تن بلل سوی دئ . چي زما په نظر دتامل وړ خبره ده .
( ۳ ) کاجوی د شاهجوی جنوب لویدیخ ته او شاه جوی دکابل ـ کندهار پر لویه لار دکلات ښار او جنډې تر منځ موقعیت لري .

ویل کېږي ، چي عبدالرحیم هوتك ( بخارايي ) ته يې ارادت درلود ( ۱ ) . ولي محمد په ځواني کي دملاخیرالله تر زيږېدو دمخه مړ سوی دئ . دپوهاند رشاد صاحب دتحقیق له مخي د ولي محمد دمړيني اودملاخیرالله دزيږېدني کال ۱۲۱۳ هـ ق اټکل کېدلای سي . دده دورکتوب زمانه د خوارېو او نېستيو او د میراث خورو په مظالموکي تېره سوې ده . په دوولس کلني کي يې له موره رخصت اخیستی اودعلم په طلب پسي پردېس سوی او تر بخارا پوري رسېدلی دئ .خود علم د حاصلولو زیاتره وخت يې په کندهارکي تېرکړی دئ .دلته يې د سیر وسلوك په لارکي د کندهار د ارغنداود سیمي د « مزرې »دکلي له اوسېدونکي ملا صاحبدین هوتك څخه روحاني استفاضه کړې ده.دکندهار په ارغنداو کي د « مزرې » په نامه دوه کلي سته ، چي يوه ته يې « زړه مزره » او بل ته « نوې مزره » وايي . ملا خیرالله هوتك نه دي ويلي ، چي دده مرشد په کومه مزره کي اوسېدئ . خوله دې بیته يې دومره ښکاري ، چي ملاصاحبدین اخوند دده په ژوند وفات سوی و .

مرشدزماملاصاحبدین کندهاری دئ
په مزره کښي يې مـرقد عالي مزار

ملاخیرالله هوتك پنځه څلوېښت کاله دعلم وعرفان په لټه کي پردېسی گاللي دي او په پای کي بیرته خپل مسقط الراس« ښه بولان »ته د ۱۲۷۰ هـ ق په حدودو کي ستون سوی دئ .

---

( ۱ ) له دې څخه ښکاري ، چي عبدالرحیم هوتك په ژوندکي خپل اړیکي له خپلو تربرو او قبیلې سره خورا ټینګ ساتلي وو.

ملاخیرالله هوتك په مروجو علومو کي د « تبحر خښتن » بلل سوی دئ اوویل کیږي، چي د سیر وسلوك د ډېرو غامضو مسالو د څېړني قدرت یې درلود .دی په پښتو، پارسي ، عربي او اوزبکي ژبو پوهېدی اوپه دغو ژبو یې دځه لیکلو او شعر ویلو توان درلود . د پښتوشعر دېوان تري پاته دئ . کله چي پښتانه شعراء دریم ټوك خپرېدی ، دملاخیرالله هوتك دپښتو دېوان دوه ټوکه معلوم وو . لومړی ټوك یې ۲۲۳ مخه او دوهم ټوك یې ۱۷۴ مخه ښوول سوی دئ . په لومړي ټوك کي یې عربي او پارسي نظمونه هم سته . د دوهم ټوك په پای کي ځیني اوزبکي لغتونه په پښتو اړول سوي دي او له دي ځخه داسي استنباط سوی و ، چي گویاملاخیرالله دپښتو اوزبکي قاموس کښلی دئ . په فرهنگ ادبیات پښتو۱۶۷ مخ کي دده دپښتو دېوان ددریم ټوك خبره هم سوې ده ( د پوهاند رشاد صاحب دکتابتون )، چي سل مخه لري . دغه راز د ښاغلي حبیب الله رفیع ( بریښ ) او ښاغلي زلمي هیوادمل په شخصي کتابتونو کي دده د دېوان د نسخو ځرك هم ورکړه سوی دئ ، چي لومړی یې اتیامخه او دوهمه یې ۱۶۲ مخه کیږي . ددغو متعددو نسخو شعرونه مکرر نه دي بلل سوي،ځکه نو د ملاخیرالله د شعر داټول دفترونه د« کلیات ملاخیرالله » په نامه ښوول سوي دي . د ملاخیرالله د پښتو شعر کلیات یا دېوان تراوسه چاپ سوی نه دئ . ما ( م. هوتك ) یې دیوان یا کلیات نه دئ کتلی خو ویل کیږي ، چي دشعر زیاتره انواع و اقسام پکښې سته . په پښتانه شعراء دریم ټوك کي د ملاخیرالله هوتك شعرداسي ارزیابي سوی دئ :

«دملا خیرالله کلام یوخوسرترپایه عرفاني اسراردي اوبل یې د وینا په ترکیب اوترتیب کښې څه ضعف هم لیدل کیږي خکه یې نو په کلام کښې تعقید او ابهام ډېر دی.سربېره پردې ملاخیرالله پخپل نظم کښي زیاتره د وزن اوقافیې مراعات هم لکه څنګه چي لازم و، نه دی کړی . له دې امله یې په کلام کښې بې خوندي پیدا شوې ده . »

دده دکلام څني بېلګې به له همدغه توک پښتانه شعراء څخه رانقل کړم . دا شعري بېلګې یې « غوره » بللي سوي دي .

څه ممکن له نیرنګي د شان نشان دی
سرترپا حیرت نما د مـــرات شان دی
سرترپا طلسم د ناز زمـــا غبار شو
« خیرالله » ولاړدزلفوشان پریشان دی

****

زه حباب شمعـــه د بزم د دریاب شوم
درکشاد ، پرده دسترګو دسراب شوم
د وحدت ناري وهـــم عبارت سازه
د کثرت پـــه نام تنها در نایاب شوم
عرصه ګاه مي د وحدت لــه تنګه دله
دامنګیره د کامـــل لکه حباب شوم
هر وبښته مي تماشه کړي له وحدته
لکه شمعه سرترپا نور د آفتاب شوم

******

## حنیفیاخان هوتک

د « ښېدیاني ګلونه » مولف موږته ددغه شاعراو د ادب دمینه وال نوم داسي راښیي :

نوم یې محمد حنیف او په کور و کلي کي په حنفیا خان هوتک سره مشهور و. پلاریې سیف الله خان هوتک نومېد . حنفیاخان هوتک په ۱۲۶۲ هـ ش کال د زابل ولایت دکلات د سیوري په بدین کلي کي زېږېدلی و. پخپله سیمه کي دنفوذ څښتن و په لیک لوست پوهېدی او له پښتو ادبیاتو او شعر سره یې مینه درلوده . ددوی کورنۍ له علم و کتاب سره بلد خلك وو . پخپله حنیفیا خان دکندهار له پښتو انجمن سره اړیکي لرل . د عبدالغفار هوتك تاریخ او پښتو دېوان دحنیفیاخان هوتك په کورنۍ کي دده د زوی شینواري هوتك کره خوندي ساتل سوی و . حنیفیا خان هوتك په ۱۳۳۸ هـ ش کي مړ سوی اوپخپله پلرنۍ هدیره کي ښخ دئ .

په « ښېدیاني ګلونه » نومي کتاب کي دده دغه شعر خوندي دئ :

نن پرملك د پښتـــانه ګل و ګلزار دئ
د پښتو مي انجـــمن راتـــه تیاردئ
ټول پښتون ســـو رابیداره چي سهاردئ
پښتولیك کړي لېونی دئ که هوښیاردئ
خپله ژبه جـــوړوي په ډېره سعیه
که مسکن یې پرغـــزني یا ننګرهاردئ
موږېراته نن د سره غـــره پر دامانه یو
لوی کومك د انجـــمن راباندي باردئ

که هرخـــولېونی ګرځم ګوښي ګوښي
د پښتوپـــرنام وننګ مي سراظهاردئ
بل مـــومند وزیرصاحب محمدګل دئ
هم رئیس زمور د وطن د قندهـــاردئ
رب دي دوی لري پـــه دین دنیانېکنامه
همېشه مـــو آزادي لیل ونهاردئ
غمخوري د خپل ملت کوي د زره نـــه
دا احوال و پښتنو تـــــه اشتهاردئ
پښتانه دي نن نازېږي پـــــه دې کار
چي انجمن ( ۱ ) ادبي زمـــور په کاردئ
خپله ژبه موچلېږي په عـــــالم کي
دادهـــــــر پښتون د پاره افتخاردئ
هرملت پخپله ژبـــــــه ږغبده کي
که عرب دي که ترکان دي که زنګباردئ
لېونی « فدوي » په دې ډېر افتخارکا
که څه هم په لېونیوکي شماردئ ( ۲ )

***

( ۱ ) « انجمن » کلمه باید دلته دوي څپې ولوستل سي

( ۲ ) هیوادمل ـ زلمی ـ بېدیاني ګلونه ـ ۶۰ ـ ۶۳ مخونه ـ پښتو ټولنه ـ ۱۳۶۲ ش . باید وویل سي . چي « فدوي » د جانان هوتك تخلص و او دلته حنیفیا خان له نوموړي جانان سره دنسبي اشتراك له مخي دخان لپاره ټاکلی دئ .

## شینواری خان هوتك

دحنیفیاخان هوتك زوی او دسیف الله خان هوتك لمسی و . پلار یې دپښتو ژبې شاعر تېرسوی او ده هم له شعر و ادب سره مینه درلوده او پخپل کور کې د پښتو ثایابه قلمي نسخې غونډې کړي وې . په دغو نسخو کي دعبدالغفارهوتك پښتو کلیات او دکورنی تاریخ دېر غنیمت آثارهم شامل وو . دغه کتابتون په ۱۳۵۵ ش کال ښاغلي سرمحقق زلمي هیوادمل او ښاغلي حبیب الله رفیع کتلی او ځیني نسخې یې ترې اخیستي وې . دعبدالغفار هوتك پر دغو آثارو باندې واردواره پوهاند عبدالشکوررشاد په « تاریخي پلټني » نومي اثر کي یوه مفصله مقاله کښلې ده او وروسته بیا ښاغلي رفیع یې د تاریخ برخه د « هوتکنامې » په نامه په ۱۳۷۹ ش کال خپره کړه . زه ( م .هوتك ) اوس ( ۲۰۰۴ ع کال دفبروری میاشت ) خبر نه یم ، چي شینواری خان ژوندي دي که یا ؟

********

******

****

***

**

*

*

*

# دذاکرشریف حضرات

## محمد کریم هوتک

محمد کریم د سیف الله خان هوتک زوی او د حنیفیا خان هوتک وررور دئ . دادوه وروڼه د پښتو شاعران تېر سوي دي . د حنیفیا خان هوتک په باب مو وراندي لږ وډېر څه ولوستل . د محمد کریم هوتک په باب معلومات هم د هماغو ماخذو له مخي وراندي کېږي . محمد کریم هوتک ۱۳۰۰ ش پوري ژوندی و او د کلات دسیوري په بدین کلي کي اوسېدی . له ده څخه په پښتو ژبه یو مردف دېوان پاته دئ ، چي د ښاغلي رفیع په کتب خانه کي خوندي و( ۱ ) .ویل کېږي چي دېوان یې له عشقي ترانو او د سیر و سلوک دلاري اشعار لري .

********

*******

******

*****

****

***

**

*

*

*

---

( ۱ ) ادبي ستوري ـ ۲ ټوك اودغه راز تتکرهار مجله ـ ۱ ـ ۲ کته ـ ۱۳۵۷ ش

## حضرت میاعبدالحمید هوتک ( رح ) د ذاکرشریف

د ذاکر په نامه یو کلی د کندهار د احمدشاهي ښار د جنوب ختیځ په تقریبا اته کیلومتري کي پروت دئ . د اداري تشکیلاتو له مخي اوس د دامان په اولسوالی اړه لري . پخوایې د ډنډ په اولسوالی اړه درلوده .دغه کلی له پېړیو راهیسي د ارشاد و تلقین مرکزدئ او په بېلابېلو عصرونو کي یې ډېر ستر روحاني شخصیتونه او علماء پخپله غېږ کي روزلي دي . د تبیین الواجبات ( تهذیب الواجبات لتخریب العادات ) څښتن ملا عبدالباقي افغان د لوی احمد شاه بابا ( ۱۱۶۰ ـ ۱۱۸۵ هـ ق ) د وخت یوه کیسه په یوه اوږده شعر کي راوړې ده او د هغې په ترڅ کي د ذاکر ستاینه کوي او وایي :

د ذاکرحضرات گوره تـــــــــر څه حده زاهدان وو ( ۱ )
خمیرې ســــــــــوې ځني پاتـــــه په اوربشې گذران وو
تر نمر زیاتې تجلا وه ډېر عالـــــم په دوی روښان وو ( ۲ )
خوانین یې مېلمانه ســـــــــــوه ماحضر یې دسترخوان وو
چي یې فـــــــخر و پـــــــه فقر اقتباس له هغه ځایه
ذاکررشك دیونان راغی چي یې موندحکمت له خدایه ( ۳ )

---

( ۱ ) دانیم بیتی د تهذیب الواجبات د ۱۴۰۸ هجري قمري کال چاپ ( ۱۴۴ مخ ) کي داسي دئ : « حضرات د ذاکر گوره .... ». ( ۲ ) د ۱۴۰۸ هـ ق په چاپ کي « تجلا یې تر حد تېره .... » او د حاجي جمعه بارکزي ددېوان په سریزه ( ۵ مخ ـ چاپ کابل ـ پښتو ټولنه ـ ۱۳۶۰ ش ) کي « تجلي یې وه بلنده .... » ده . ( ۳ ) دغه مطلب ما ( هوتك ) د ارواښاد شهید عبدالاحد خان کرزي په وېرنه کي داسي اخیستی دئ :

په جنوب د کندهار کي پـه جلگوکي د باغونو
کرز مرکز د دانسته وو. ذاکر رشك و د یونان

د دېوان څښتن شاعرحاجي جمعه بارکزی دخپل مرشد میاعبدالکریم صاحبزاده دستاینې په ترڅ کې دذاکرشریف یادونه داسې کوي :

کنوزددین چې خدای پیداکړل دذاکرپه ملك کې
دېرمفلسان له دغه گنجه سول غنیان صاحبه ( ۱ )

په ذاکر کې دارشاد دوې مشهورې کورنۍ اوسې . د یوې کورنۍ مشر نیکه حاجي ممرېزنومېدی، چې په حاجي نیکه سره یې شهرت لاره اوپه قوم پوپلزی و . د دوهمې کورنۍ د سر سړی زموږ تر بحث لاندې حضرت میاعبدالحمید هوتك ( رح ) دئ . میا صاحب د خپل وخت ډېر متقي اودخوارقوڅښتن روحاني تېر سوی دئ او د لوی احمد شاه بابا ( ۱۱۶۰ ــــ ۱۱۸۵ ق ) معاصر و .دده له مخلصانوڅخه یوتن میرزامحمد جان متخلص په « مجرم »( ۲ ) یې د « شیخ کبارصاحب اسرار سردفترابرارعالی تبارحلقه دارذات العز والوقار پیر بزرگوار ارشد زمان خلیفهٔ دوران خانهٔ امن وامان مظهر الجود والاحسان هادی دین والبرهان کمال شریعت جمال طریقت منتهی الحقیقت متوصل حال معرفت عین الیقین اعلم وافهم شرع مبین بالقال والحال فنافی الله سیر فی الله سیرمع الله علی القبول فنا فی الرسول مفتی الفروع والاصول کوکب پاسبان ملت ودین و شرع امین و وارث انبیاء الله مطیع الله و ولی الله یعنی پیررشید رهبرمرید میان عبدالحمید هوتکی عمرزایی ازساکنین قریهٔ ذاکر ....» په درنوالقابویادوي ( ۳ ) . میاصاحب په طریقت کې د کاکړمیا

---

( ۱ ) دحاجي جمعه بارکزي دېوان ــ ۱۰۱ مخ ــ کابل ــ ۱۳۶۰ ش

( ۲ ) دده په باب به وروسته وږغېږم .

( ۳ ) مخمس توتیه ( خطي ) د لیکونکي د کتابتون .

عبدالحکیم صاحب قدس الله سرهم الاقدس مرید او وروسته یې خلیفه و. روحاني روزنه یې له وړوکتوبه د همدغه میاعبدالحکیم صاحب پر لاس سوې وه . وایي چې نوموړی میاصاحب یې د روزنې لپاره پخپله ذاکرته تشریف وړی و. میاعبدالحمید صاحب له میافقیرالله جلال ابادي ثم الشکارپوري (رح) سره مکاتبه لرله او وایي د ښځمنو په مریدولو کې یې هغه ته قناعت ورکړی و.

د میاصاحب لیکلي اثار ماته نه دي معلوم خو ویل کیږي چې په تصوف کې یې ځیني ناچاپه رسالې له کورنۍ سره سته (۱) .

د میا عبدالحمید صاحب پر دربار دومره خاص و عام راغونډ وو ، چې ځینو لنډ فکرو کسانو لوی احمدشاه بابا ته د میاصاحب د رټلو او له ذاکرځخه د ایستلو مشوره ورکړې وه . لوی احمدشاه بابا ، چې پخپله هم د برخې څښتن اودوربین پاچا واو له بلې خوا ورته د هوتك شاه حسین په لاس دکندهارله زاړه ښارڅخه دکاکړ میاعبدالحکیم صاحب د ایستلو له بابته د راولاړي سوي ناراضی ترخه تجربه ورمعلومه وه،درباري غوړه مالانوته دمیاعبدالحمید صاحب د روحاني منزلت د روښانولو لپاره مشوره ورکړه او هغوی ته یې سپارښتنه وکړه ، چې ددغه کار لپاره ذاکرشریف ته ورسي . بابا غوښتل ، چې په دې وسیله د میا عبدالحمید صاحب قدر و منزلت ته هم صدمه ونه رسیږي اود درباري غوړه مالو له جنجاله هم ځان خلاص کړي . ویل کیږي ، چې هغوی ذاکر ته ولاړل ، هر یوه په زړه کې یوه غوښتنه جوړه کړه او له خپل بل ملګري یې پټه

---

(۱) خلمی ـ محمد ولی ـ دکندهارکشاهیر ـ ۱۸۴ مخ ـ دوهم چاپ .

وساتله .وايي مياصاحب ددوی له پوښتلوپرته ددوی غوښتنه ترسره کړه . بيايې له مياصاحبه يې د خوارقو د ښوولوغوښتنه وکړه او د ژمي په سره ځيلمه کي يې د توت له ونې څخه تازه مېوه ترې وغوښتل . وايي دا کار سرته ورسېد (۱). د مياصاحب د کورنۍ مخلص او ارادتمند ميرزا محمد جان «مجرم» دغه مطلب په پارسي ژبه په يوه اوږده مخمس کي ويلی دئ،چي دلته يې راوړل له ګټې خالي نه دي.

### مخمس توتيه

چونکه مهجورازوطن شدپيرکامل کاکری (۲)
درفـــــراقش ريشه کن گشته درختان بری
سه خليفه ماند نــــورين (۳) وحميد ذاکری
گفت نورنـــــــورزی بيزارم ازچشم سری
کورگـــــردم بهتراست اين نيست کارسرسری
چونکه چشم نورزايی کـــــورديدعبدالحکيم
شفقت استاد شــــــد گفت ای خداوندکريم
چشم دل بکشابه نــــــورم توزالطاف عميم

---

(۱) دغه راز ورته پېښه عبدالغفار هوتك شيخ حميد عمرزي ته منسوبه کړې ده . دی وايي :

چي بې وچه ونه شنه کړه ــ شيخ حميد عمر زيي ده

(وګورئ د تاريخي پلټني په نامه د مقالو مجموعه ــ د پوهاند رشاد صاحب مقاله ــ ۱۳۷ مخ)

زما په ګومان دنامه او قوم ورته والي دغه التباس پيښ کړی دئ .

(۲) مراد يې د شاه حسين هوتك د وخت مياعبدالحکيم کاکړ مشهور په ناناصاحب دئ .

(۳) له «نورين» څخه مطلب ميانورمحمد نورزی (دمناري مياصاحب) او ميانورمحمد داوی (د پوټي مياصاحب مشهوربه اخوندصاحب) دئ.

دادحـــــق چشم دلش میدید مانند قدیم
باطنش پرنـــــورشد بگذارکارظاهری ( ۱ )
نقل شاه غلجایی بشنوکه چـــون بربادشد
ملك ابدالی بخاك شـــــــــهراوآبادشد
غیرت پیرست بیشك یادکـــــردم یادشد
بخت او برگشت و برتختش دگـــرداماد شد
شاه حسینی رفت ورفت وعصرآمدنادری ( ۲ )
نادری هم رفت وبخت احمدی کیوان گرفت
تخت وبخت نادری را احـــمددران گرفت
ازخراسان تابسند و هند آن جـــانان گرفت
سکه درکشمیر زد ودرکابلـــستان کشوری
نقل احـــمدشاه شنیدی بشنوازعبدالحمید
درترقی شدبعصر احـــــمد آن پیررشید
دردل شاه وسوسه انـــداخت ازگفت وشنید
شد هزاران درهـــــزاران پیرکامل رامرید
گفت میگیرد زتو عبدالحمید این سروری
گفت احمد ایـــن قلندر مقتدای دین بود
ازحکیم کاکـــــری آن صاحب تلقین بود
جای آن والاگـــــهر بالاتر از پروین بود

---

( ۱ ) وايي چي له کندهاره دمیاعبدالحکیم قدس سره دوتلوپه وخت کي دمناري دمیاصاحب میا نور محمدنورزي سترکي له ډېرواوښکو وچي سوې او دیدېې له لاسه ورکړ. دلته دغې پېښې ته اشاره ده .
( ۲ ) په دغه بند کي دکندهار له ښاره د شاه حسین هوتك په امردمیاعبدالحکیم کاکړ د ایستلو پېښي اوپرکندهارباندي دافشارنادرواکمنی ته اشاره ده . دغه پېښه د شاه حسین په برخه کي ولولئ .

میشوم آخرپشیمان ترســـــم ازنفرین بود
زور درویشان ندارم گـــرچه دارم سروری
هرزه گـــویان عرض کردند بازنزدپادشاه
دست بـــرسرمیزدند گفتند ایصاحب پناه
شد مـــــرید ذاکری اهل رعیت هم سپاه
رهزنان آخـــــربرون بردند سلطانرا ز راه
گفت سلطان بی بهانه کَی شود این یاوری
مصلحت آخــــرچنین شدفاضلان قندهار
سه بزرگان شمله داران ســــه نفرعالیمدار
دادآخراین سخن رادرکـــــــراماتش قرار
در زمستان توت میخواهم بـــمانند بهار
این پسندشاه شدگفتاخوشست این یاوری
فاضلان هریك بدل نقش خیالی بسته کرد
رازدل را هـــریکی ازدیگری سربسته کرد
این خیال خـــام ایشان ذاکری دانسته کرد
غنچه های قلب ایشانراچوگلهادسته کرد
انچه خواهش بود شانراحاضرآمد حاضری ( ۱ )
داد حرمت فاضلانرا بعد ازان فرمان بداد
آمدن نزدفقیراز چیست ؟ گفت ای نیکزاد
بیم داردشاه دران دردلش بـــــاشدمراد

( ۱ ) دغي پېښي ته ملاعبدالباقي افغان ضمني اشاره کړې وه لوتاسي به ۸۲ مخ کي ولوستله . له «خوانین بي مېلمانه سوه ماحضري دسترخوان و » څخه مراد همدا واقعه ده .



ACKU

یابکن هجرت ازینجا یا کـرامت در رشاد
گفت میخواهدبه چله توت و برگ اخضری
گفت آن جانـــانهٔ مستانهٔ درگاه حق
امت خیرالبشر باشم قمر را شـــد دوشق
این کرامت حق بــوداز معجزش دارم سبق
غیرت آمد ، جذبش آمد بررخش آمد عرق
سر بزانـــوی تفکرکرد در خلوتگری
ازبـــخارستان دل یك شعلهٔ اظهارکرد
نخل خواب آلوده راچـون خفتهٔ بیدارکرد
ازحرارت در زمستان سبزگشت و بـارکرد
گفت امنا صدقنا این ســخن تکرارکرد
نوش کرد آن تــوت حق را بهترازشکرتری
آنکه دردلهای مرده ذکر را جــاری کند
میتواند این درخت خــشك راباری کند
کوه راچـون آب سازد گـرخدا یاری کند
قیمت تــوت فقیران تاج زرکاری کند
مثل کوه طور سیناســوخت نخل دلبری
توت پرشهد کــرامت رابنقد جان خرید
تاج خود راداد احمد لیك تـوت ارزان خرید
سایهٔ سررافداکرد و بخود ســامان خرید
دیده و دانسته احمد بــهراطمینان خرید
گـــرچه شکاکان ندانستندازکوروکری

شاه دران در زمستان دید فـــصل نوبهار
تابایـــندم فیض باران است درآن لاله زار
شیرازشیرمحمد از پدر شـــد یادگار
نوراز نورمحمد صاحب عـز و وقار(۱)
تابایندم میزنـــــد طبل‌طریقت برتری
چونکه توت وقت رادروقت درمحفل کشید
شهدعـرفان بـود هرکس لذتشرا میچشید
شاه دران چون بـعصرخویش آن جانانه دید
ازتفاخــــــرتاج او برگنبد خضرا رسـید
اهل دولت جــــمله نازیدند ازنیك اختری
توت رادیدند و نوشیدند و پر بـــاورشدند
در میان بوتهٔ زرگــــــرفتادند زر شدند
سرکشی ازسرنهادند خــــادم وچاکرشدند
خاکپایش بوسه هــــادادند باچشم تری
کاردرویشان نه آســـانست ازوی کن حذر
هفت گـــــردون رابسوزاند بیك آه سحر
زور درویشان ندانی بند کـــوژك رانگر
ازبرای پیرکامـــــل کوه وهامون درسفر
شهرهــا ویرانه شد شاهی چه شدکوسروری
سلطنت در قبضهٔ او بـــود سلطانی چه شد

---

(۱) میاشیرمحمدصاحب دحضرت میاعبدالحمید (رح) زوی ئومیانر محمد صاحب یې لمسی و دمیانورمحمد صاحب پلار میادوست محمد صاحب نومبدی .

قصر وقیطولش کجاشد تـاج کیوانی چه شد
شهرمروارید بدست کیست سامـــانی چه شد
حسرت وافسوس و تشویش وپشیمانی چه شد
بـِـود تقدیرخدا لیکن سبب شد کاکری ( ۱ )
آن حمید باهـــــــنر آن نایب شیخ کبار
حلم کرد و صبرکـــــرد و آن درخت باردار
کاظمین الغیظ را باخـــویش گردانیدیار
تازحلمش بهره ورگردید اهــــل آن دیار
ورنه تخت وبخت احمد میشدی خاکستری
دودمان حضرت ذاکرتمامی گـــــوهرند
کوکب دینند وهـــریك درطریقت رهبرند
نیست حاجت دربیانش زافتاب هم اظهرند
پیر و برنایش تـــمامی صیقلند و جوهرند
زانکه دین احـــمدی رامیکند روشنگری
( الخ )

دامخمس ډېر اوږد دئ او زه به يې ببلابېلي برخي پخپلو خپلو لازمو ځايو كي رانقل كړم .

---

( ۱ ) دکندهارپه عوامو کي داخبره اوس لاهم له خولو نه ده لوېدلې . چي وايي له زاړه ښار څخه د لوی میاصاحب میا عبدالحکیم کاکړ ایستلو پر وخت وني او ربګونه هم ورسره په حرکت کي سول . د شاه حسين هوتك د پاچهی نسکورېدل دهغي ښرا نتيجه کڼي . چي لوی میاصاحب ورته کړې وه . يوه محلي شاعر ويلي و . چي :

میاصاحب چي وایست شاه حسين له دې ښاره غرقي پاچـــــــهي سوه دپيرانو له ګفتاره

دلته ودغو انګېرنو ته اشاره سوې ده . د « شهر مروارید » نوم ماته ډېره نوي خبره ښکاره سوه . دا به غالبا د کندهار د زاړه ښار یا د « نارنج » مانی بل نوم وي ؟

د میاعبدالحمید هوتك په مریدانوکي لوی عارف او سالك د پښتودېوان څښتن ملا عبدالنبی بیټنی مشهورشخصیت تېرسوی دئ .دغه رازد ذاکرشریف میاګل بابا ، چي یو بزرګوار اومتقي سالك و ، دده لاس نیوی کړی و .بل مرید یې دامالي قصیدې پښتوژباړونکی عبدالرحمن زینداوری دئ . دی دامالي قصیدې دځپلي پښتوترجمې په سرکي وایي :

زمانوم عبدالرحمن د زینداور یم
دامنګیردمعظم پیردذاکریم ( ۱ )

دمیاعبدالحمید صاحب د مړیني دقیقه نېټه ماته ځرګنده نه ده . عزیزالدین وکیلي په دره الزمان نومي اثر کي دلوی احمدشاه بابادلمسي زمانشاه دوخت دعلماوو په لړکي دمیاعبدالحمیداودهغه دزوی ملاجان محمد نومونه راوړي دي ، چي په دې ډول نود میاعبدالحمید هوتك ژوند د سدوزي زمانشاه ( ۱۲۰۷ ... ۱۲۱۶ ق ) د پاچهۍ تر وخته رسیږي . ددغه روایت ملاتړیه تاریخ سلطاني ( ۱۶۵ مخ ) کي هم موندل کېږي . هورې لولو چي دشاه زمان اوشاه محمودسدوزي دلښکروترمنځ دخاك چوپان ترجګړې وروسته چي دشاه محموددلښکرومخکښ محمدعظیم خان الکوزی کندهارته وتښتېد ، سیده ذاکرته ولاړاودمیاعبدالحمیدصاحب کورته یې پناه وروړه اودهغه په شفاعت دشاه زمان له خوا وبخښل سو .( ۲ )

---

( ۱ ) زېری جریده ـ ۱۳۶۵ ش کال ـ ۴۵ ګڼه ـ ۳ مخ ـ د م . معصوم هوتك مقاله

( ۲ ) محمدعظیم خان الکوزی دمیرهزارخان الکوزي زوی و . د میر هزارخان په نامه یوه کوڅه داوسني کندهاریه دوهمه ناحیه کي سته .

امیر شیرعلیخان چي د لومړي وارپاچهي پر وخت کندهار ته تللی و، د نوموړي میا عبدالحمید صاحب زیارت ته د دوعـــــا کولو او مراد اخیستلوپه نیت ذاکر شریف ته تللی اوورځ یې هورې تېره کړې وه . دغه مطلب نورمحمد نوري داسې راوړی دی ، چي

امیر « درایام توقف ( درقندهار ـ م . هـ ) ادراك زیارت مرقد منور مشهد معطر قدوة ارباب یقین و عرفان و زبدة اصحاب معرفت وایقان حضرت ملا عبدالحمید اخند قدس سره ... را سبب حصول مقاصد دنیوی و واسطهٔ ایفای مارب دیني شناخته به آن قصد عنان توجه بصوب ذاکر برتافت و عزیمت زیارت آن بزرگان را وجه همت عالی نهمت ساخته و از صدق ارادت و صفای عقیدت مراسم زیارت به تقدیم رسانیده زر کثیر را از وجهی که تصدق را شاید بر ارباب استحقاق مجاور این مزار فیض آثار مصرف فرمود ونماز شام ازآنجا معاودت فرمود . . . . »(۱) .

د میاعبدالحمیدصاحب (رح) څلور زامن پاته سول : میا جان محمد صاحب ، میادوست محمد صاحب ، میا شیرمحمد صاحب او میامصطفی صاحب .

*****

****

**

*

---

(۱) نوري ـ نورمحمد ـ گلشن امارت ـ ۱۴۲ مخ

## میاجان محمد صاحب ( دذاکرشریف )

میاجان محمد صاحب دحضرت میاعبدالحمید صاحب (رح) زوی و. عزیزالدین وکیلي یې دشاه زمان سدوزي دعصرپه علماوو کي نوم راوړی دئ (۱). میرزاحنان بارکزي یې فانی فی الله بولي او وایي، چي دده له درگاه څخه څوك نامېنده نه وتل .دوفات تاریخي ماده داسي ویلې ده :

چي ولي ود خــپل وخت فاني فی الله
ناامیده یې څـــــوك نه تله له درگاه
یوهوښیاریې په وفات کښي دغه ووې
داتاریـــــخ میاجان محمد رضی الله

په دې تاریخي قطعه کي « میاجان محمد رضی الله » تاریخي ماده ده، چي ابجدي ارزښت یې ۱۲۷۳ کېږي . میاجان محمد صاحب په ۱۲۷۳ هـ ق کي وفات سوی دئ.داکال د امیر دوست محمد خان دپاچهی څلرم کال دئ .دغه تاریخي قطعه ماد میرزا حنان بارکزي ددېوان له یوې خطي نسخې څخه ( دحمدالله صحاف دکلکسیون ) واخیستله . دکوټي بلوچستان چاپ دېوان کي هم دغه قطعه سته . هورې یې عنوان « درتاریخ ملاجان محمداخوند » دئ اودتاریخي مادې ابجدي ارزښت یې په عدد ۱۲۷۲ لیکلی دئ، چي یوکال کم دئ. ښایي په « رضی الله » کي یې د ( الف ) قیمت نه وي محاسبه کړی .دده په باب نور معلومات نلرم .

---

( ۱ ) وکیلي ـ عزیزالدین ـ دره الزمان ـ ۴۱۰ مخ ـ ۱۳۳۷ ش ـ کابل

## میانورمحمد صاحبزاده هوتك ( د ذاکرشریف )

میانورمحمد صاحبزاده د میادوست محمد زوی اودحضرت میاعبدالحمید هوتك (رح) لمسی و ، چي دخپل نیکه پر سجاده ناست و اود کندهار په ذاکر کي یې د ارشاد و تلقین هنګامه توده ساتلې وه. دده د ژوند دحالاتو په باب په تفصیل سره چا څه نه دي کښلي اویابه زه نه یم پر پېښ سوی .د « کندهار مشاهیر » ښاغلی مولف یې دومره قدر یادونه کوي ، چي د میا عبدالحمید هوتك پرځای وروسته میانورمحمد صاحب کښېنستلی دئ( ۱ ) . وایي چي میانورمحمد صاحب دخپل وخت ډېر زبده عالم و. میرزامحمد جان « مجرم » یې د ذاکر شریف د هوتکو د کورنۍ دمعرفۍ په ترڅ کي دده یادونه پخپل هغه مخمس کي په ډېرو درنو الفاظو کړې ده، چي وراندي مو د میاعبدالحمید صاحب (رح) په بیان کي ښه ډېره برخه څني رااخیستې وه ،دی دذاکر شریف داهمیت د بیانولوپه لړکي دمیانورمحمد صاحب یادونه کوي او وایي :

کورهٔ گرم است ذاکر پخته سازد خام را
مخزن علم است ذاکرعلم بخشد عام را
معدن نوراست ذاکرصبح بخشد شام را
پرحلاوت گشته ذاکرشهدبخشد کام را
میشوددل ازنګاهش چون طلای احمری

---

( ۱ ) د کندهار مشاهیر ـ ۱۸۴ مخ ـ دوهم چاپ . ددې کرښو د لیکلو پر وخت ماته داسې اندېښنه پیدا سوه . نه چي زموږ د بحث ور میانورمحمد صاحب او د مناري میا نورمحمد نورزی یو سړی نه وي .وروسته څرګنده سوه . چي ددې د ژوندزماني ترمنځ ښه ډېر واټن سته . میانورمحمد صاحب نورزی په ۱۱۷۲ ق کي او میا نورمحمد صاحبزاده هوتك په ۱۲۸۷ ق کي وفات سوی دئ .

مهرهٔ ذکـــرخفی زنگ ازدل وجان مي برد
هرکه در ذاکر درآید بـــوی ریحان می برد
سینه گرآیینه باشـد عکس جانان می برد
مخلصان این نقد را ازکان عرفان می برد
جد و جـــهد ذاکری نبود بجز فرمانبری
میکنم زین حـــرفهاکلك زبان راامتحان
تانویسم شـــمهٔ ازوصف آن قدسی مکان
بوستان نظم خود خوشبوکنم چون زعفران
زانکه میبالدسخن برخودزمدحش هرزمان
درگلستان مداحت می زنـــم بال و پری
از وقارش گر بگویم شمهٔ گـــردد عیان
ذاکر از نورمحمدگشته مثل شمـــعدان
گشته تیغ آفتاب ازعکس گلـــهازرفشان
تاجهان یکسرشده چون بـــوستان جعفری
علم او چون بحرقلزم سینه چـــون گنج گهر
فرق فرقدساش ازبالین راحـــت منتفر
چشم بیدارش نخوابیدست در وقت سحر
زانکه دارد در تـــصرف قبضهٔ نیلوفری
دومناره نور دارد هـردومشهور آمده (۱)

---

(۱) د مخمس دغهبند زما هغه اتکل را پیاوړی کوي . چي دغه دوه میا نورمحمده دوه سره بېل کسان دي . له دوو منارو خخه یوه د میاصاحب مناره او بله د ذاکر مناره ده . د ذاکر مناره له ډېر پخوا خخه ورانه سوې وه . خود میانورمحمد نورزي د زیارت مناره له روسانو سره دجهادپه دوران کي چپه سوه .

نسبت بسیاردارد نور بـــــــر نورآمده
از ضیاء نـــــور ذاکر عقل معذورآمده
گرفـــــراهی نورزی شد از ره دورآمده
حق این نسبت بجاکن یك نظر کن انوری

......

له دې بیتو څخه د میا نورمحمد صاحبزاده هوتك علمي و روحاني منزلت او دغه راز د ذاکرشریف اهمیت ښه ترا څرگندیږي .
د میانورمحمد صاحبزاده هوتك د شهرت زمانه د امیرشیرعلیخان د پاچهی وخت دئ . امیر چي کله کندهار ته تللی و له نوموړي میان نورمحمد صاحب سره د کتلو او د ذاکر د اولیاوو د زیارت کولو په نیت ذاکر شریف ته ورغلی و . په گلشن امارت کي دغه پېښه بیان سوې ده او میا نورمحمد صاحب یې د « کاشف اسرارالهي مهبط فیوضات نامتناهی لاریبی پیرطریقت هادی سبیل حقیقت سالك مسالك صراط المستقیم احمد مختار میان نورمحمد صاحبزاده بهر برهانه » په درنوالقابو یاد کړی دئ ( ۱ ) .
د میانورمحمد صاحب ( رح ) مړینه هم د امیرشیرعلیخان د پاچهی پر وخت د ۱۲۸۷ ق کال د روژې دمیاشتې پر اوومه ، جمعې په شپه پېښه ده . میرزامحمدجان « مجرم » یې په پارسي ژبه مرثیه ویلې اود وفات تاریخي ماده داسي بیان کړې ده :

رهبرحـــــق طلبان شیخ اجل مظهرجود
که بحق بـــوده دلیل و بحقیقت مسعود

( ۱ ) نوري ــ نورمحمد ــ گلشن امارت ــ ۱۴۲ مخ

چشمهٔ صدق و صـــفامجمع فیضان الله
معدن فقروفنامرشد ارباب شـــهود
شیوهٔ راستی اوکه بحق بـــوده ز حد
راست گویم صفتش گشته زحدنامعدود
ازجبینش اثر نـــــور مبین بعیان
لطف پنهان همه ازفیض وفورش بشهود
شبلی عصر( ۱ )شناسای مــقام توحید
سالکان یافته از فیض وفـــورش بهبود
آنکه اسمش بـــوده با نورمحمد مشهور
جای او ذاکر وکارش هـــمه ذکرمعبود
خبرارجعی از داعی حق چـــون بشنید
مرغ روحش بسوی اوج بـــقابال بکشود
درشب هفت زماه رمـــضان یوم خمیس
رحلت از دار فـــنادر ره عقبی بنمود
رحلتش درشب آدینه زماه قـــــرآن
شده برهان کرامت که بـــعالم بنمود
خواست مجرم ز خرد سال وفاتش تاریخ
فیض عامش برخش این درمغلق بکشود

---

( ۱ ) دشیخ ابوبکرشبلي ( ر ح ) په نامه یوکامل ولي ددریمي هجري پیړی په پای کي ژوندی و او د بغداد په سامره کي اوسېدی .دغه رازدهندوستان یو وتلی او نومیالی عالم هم مولانا شبلي نعماني علیه الرحمه ( ۱۳۳۲ هـ ق مړ ) نومېدی . دغه فاضل د میا نورمحمدصاحبزاده معاصردئ . نه پوهېږم چي دشاعرمرادبه کوم یووي ؟

گفت وغفر الف افـــزون کن و تاریخ بگو
تاشودسال وفاتش بتوآســــــــان مشهود
ثمر نخل کــــــــرامت همگی اولادش
سنگ فــارس نظرش کشته بمهیای وجود (۱)

په دې مرثیه کې تاریخي ماده « وغفر » ده ، چې ابجدي ارزښت یې ۱۲۸۶ کېږي . پر دغه عدد چې الف = ۱ زیات سي ۱۲۸۷ کېږي اودا په قمري حساب د میانورمحمد صاحبزادهٔ هوتك د مړیني کال دئ ، چې د امیرشیرعلیخان د دوهم وار پاچهی دریم کال کېږي .

**********
*********
********
*******
******
*****
****
***
**
*
*

---

(۱) مجرم ـ میرزامحمدجان ـ شجرهٔ متبرکهٔ تونیه محتوی بر قصهٔ توت ... ـ خطی ـ ۲۳ ـ ۲۶ مخونه ـ د لیکونکي کتابتون

## میا شیرمحمد هوتك ( د ذاکرشریف )

میاشیرمحمد هوتك دحضرت میاعبدالحمید هوتك دریم زوی و ، چي د ژوند زمانه یې د سدوزي پاچهانو ( تیمورشاه او زمانشاه ) وختونه وو . دی دذاکر شریف د صاحبزاده گانو « سرحلقه » بلل کېدئ او خورا ډېر مریدان او مخلصان یې درلودل . د کندهار مشهور عالم ملا علم اخوند ، چي دده په نامه د داحمدشاهي کندهار په شمال ختیځ کي یو کلی هم سته او اوس دښار په پنځمه ناحیه کي راځي ، د نوموړي میاشیرمحمد هوتك له خلیفه گانو څخه و( ۱ ) .ملاعلم اخوند دړوب له کاکړانو څخه و او دکندهار په ښار کي دتدریس او ارشاد چاري پرمخ بېولې . مړینه یې په ۱۲۶۹ ق کي د زړتابه په سن کي ښوول سوې ده ( ۲ ).

دمرحوم حاجي عبدالمجید هوتك له خولې مي اورېدلي دي ، چي میاشیرمحمد هوتك په تصوف کي یو کتاب د « زادالسالکین » په نامه په ۱۲۷۱ ق کي کښلی و .که د زادالسالکین دلیکني په باب دمرحوم حاجي صاحب خبري ته غاړه کښېږدو، نود میا شیر محمد صاحب( رح ) دژوندزمانه دوه کاله نوره هم اوږدېږي .

***

**

*

---

( ۱ ) د مرحوم حاجي عبدالمجید یادانبت ـ دغه رازدکندهار مشاهیر ـ ۲۳۲ مخ .

( ۲ ) دتفصیل لپاره وګورئ : احمدشاهي کندهار ـ دلیکونکي اثر ـ ۹۴ مخ ـ ۱۳۷۵ ش ـ تورنتو ـ کاناډا.

## عبدالباقی صاحبزاده هوتك ( د ذاکرشریف )

د کندهار په ذاکر شریف کي د میا عبدالحمید صاحب ( رح ) پر گدی ناست و او د نقشبندیه طریقې له سرحلقه وو څخه گڼل کېدی . دذاکر شریف په صاحبزاده گانو کي د ډېر درانه مقام څښتن و . میاعبدالباقي صاحبزاده د میاالهداد صاحبزاده زوی ، د میانورمحمد صاحب لمسی ، د میادوست محمد صاحب کړوسی اود حضرت میاعبدالحمید صاحب کوسی و .د زېږېدلو نېټه يې راته معلومه نه ده خو وفات يې په ۱۳۰۳ ش کال د لېندۍ پر څلرمه د چارشنبې په ورځ پېښ سو ئ . د کندهار دطلوع‌افغان اخبار دده د وفات د خبر د نشرولو په ترڅ کي د « حضرت اجل جناب مستطاب ، قدوه السالکین ، زبده العارفین ، صاحب الفضل والکمالات ، مالِك خرق و الکرامات ، عالم بینظیر ، کامل روشن ضمیر ... سرحلقة سالکان مسلك نقشبندی » په درنو القابونومولی و( ۱ ) .

د میاعبدالباقي صاحب دوه زامن ماته معلوم دي ، چي یو عبدالودود اغا ( مشهورپه توراغا ) او بل يې الحاج عبدالطیف صاحبزاده و . د توراغا پا باب به ورروسته ورغېږو . الحاج عبدالطیف صاحبزاده ما ( م. هوتك ) لیدلی و .ماته په وړکینه کي د ژبي دلکنت ناروغي پېښه سوه، چي تر ډېره وخته راسره وه . پلار مرحوم مي ذاکر شریف ته همدغه الحاج عبدالطیف صاحبزاده

---

( ۱ ) هوتك ـ محمدمعصوم ـ درنه کورنی ـ ۶۴ مخ



ACKU

ته د دم لېاره وروستلی وم ( د ۱۳۳۰ ش حدود ).عبدالطیف صاحبزاده په دغه وخت کي دسترگو دید له لاسه ورکړی و او څوك یې نه لیدل خو د زړه سترگي یې بینا وې .په محضرکي یې ډېرخلك حاضروو. زه یې پرتنندي مچ کړم اودمهربانی لاس یې پرسرراتېرکړ.ډېره یې په دغه وخت کي سپینه وه . دڅېرې نورمشخصات مي په ذهن کي پاته نه دي ځکه دغه وخت زمادوړکتوب زمانه وه .

*************

************

***********

**********

*********

********

*******

******

*****

****

***

**

*

*

*

## خیرالدین صاحبزاده هوتك ( د ذاکرشریف )

خیرالدین صاحبزاده هوتك دمیاسلطان محمد صاحب زوی د میاتاج محمدصاحب لمسی دمیاجان محمدصاحب کړوسی او د حضرت میاعبدالحمید صاحب رحمه الله علیه کوسی و. اروابناد مولوي صالح محمدهوتك د ذاکر شریف له « سپین ږیرو او معتبرو صاحبزاده گانو څخه »بللی دئ . خیرالدین صاحبزاده د بیت الله شریف په زیارت مشرف سوی و . په کورنۍ کي یې دا خبره مشهوره ده ، چي میاخیرالدین صاحب په سلگونوخلیفه گان درلودل .دکندهارمشهور روحاني محمد عمر جان صاحبزاده کیشاني توخی د همدغه حاجي خیرالدین صاحبزاده هوتك له خلیفه گانوڅخه و( ۱ ) . دخیرالدین صاحبزاده څلور زامن پاته سول . محمدعلي صاحبزاده ، حسام الدین صاحبزاده ، شیخ نظام الدین صاحبزاده اوتورصاحبزاده .دغه شخص له مشهورتوراغا « عبدالودود اغا» پرته بل سړی دئ.

په کندهار کي یوبل خیرالدین صاحبزاده هم تېرسوی دئ چي د کلات دغونډان دمحمدیارصاحب آتش نفس زوی او دعمرجان صاحب کیشاني توخي وروركېدی . دغه خیرالدین صاحبزاده په « خلوتي اغا» سره مشهورو ( ۲ ).

*******

---

( ۱ ) وگورئ : پاشلي ویناوي ــ د مولوي صالح محمد هوتك ــ ۱۱۹ مخ ــ د محمد معصوم هوتك په زیار.

( ۲ ) وگورئ : میرزاعبدالودودهوتك ــ دلیکونکي اثر ــ ۳۹ مخ ــ ۱۳۷۷ ش

## عبدالودود صاحبزاده هوتك ( د ذاکرشریف )

په توراغا مشهور و او د ذاکر دمیاعبدالحمید صاحب ( رح ) له اولادې څخه د مرحوم عبدالباقي صاحبزاده زوی دمیا الهداد صاحب لمسی ، د میانورمحمد صاحب کړوسی ، د میا دوست محمد صاحب کوسی و . میادوست محمد صاحب د حضرت میا عبدالحمید صاحب هوتك دوهم زوی و .عبدالودود صاحبزاده په اماني عصر کي ژوندی و اوداسي ښکاري ، چي ددغه مدنیت پالونکي پاچا له اصلاحي پروګرامونوسره یې مخالفت نه درلود . ده هغه فتوا لاسلیك کړې وه ، چي د غازي امیر امان الله خان په پلوي او د سقاوو زوی حبیب الله کلکاني پرضد د کندهار د علماوو لخوا صادره سوې وه . ( ۱ )

**

*

---

( ۱ ) هوتك ـ محمد معصوم ـ درنه کورنی ـ ۶۴ مخ لمنلیك
غازي امان الله خان په هیوادکي دورور وژني دمخنیوي له امله د۱۳۰۷ ش کال دجدي پر۲۷ مه له پاچهی څخه استعفاوکړه او کندهارته ولاړ . پرځای یې مشر وروړعنایت الله خان پاچا سو. دسقاو زوی حبیب الله کلکاني ارګ کلابندکړاو عنایت الله خان مجبور سو له درو ورځوپاچهي څخه لاس پرسر سي اوپه دوانګریزي الوتکوکي له خپلي کورنی سره له هیواده ووت . کندهارته دامان الله خان له رسېدلوسره سم خلك راغونډسول . خرقه شریفه یې راوایستله ( ۶ حوت ۱۳۰۷ ش ) .دښار او شا وخواکلیوعلماوودسقاودزوی پاچهي ونه منله اودهغه پرضد یې دجګړې فتواورکړه . ددغي فتوا د صدورنېټه دجمعې ورځ دشعبان شپږویشتمه ۱۳۴۷ ق وه . چي دطلوع افغان اخبارداتم کال په اتم مخ کي خپره سوه او اووه ویشت تنوجیدوعلماوو لاسلیك کړې وه . ددغه خوځښت محرك مولوي عبدالواسع کاکړ و . تردغي فتوا وړاندي دامان الله خان په پلوي دپېښوردستروعلماوو یوه فتواهم په پښتوژبه صادره سوې وه .چي دهمدغه اخبارداتم کال په دریمه ګڼه ( فوق العاده ګڼه ) کي خپره سوې وه .

## محمدعلي صاحبزاده هوتك ( د ذاكرشريف )

محمدعلي صاحبزاده د مياخيرالدين صاحب زوى ، د مياسلطان محمد صاحب لمسى، د مياتاج محمدصاحب كړوسى، د مياجان محمد صاحب كوسى اود مياعبدالحميد هوتك ( رح ) كودى و. دى دخپل وخت له بانفوذو كسانو څخه و . په كندهار او كلات كي يې ډېر اقتدار درلود . دامير امان الله خان دپاچهۍ وخت دده د برم و اقتدار زمانه وه اوداسي ښكاري ، چي د دغه پاچا له افكارو او اجرااتو سره يې جوړه نه وه . خوپرهغه فتوابانديي يې لاسليك ستــه ، چي دسقاو د زوى پرخلاف دكندهاردجيدوعلماوو او روحانيونوله خوا ترتيب سوې وه .ددغي فتوا متن دطلوع‌افغان اخبارداتم كال په اتمه گڼه كي درج دئ . د امان الله خان د پاچهۍ ترنسكوريدو وروسته څوميا شتي د كندهاردخرقې شريفي‌تولی له همدغه محمدعلي صاحبزاده سره وه ( ۱ ). د محمدعلي صاحبزاده قبر و هديره اوس د ذاكرشريف دعمومي جلگې پرڅنگ خو، له هغې څخه جلا په يوه بېله احاطه كي واقع ده او پرقبر يې شنخته او گومبته ستـه .د وفات دنېټې او نور ژوند په باب يې ماته اوس دڅه ليكلو امكانات نسته،ځكه له هيواده ليري يم .

د محمدعلي صاحبزاده يوه مېرمن دكندهارښارد ملا گلداد د كوڅې دمشهورحاجي محمد اكبر هوتك ( ۱۲۳۸ ـ ۱۳۱۸ هـ ق )

---

( ۱ ) دمرحوم حاجي عبدالمجيد هوتك يادابنت .

د زوی محمدعارف لور وه ( ۱ ). له دغي مېرمني څخه يې د گل محمد صاحبزاده ، قيام الدين صاحبزاده ، او سيدرحمت ؟ صاحبزاده په نومونوزامن پاته وو اودهغوی اولاده اوس هم دذاکر شريف د هوتکو جلگې تولی له خپلو نورو تربرونوسره يوځای په لاس کي لري .

****************

***************

**************

*************

************

***********

**********

*********

********

*******

******

*****

****

***

*

---

( ۱ ) دحاجي محمداکبرهوتك شپږزامن اودري لوڼي پاته سوي دي . دزامنونومونه يې عبدالطيف . حاجي احمدعلي . حاجي محمدعثمان . غلام محمد . فيض محمد اومحمدعارف وو .

## میرزامحمدجان « مجرم » ( د ذاکرشریف )

د ذاکر د میاعبدالحمید هوتك (رح) دکورنی مخلص دئ اوماته داسي څرګندېږي ، چي ددې کورنی غړی دي هم وي .دی د امیر شیرعلیخان په پاچهي کي ژوندی او دپاخه عمر ښکاري .مجرم د پارسي ژبي ښه شاعر او په مروجو علومو کي د مطالعې څښتن و . زما په شخصي کتابتون کي دده دکلام یوڅوپاڼي ستنه ، چي په هغوکي یو مخمس توتیه ، چي د میاعبدالحمید صاحب او میا نور محمد صاحب په سوانحو کي مي ښه ډېره استفاده څني کړې ده ، د نقشبندیه طریقې یوه منظومه پارسي شجره، چي د میا عبدالحمید صاحب تر کورنی پوري یې رسولې ده او د میانورمحمد صاحبزاده یوه مرثیه خوندي دي .دمیانورمحمد صاحب تر مرثیې وراندي یې دغه عبارت لیکلی دئ « تاریخ وفات مرحوم المغفور المبرورقبله گاهی شیخناومولاناوملجانا ومخدومناغفران پناه جناب میان صاحب میان نورمحمدصاحبزاده قدس الله سره الاقدس.مادهٔ تاریخ ازحروف واغفرمعلوم میشود فافهم ازطبع کمینهٔ فدویان آن استان فیض توامان میرزامحمدجان مجرم تخلص ». په دې عبارت کي د « قبله گاهی » لقب ، چي د پلارلپاره د درناوی ښکارندویي کوي پر دې خبره دلیل کېدلای سي ، چي میرزا محمدجان دي د میانورمحمد صاحبزاده په اولاده کي وي ؟ د (مخمس توتیه ) څخه داسي ښکاري ، چي نوموړی « مجرم » له خپلي کورنی څخه ښه ډېره زمانه لیري پاته سوی دئ . تردې اندازې ، چي مجبورېږي ځان له سره ور وپېژني . داسي لاهم اټکل

کېدلای سي ، چي دامخمس دې په پردېسی کي ویلی وي. دی یو ځای وایي :

کم شناســــاییم لیکن آشنادیرینه ام
ما طلبکارهـــــمان آیینه زان آیینه ام
مازیك بابا و یك مــادر ز صلب دینه ام
میکشاند آن کشش مــارا کجا بیگانه ام
زین مسافت کی شود مقطوع یار و دلبری

« مازیك بابا ویك مادر » یادونه هم پر دې گومان یوبل دلیل دئ ، چي میرزا محمدجان له دغه خاندان سره نسبي اړیکي لري . دی په بل ځای کي دخپل « قبله گاهی » میانورمحمد صاحبزاده په مدح کي له « خاندان » سره خپل اخلاص داسي بیانوي :

گرنمایم وصف قدرش عـــاجز آیم دربیان
ورکنم تعریف تمکینش گـــران گردد زبان
لیك ازبهردل خـــود میکنم چیزی عیان
قدرفهم خـــود بگفتم شمهٔ از گنجدان
زانکه در صندوق پـــر زرهست از آهنگری
لیك این خجلت که درمدحش سخن اندوختم
خواستم در وصف او تا پرزنم پـــر سوختم
مثل خیاطان ناقص یك لـــباسی دوختم
درخور خود یك چراغی بـــهرشاه افروختم
قدکه زیبا بـــود حاجت نیسْت در دیباگری

یادگاری رانوشتم تابـــــماند در جهان
بلکه یك روزش بخواند جمع خاص خاندان
ازدعای خیریاد من کند خـــورد وکلان
درهمانساعت کند یادازغـــریب ناتوان
بلکه این روز بدم گـــردد بدل در بهتری

له دغو قراینو څخه زه د احتیاط په قید داسي نتیجه اخلم ، چي میرزامحمد جان « مجرم »به دذاکرشریف دحضراتودکورنی غړی اوغالبا د میانورمحمدصاحبزاده په اولاده کي وي.

*********

****

## مولوي عبیدالله ذاکري صاحب

ددي کورنی متاخرعالم افقرالوری مولوي عبیدالله ذاکري صاحب دئ ، چي دمیاعبدالحمیدصاحب (رح )دزوی میاجان محمدصاحب دکودي شیخ نظام الدین صاحب زوی کیږي .په صاحبجان صاحبزاده مشهوردئ .نوموړی دجهاد په دوران کي د افغاني علماوو د سر سړی و . دحقیقت په اظهارکي د لهجې په صراحت کي یې ساری نسته .اوس په کوټه بلوچستان کي اوسي . دذاکرشریف دحضراتوپه باب زما سره همدومره یاداښتونه موجود وه.پوهیږم چي خیني کسان به زما له قلمه پاته وي.که خدای (ج ) ژوندراکړی و، دذاکرشریف د حضراتو د دواړو کورنیو ( دمیا عبدالحمید صاحب او حاجي ممریزنیکه ) په باب به یوه جلا رساله لیکم .ومن الله التوفیق .

# دکندهار ښار هوتک

# ملاپیرمحمد هوتك مشهورپه میاجي

ملا پیرمحمد هوتك دهوتكوددورې له مشهورو علمي او مخورو كسانو څخه و. شاه محمود هوتك او شاه اشرف هوتك خپل مرشد باله . د نامه یادونه یې پر پټه خزانه سربېره په جهانكشای نادري ، تاریخ سلطاني او د ډاكترویلم فلور په تاریخ كي ستـه . د پټې خزانې د روایت له مخي نوموړی د ملاسرورو هوتك زوی و. حاجي امان الله هوتك یې دكابل د شاوخوا اوسېدونكی بولي او د « مشهور جنګي سردار امان الله سلطان » خوریی یې ګڼي ( ۱ ) . ملاسرور له میافقیرالله جلال آبادي ثم الشكارپوري څخه استفاضه كړې وه.ملاپیرمحمدله خپله پلاره درس لوستی و او كله چي حاجي میرویس نیكه له صفوي یرغلګرو سره په جګړو بوخت و، ملا پیر محمد په ټولو جنګو كي ورسره ملګری و . د میرویس نیكه تر وفات وروستـه له شامحمود سره همكار و او نوموړي پاچا د اصفهان تر نیولو وروسته هغه ځای ته وروغوښت . په پټه خزانه كي راغلي دي ، چي ملاپیرمحمد په اصفهان كي له روافضو سره مباحثې كړي او هغوی یې پر كړي وو اوپه اصفهان كي ترکي علماوو ورته د « پیرافغان » لقب وركړی و.ده د « افضل الطرایق » او « الفرایض فی ردالروافض » په نامه كتابونه كښلي دي خو پټه خزانه دانه وایي ، چي داكتابونه په كومه ژبه وو .

---

( ۱ ) امان الله هوتك ـ دخپلواكی لمرخرك ـ ۲۹۶ مخ ـ ۱۳۶۸ ش. حاجي امان الله خان مرحوم دا روایت په غالب ګومان له تاریخ سیاح مسیحي ( فارسي ) څخه اخیستی دئ . خوددغه تاریخ په انګلیسي ژباړه ( ۱۷۳ مخ ) كي بیا امان الله سلطان دمیاجي خوریی بللئ سوی دئ .

کورني او بهرني مورخين ليکي ، چي شامحمود هوتک ته په اصفهان کي يو راز دماغي ناروغي پېښه سوې وه او له هغې څخه په ناوړه استفادې سره د محمود د ادارې ځينوافغاني او ايراني مامورينو د صفوي شاهي کورنۍ پرغړو،د اصفهان پر وګړو اوپه دغه ښار کي پر اوسېدونکو بهرنيانو باندي ډېره سخته ورځ راوستلې وه . ډاکټرويلم فلـور په اصفهان کي د هغه وخت د هالينډي کمپنۍ د يادانښتو له مخي ليکي ، چي د محمود داداري ايشک اغاسي باشي محمد نشان نومي له هالينډي کمپنۍ څخه د شلو زرو تومنو غوښتنه کړې وه او د کمپنۍ مسئول ددغو پيسو ورکولو ته تيارنه و . دې پېښي په پارس کي د افغاني دولت او هالينډي کمپنۍ ترمنځ اړيکي سره وران کړل او خبره نازکي مرحلې ته ورسېده . دډاکټر ويلم فلور له ليکنو څخه داسي ښکاري ، چي ګويامياجي افغان ( ملاپيرمحمد ) ددغه سخت چلند مخالف و.دی ليکي « ... درميان سرکردگان افغانی اين (مياجی ـــ م . هوتك ) تنهاکسی بودکه می توانست به رغم محمود سخنی گويد يامستقلا کاری انجام دهد بنابرين هلنديان دراين مخمصه حمايت اوراخواستارشدند اوقول حمايت داده سپاهيانی رابه خانهٔ کمپنی فرستاد تاآن محصل رابيرون کنند و بدينسان مدت زمانی هلنديان ازآزارافغانان مصئون ماندند .» ( ١ )

وايي کله چي شاه اشرف هوتك له شېرازه راووت دافشار نادر لښکري سمي په پسـې وې . تـر شيـراز دبـانـدي د « فـســا » پـه نـامـه

---

( ١ ) برافتادن صفويان . برآمدن محمودافغان ــ ترجمهٔ ابولقاسم سری ــ صفحه ٢۴٠ ــ تهران ــ ١٣۶۵ ش

د رود یوېل و او کله چي افغاني لښکري تر دغه پله تېري سوې ، د پله د ساتني اود نادري متعاقبو لښکرودمخنیوي لـه پاره یې میاجي افغان ( ملاپیرمحمد ) له څو تنو سره وګوماره . نادري لښکري پله ته له رارسېدو سره سم د ملاپیرمحمدد کوچني ډلي له مقابلې سره مخامخ سوې . په دې مقابله کي ملاپیرمحمد هوتک د خپلو هیوادوالو دساتني په لار کي خپل سرکښېښو او د شهادت جام یې نوش کړ (١) . حاجي امان الله خان هوتک لیکي دملاپیرمحمد زوی « ملا محمد هغه وخت چي نادرترکابل تېرسو ، لښکري سره برابري اوسختي جګړې یې له نادرسره وکړې . »

په پټه خزانه کي د ملاپیرمحمد هوتک له کتاب افضل الطرایق څخه یو حکایت رانقل سوی دئ ، چي دلته به یې دملاپیرمحمد هوتک د شعري بېلګې په توګه راوړو .

شیخ متي چي خلیلي و
دی له آره لوی ولي و
یوه ورځ روان پرلار و
لوی ښتن په استغفار و
کړ ده ذکر د غفار
یوشېبه نه و وزګار
پردې لار وې تیري ګټې
لاري مخکي وې په پټې

---

(١) وګورئ : تاریخ سلطاني ـ ۸۵ مخ ـ هوتکي ها ـ ۱۵۴ مخ ـ دخپلواکی لمرخرک ـ ۲۹۶ مخ ـ دپټې خزانې تعلیقات ـ ۲۵۵ مخ لومړی چاپ .

دېرې شپې راغی رویدار
چې یې صافه کړله لار
یو دهقان به آبیاري کړه
شپه په شپه به یې خواري کړه
ده به لید په توره شپه
شیخ متي په زیاراخته
له راحته به بېزار و
تو له شپه به هم بیدار و
یوه شپه راتېر ملیار سو
شیخ متي ته په گفتار سو
اې دخدای رویداره څه کړې
دومره زورزحمت پرڅه کړې
ته بادآر یې د ولیانو
ته قدوه د صالحانو
ستاد درخاوري سره زردي
د هر چا کحل البصردي
په شپوشپو یې ته بېخواب
په زحمت په اضطراب
پاکوې دلاري گټې
په دې خاوروخه دي گټې ؟
داسي ووې شیخ متي
د مولاپه عشق پټي



ACKU

« چي خدمت د خــلق الله
يوگړی په يــــوه ساه
تر هــرڅه بهتردئ وروره
زده کړه دا خبره گــوره »

**********

## ملايارمحمد هوتك

د يارمحمد په نامه مونږ دري تنه دهوتکوپه مشاهيرو کي پېژنو . يو يې استادالعلماء ملايارمحمد هوتك دئ . نوردوه يې دهمدې اثرپه ۴۱ او ۶۹ مخونوکي ولولئ .ملايارمحمد د دولسمي هجري پېړی په شاوخواکي کي ژوندکاوه اود علمدوست پاچا شاه حسين هوتك ( ۱۱۳۵ ـ ۱۱۵۰ هـ ق ) استاد و . د پټې خزانې له روايت سره سم يې د نوموړي پاچا د اشعارو په سمولو او د « سهو سقم » په ليري کولوکې لاس درلود ( ۱ ). ملايارمحمد هوتك په فقه کي د « مسايل ارکان خمسه » په نامه يو کتاب هم کښلی و .

*******

*****

****

***

**

*

---

( ۱ ) پټه خزانه ـ ۱۱۱ مخ ـ لومړی چاپ .

## بابوجان بابی

بابوجان بابی دکرم خان زوی و او کرم خان « دهوتکو له مخورو څخه و او داتغر دعلاقې اوسېدونکی و »( ۱ ) . دده دژوند نسبتا مفصل حالات موږ ته د پټې خزانې له لارې رارسېدلي دي ، چې وروسته بیانورو تاریخو هم اخیستي دي . دکندهار دبابیانو مشهوره کورنۍ دنوموړي بابوجان بابي اولاده ده ( ۲ ). په پټه خزانه کې راغلي دي ، چې بابوجان بابی دملي قاید حاجي میرویس نیکه په هغو مبارزوکې رغنده برخه درلوده ، چې دصفوي ښکېلاك پرضد یې او په خاصه توګه دظالم ګرګین دله منځه وړلو په نیت پیل کړې وه . دغې جګړې ته بابوجان بابي له کلاته ډېر غښتلي ځوانان راوستل او دکندهار حصار یې د ماشور دروازې له لارې ونیو. بابوجان بابی دحاجي میرویس نیکه له خوا دکلات دحاکم په توګه ټاکل سوی و . دغه راز یې د شاه محمود هوتك سره داصفهان په نیولو کې هم ډېرې زړه تنه هوتك ، توخي و ترکي راغونډ کړي او هورې یې دخرپ توري وهلي وې. په تاریخ سلطاني کې راغلي دي ، چې بابو جان بابی دشاه محمود وشاه اشرف

---

( ۱ ) حاجي امان الله هوتك ـ دخپلواکۍ لمرخرك ـ ۲۹۵ مخ . دهوتکو قوم په لوی سرکي څلورښنې دئ : ملکیار ، دولتیار ، تون ، یوسف . هره ښنه بیا پربېلابېلو څانګو وېشل سوې ده . د بابي څانګه دیوسف په ښنه پوري تړلې ده . دیوسف نوري څانګې ( رمیزي او ببوزي » دي .( وګورئ : پورتنی اثر ــ د لتم مخ چارټ )

( ۲ ) دبابیانو کورنۍ داحمدشاهي کندهار دپوښلي چارسو په شمال او دبامیزوکوڅې په خوله کې اوسي . ددغې کورنۍ زاړه وځوانان دعلم په کبنه پسوللي دي . په اماني عصرکې ددې کورنۍ دوه تنه مشران عزيزالله خان بابی اوعبدالله خان بابی دنفوذښتنان وو لودنادرخان دپاچهی په لومړیوشپوکې داکورنۍ له سقویانوسره دملاتړیه تورسخته ورټل سوه. (دحاشیې پاته په راتلونکي مخ کې ولولئ ) .

په وخت کي دایران د « لار و بندر » حاکم و او کله چي د شاه اشرف تر سقوط وروسته امام ویردي بیگ د افشار نادرپه امر پر گرشك او کلابست باندي برید وکړ او هغه یې ونیول ، دشاه حسین هوتك لخوا ددغو ځایو مدافعې ته ولېږل سو او په ډېره میړانه یې دامام ویردي بیگ لښکري له گرشك و کلابست څخه دفراه پرلور وشړلې (۱).

بابوجان بابی دعلم و ادب برخه هم درلوده اود ملا پیرمحمد هوتك مشهور په میاجي شاگرد و. ده د « قصص العاشقین » په نامه د شها او گلان کیسه په پښتو مثنوي کښلې وه. په پټه خزانه کي له دغه کتابه یو نظم په دې ډول رانقل سوی دئ :

عشق یوهسي تــــوریالی دئ
چي پر هــــرځای یې بری دئ

---

دتېرمخ دحاشیې پاته برخه :

دعبدالله خان بابي دوه تنه زامن غلام حیدرخان اومحمدابراهیم خان خوږیخي دتیلداغی میدان حاضرکړه سول .خوکندهارته دمحمدهاشم خان لخوادعمومي عفودفرمان په رسیدلوسره . له جزاڅخه معاف سول .دعزیزالله خان بابي زوی محمدنعیم خان بابی دخپل وخت په سیاسي جریاناتوکي شامل سړی و اوویل کېږي . چي له وینې زلمیانوسره یې تاسته ولاړه وه. دنوموړي ټول عمرله حکومتوسره په مخالفت کي تېر سوی او دوه واره سیاسي بندي سوی وو . دبنداوپه کابل کي دنظربندی لوړی موده یې اته کاله وه اودوهم وارداودخان دصدارت اودغني خان قلعه بېګي دنایب الحکومکی په وخت کي یې شپږکاله بندوکاله.دنوږفاجعې په لومړیوکلوکي په مرموزه توګه له منځه یووړل سو.دمحمدنعیم خان بابي بل وروړمحمداسحق خان بابی دروسانوپه کولی اوکمکي زوی عزیزالله جان یې دجهادپه مورچل کي دشهادت جامونه نوش کړل.دعبدالله خان بابي لمسی اودمحمدسرورخان بابي زوی محمدعمرخان بابی اوس په ویرجینیاکي اوسي . ددې کورنی په خواناتو کي لطیف جان بابی . مجیدخان بابی اوتورنیال بابی له پښتو ژبي او ادب سره زیاته مینه لري او شعر و نثرلیکښې کاږي .

(۱) تاریخ سلطاني ـ ۸۸ مخ

دعشق اور هسي سـوزان دئ
چي سوځلی يې جـهان دئ
زړه بې عشقه کلـه زړه دئ
چي بې عشقه زړه د مړه دئ
نه دئ عشق په يـوه رنګ
کله صلح ، ګـهي جنګ
پښتانـه کاندي متل
چي دئ خوږ ترشات، عسل
« چي بې عشقه سرکړودئ »
تش بې مغزه يـو لاړو دئ
زړه بې عشقه پـه کارنه دئ
هم هر زړه سزاوار نـه دئ
چي د عشق وکاخـبري
کړي په غوږ دا مـرغلري
د پاکانـو عشق سزادئ
امانت دا ، د مـولادئ

********

******

****

***

*

*

## داودخان هوتك

دپټې خزانې دمولف محمد هوتك پلاراوقادرخان زوی و. په ۱۰۲۹ هـ ق كال دكندهارپه ختيځ كي دكوكران په كلي كي زېږېدلی و . له حاجي ميرويس نيكه سره دهيواد دخپلواكی اخيستلو په ټولو مجاهدو كي ملګری و. كله چي دپارس حكومت دملي قايد ميرويس نيكه دمقابلې لپاره دخسروخان په مشری يوولس زره كسيز پوځ كندهارته راولېږه او ميرويس نيكه دجګړې په نيت له كندهاره ورووت ، فراه ته نږدې يې دلښكرو مشري نومړي داود خان هوتك ته وركړه اوپخپله له ابداليو سره دخبروپه نيت فراه او ګلستان ته وروړاندي سو ( ۱ ) . داودخان چي په دغه وخت كي دميرويس نيكه دلښكرو سپه سالارو، له بارګزو ، نورزو او ساګزو له خانانو سره يې مركې اوجرګې وكړې ، خورا زيات خلك يې دخسروخان له پوځ سره دمقابلې لپاره دخان ملګري كړل او پرخسرو خان يې بريالي بريدونه وكړل .

داودخان هوتك له توري سره دعلم برخه هم درلوده .اودپټې خزانې دروايت پراساس « په آوان دصباوت يې علوم لوستي وو او پخپل عصر په موزونونانو او فصحا او علماوود نامه خاوند و، اودېرعمرله قندهاره تللی اودكسي غرونه او ړوب او ډېرې اوپښتور او نور ځايونه يې ليدلي و ...طبع مستقيم يې درلوده اوكله كله به يې شعرونه هم ويل »( ۲ ) . داودخان هوتك په ۱۱۳۶ هـ ق كال

---

( ۱ ) دخپلواكۍ لمرخرك ـ ۸۴ مخ

( ۲ ) پټه خزانه ـ ۱۹۵ ـ ۱۹۷ مخونه ـ ۱۳۲۳ ش

وفات اوېه کوکران کي دهوتکوبه هديره کي ښخ سو. دغه څلوريځي
يې په پټه خزانه کي خوندي دي

چي د چا په زړه کي اورد ميني بل سي
په اوربل يې لمبې ګډي حال يې بل سي
اورد ميني کله مري د زړه لــــــه مېني
د اوربل مينه که تل د زړه پـــــه تل سي

******

که يې وينې ويني تل ځاځي له زړوڅخه
څوک چي ويني تا، له ځوانو يا زړوڅخه
د زړولـــــــه زړوکه ويني وينې ځاځي
په کړودغم لـــــوېدلي ستاله کړوڅخه

************

***********

**********

*********

********

*******

******

*****

****

***

**

## محمد هوتك

د پټې خزانې مولف اودهوتکودعصر مخوردانشمند محمدهوتك د داودخان زوی اودقادرخان لمسی و، چې د۱۰۸۴ هـ ق کال درجب المرجب پر ۱۳ مه دکندهارپه کوکران نومې کلي کې زېږېدلی و.ددوی کورنۍ په لومړي سرکي په مرغه کې اوسېدله . له هغه ځایه دکلات سیوري او ورپسې دکندهار دکوکران کلي ته راکډه سوې وه. محمدهوتك له خپله پلاره« ددین احکام ، فقه ، اصول اوتفسیر اودفصاحت علوم لکه قافیه اوعروض اوبیان اومعاني » ولوستل. دپلارتروفات وروسته ( ۱۱۳۶ ق ) دشاه حسین هوتك لخوادکندهاربنارته راوغوښتل سواود دربارد ادبي مجلس منشي وټاکل سو.داسي ښکاري چې دهوتکودپاچهی ترړنګېدو وروسته یې کورنۍ بیرته دکلات سیوري ته کډه سوې ده اودی هوزې مړ سوی دئ . محمدهوتك دخپل وخت عالم سړی و.د « خلاصه الفصاحت» او «خلاصه الطب» په نامه یې دوه کتابه کښلي وو . په پښتو ژبه یې شعر وایه اودشعردېوان یې هم مرتب سوی و ، چې اوس له منځه تللی دئ .دده بل غټ ادبي کاردپټې خزانې په نامه کتاب دئ ، چې په ۱۱۴۲ هـ ق کال یې بشپړ کړی او ترلیکلو څه دپاسه دوه سوه کاله وروسته داروانباد عبدالحي حبیبي لخوا په کابل کې له حواشیو اوتعلیقاتوسره یوځای خپورسوی دئ .دپټې خزانې خپرېدل دپښتو ژبې په ادبي تاریخ کې یوه « جنجال برانګېزه »موضوع ده ، چې ترننه لاهم د مخالفینواوموافقینوله خوا شاربله کیږي.

دمحمدهوتك نوم هم مورته دپښتو خزانې له خپرېدو سره سم څرګند سو. تردغې نېټې وړاندې دده له نامه سره ادبي مورخین اشنا نه وو. علت به یې ښایي داوي، چې دهرناکام سیاسي او ټولنیزغورځنګ دنامه څښتنان له قلمه لوېږي. د ناکامو غورځنګونو په باب خلك ډېرڅه نسي موندلای. دهوتکوخپلواکی غوښتونکی غورځنګ دپښتنوپه تاریخ کې یونیمه خوا غورځنګ دئ. دهغه په باب موږ یوڅودګوتوپه شمارلیکلي مواد او په تېره بیادکورنیو لیکوالو په قلم لیکل سوي موادپه واك کې لرو. ددغه غورځنګ ذ سرخلك یا وژل سوي یا له هیواده شړل سوي دي. وروستیو واکمنیو هم ورسره چنداني دزړه مینه نه درلوده اودهغوی کارنامې یې په رسمي اودرباري تاریخوکې ډېرې لږ ثبت کړې دي.که یې څه لیکلي هم وي، هغه په هیڅ ډول کافي او دحوادثو واقعي ترسیم نه دئ. همدا اوځیني نورعوامل دي، چې د هوتکو د خپلواکی غوښتني غورځنګ ډېرارخونه لاترننه په تیاره کې پاته دي.

دمحمدهوتك داخلاقو او دهغه دقبر او زیارت په باب څه کم دري پېړی وروسته څه انکشافات منځ ته راغلل. په ۱۳۵۵ ش کال اروابناد محمدابراهیم عطایي دکندهارپه مجله کې، چې په هغه وخت کې په کابل کې خپرېدله، دکندهارپه ښارکې د محمد هوتك دکورنی څرك ورکړاو ویې ښودل، چې دارواښاد احمدعلي اخوندزاده کورنی ددغه محمدهوتك پاته کسان دي. ددغې کورنی مشر نیکه، چې د «ممونیکه» په نامه مشهوردئ او دکلات په

سیوري کي يې په نامه يوکلی هم ستـه ، همدغه محمد هوتك دئ ، چي « پټه خزانه » يې کښلې ده . ارواښاد عطايي له ارواښاد محمديوسف ويران څخه غوښتي وه، چي په دې باب څېړنه وکړي . مرحوم ويران دغه څېړنه تکميل اوپه کندهار مجله کي يې خپره کړه. په ۱۳۵۶ ش کال ښاغلو حبيب الله رفيع او زلمي هيوادمل دهمدې مقصد لپاره کندهارته سفروکړاو غالبا يې دارواښادويران په لارښوونه له احمدعلي اخوندزاده سره ددوی پخپل کور کي ، چي دکندهارښارپه ښکاپربازارکي دئ ، وکتـل او ددغي کورنی شجره يې ځني نقل کړه ( ۱ ) . دغو دوو ښاغلودکلات سيوري ته هم سفروکړ اودممو کلی او زيارت يې وکوت . لکه مخکي چي مي اشاره ورته وکړه دپټي خزانې اودهغه دمولف په باب څرګندوني په پښتو څېړنو کي يوه متنازع فيه مسئله ده لکه د « پټې خزانې » کتاب ته چي ځينو کورنيو او بهرنيو څېړونکو دشك په سترګه کتلي دي ، دغه رازدمحمدهوتك داخلاقو په باب هم کلمّديد اکاديمسن استادمحمدانورنوميالي له مسکوه دخپرېدونکي مجلې « لېمه »په يوولسمه ګڼه نهم مخ کي په دې باب څرګندوني وکړې ، چي کوټلی مطلب يې داسي دئ . ممو نيکه او محمد هوتك دوه بېل کسان دي اواحمدعلي اخوندزاده کورنی خان ته « دحکومت د پېرزوېنې او پاملرني اړولو » لپاره له خپل نيکه « ممو اخوند زاده » څخه محمدهوتك جوړ کړی او دا هم له دې امله چي حکومت غوښتل دمحمد هوتك په باب سيمينارجوړ کړي . استاد

---

( ۱ ) دغه شجره په ۱۹۸ مخ کي ولولئ .

نومیالي زیاته کړې ده ، چې ده ته ښاغلي هاتف د همدغه احمدعلي اخو نزاده له خولې ویلي و ، چې ممونیکه دحاجي میرویس خان لخوا وژل سوی و .اومحمدهوتک چې د شاه حسین هوتک دزماني سری ښوول سوی دئ ، نومړی ممونیکه نسي کېدلای . د لېمي مجلې په ۱۳ ـ ۱۴ گنه کي ښاغلي هیواد مل ددغه نظر په مقابل کي خپل مشاهدات خپاره کړل او ویې ښوول،چې داحمدعلي اخونزاده دکورنی شجره دمحمدهوتک تر سیمینار جوړېدو وراندي خپره سوې وه او ددغي شجرې د خپرېدو پروخت اصلا د سمینار مسئله مطرح نه وه .

په هرصورت محمدهوتک اوپټه خزانه په پښتو ادبیاتوکي یوغټ انکشاف دئ اوله دغه رازانکشافاتوسره چلندونه جدي وي . هرومرو موافق و مخالف پیداکوي . په تېره بیا کله چې له دغه راز انکشافاتوسره سیاسي دلچسپی هم متاثري سي نوبیا له هغه څخه دناسورتپ جوړ سي .

ښاغلي حبیب الله رفیع په ۱۳۸۰ ش کال دعبدالرحیم هوتک یومنظوم لیك خپورکړ او « مهاجرتنامه » نوم یې پرکښېښوو . په دغه لیك کي دمحمد په نامه دیوچا نوم اخیستل سوی دئ ، چې د شاه حسین ددربارله مقربینوڅخه دئ . ښاغلی رفیع دغه شخص د پټي خزانې مولف محمدهوتک گڼي .

***

**

*

## ملا شاهو اخوند

د لوی احمدشاه بابا همعصره عالم او دېوان لرونکی شاعر و او دهغه په دربار کي دلوړ قدر و عزت څښتن و او د « ملاارادت » لقب يې درلود . ( ۱ ) په ځينو ليکنوکي د « ملاشاهونيکه » په نامه هم ياد سوی دئ . ملاشاهونيکه ساګزی هوتك و .د اوسني کندهار ښارشمال ته داحمدشاهي لويي هديرې په شمال لويديځه خواکي يې خانقاه وه، چي تراوسه پوري دملاشاهودتکيې په نامه يادېږي اود پخوخښتودېوال پر راګرځېدلی دئ . دملاشاهونيکه ارادتمندان زرګونوتنوته رسېدل او د « ګلزارقندهار » د ليکوال الحاج شيخ محمدحسن قندهاري دخولې خبره ده ، چي وايي « ... ارادتمندان ملا شاهو هم الی ده هزارنفرتخمين شده ، کشف هم داشته ....» ( ۲ ) زموږ فاضل استاد پوهاند رشاد صاحب ليکي چي ملا شاهو اخوند دڅمکنودمياعمرصاحب ( رح ) مريد و ( ۳ ) ملا شاهو نيکه دحق په څرګندولو کي دشاهانو پروا نه کوله . په سراج التواريخ کي دلوی احمدشاه باباپه دربار کي علماوو ته د

---

( ۱ ) ملاخيرالله هوتك . چي دنسب سلسله يې دمورله خوا ملا شاهو اخوند ته رسيږي . وايي :

په نامه دارادت سره مشهوردايې خطاب و
لـــــوی عـــالم و کامل پير دکندهار

دملاخيرالله ددېوان څرك د بخارا په کتابتونو کي لګېدلی دئ . اروانښاد حسين نايل هغه کتلی او يادانښتونه يې ځني اخيستي وو .دغه يادانښتونه يې وروسته ښاغلي حبيب الله رفيع ته داستفادې لپاره ورکړي وو . ( مهاجرنامه ـ ۷۷ مخ )

( ۲ ) ګلزار قندهار ـ صفحه ۱۲۸ ـ چاپ مطبعة النعمان نجف اشرف

( ۳ ) مخارج الحروف ـ دشيخ الرئيس بوعلی سينا بلخی ـ ترجمه . سريزه اوتعليقات د پوهاند عبدالشکوررشاد ـ دتعليقاتو يوولسم مخ ـ ۱۳۵۹ ش کابل

درناوی په باب د ملاشاهونیکه له خولې دحق ویلو یوه کیسه درج ده چي پښتو ژباړه یې داسي ده : « اعلیحضرت احمدشاه ... یوه ورځ ددربار د علماوو د تقوی او پرهېزګاری او حقیقت ویلو د ازمویلو لپاره دساز آلې راوغوښتلې او په ږغولو یې پیل وکړ . ملاارادت چي په شاهو مشهور و ، او یویل تن دساز له آوازه په تنګ سول او له مجلسه پاځېدل . ملاشاهو په جرات او زړه ورتیا سره وویل : احمده! داڅه کوې ؟ اعلیحضرت احمدشاه په جواب کي ورته وویل : څه پروا لري ؟ او ددې کار تاوان څه دئ ؟ ده په جواب کي ور زیاته کړه چي په همدې خبره ، چي ودي کړه ، ګواکي حرام دي حلال وګڼل او دحراموحلال ګڼل کفر دئ . داېې وویل اوله مجلسه یې د وتلو اراده وکړه . اعلیحضرت احمدشاه ورته وویل : له دې کاره مي مقصد دعلماوو د پاك لمنی ازمویل و ، نه دحراموحلال ګڼل .ملاارادت ورته وویل : اوس چي د ازموینې خبره منځ ته راغله ، نو به نورد پاچاحضورته حاضر نسم .تردې وروسته سره غره ته ولاړ او ترمرګه هورې پاته سو . »( ۱ ) ملاشاهو نیکه په سره غره او دکلات دارغنداوپه شاوخواکي د مېړیني تروخته پوري خلك سمي لاري ته رابلل . وایي زیارت ته یې د ژړی تبې ناروغان له لیروځایو راولي ( ۲ ) . د ملاشاهو نیکه زوی ملا شیر محمد هوتك دخپل وخت لوی عالم اودپښتو شاعر تېرسوی دئ .

---

( ۱ ) سراج التواریخ ـ جلد اول ـ صفحه ۴۱ موسسهٔ مطالعات وانتشارات بلخ ـ تهران ـ ۱۳۷۲ ش
دغه راز وګوری: حبیبي ـ عبدالحی ـ لوی احمدشاه بابا ـ سریزه ـ ۱۲۴ ـ ۱۲۵ مخونه ـ ۱۳۱۹ ش
( ۲ ) ګلزارقندهار ـ ۱۳۱ مخ



ACKU

# ملاشیرمحمد هوتك

ملاشیرمحمد هوتك دملاارادت مشهورپه ملاشاهو زوی او په دوولسمه هجري پېړۍ کې دافغانستان له لویو علماوو څخه و. په ۱۰۹۲ هـ ق کال د کلات په سیوري کې زیږېدلی او په ۱۱۷۵ هـ ق کال د ۸۳ کالوپه عمردکندهارپه ښار کې مړ اود ملاشاهوپه تکیه کې ښخ دئ اوپرقبرېې جګ څلی ولاړ دئ (۱) ملاشیرمحمد هوتك هرات اوایران ته د علم په حاصلولو پسې سفرونه کړي وو او په دیني او شرقي علوموکې یې لوی لاس درلود. په پښتو ژبه یې شعر هم وایه خو شعر یې زیاتره نظم دئ او هغه هم د دیني آثارو پښتو ترجمې دي. پوهاند اکادمیسن رشاد صاحب د پښتو تجویدونو په تاریخچه کې د ملاشیرمحمد هوتك آثار را ښوولي دي، چې زه به یې ددوی له دغه اثراو نوروپادابنتو له مخې دلته راوړم:

- اسرارالعارفین، چې په نهه زره بیته کې یوه مثنوي ده او په هغه کې دفقه، اخلاقو، عقایدواوسلوك مسایل شامل دي. په دې کتاب کې د امام غزالي (رح) او نورو متقدمینو له آثاروڅخه انتخابي برخې ژباړل سوي دي او مترجم دځان لخوا دقرآن او حدیثو برخه هم پر ورزیاته کړې ده. داسرارالعارفین خطي نسخې ښې پرېمانه موندل کېږي اوپه برتانوي هندکې څوګښته چاپ سوی هم دئ.

---

(۱) دملاشیرمحمد هوتك دلور لخوا اولاده ماته په کندهار کې معلومه ده. متاخر سپین ږیری یې حاجي محمدابراهیم جان توخی مشهور په مامور ابراهیم جان و. چې څوکاله وړاندې د پاکستان دکراچې په ښار کې مړ سو. مړی یې کندهارته یووړ او هورې پخپله پلرنۍ هدیره کې ښخ دئ.

ملا عبدالباقي افغان ، چي په ديني علومو کي دخپل وخت متبحر عالم و، په تهذيب الواجبات لتخريب العادات کي د اسرارالعارفين ستاينه کوي او د علامه حبيب الله کندهاري ( حبو اخونزاده ) له منهاج العابدين سره يې په يوه ليکه کي دروي . دی وايي :

دوه کتابه پـــــه پښتوکي چي اخلاق دمبارك شو
سرترپايه جواهـــــردي دحضرت له خويه ډك شو
باغ پټی دي کل پر ورکړه يو « منهاج العابدين »
سره و سپين دي پرنثار کړه بل « اسرارالعارفين »
حيراني ودې سري تـــــه چي پښتون هم امتي وي
زړه وخونه ولاسونې،له دې دووګنجوخالي وي ( ۱ )

ــ شرح اشعار مستخلص الحقايق . دااثر تر اوسه چاپ سوی نه دئ خو خطي نسخې يې ډيري موندل کيږي .زما ( م.هوتك ) د کندهارپه کتابوکي يې يوه نسخه خوندي وه .

ــ رسالهٔ ميت ( مسايل الموتی ) . دا اثر داورده بحر مثنوي ده

---

( ۱ ) افغان ـ ملاعبدالباقي ـ تهذيب الواجبات لتخريب العادات ـ ۱۳۶ مخ ـ ۱۳۶۶ ش چاپ
ملاعبدالباقي اخوند ددغه وخت دپښتنو علماوو علمي کار و خدمت ته په دومره درنښت قايل دئ . چي دپښتنوعلمي کارونه تر حرمينو راورسته ان د بخارا تر علماوو هم لوړ کڼي .

پښتون راغی ښهرستان ته . علمي راوړ له اطرافو
حـــــرمين خني وتلي . داخبر واورئ يې لاقو
دنن ورځي سيال يې نسته . تـــه دينار نه دصحرا
کوی دعلم افغان يووئ . محض نـــــوم دبخارا
مختصر قدوري لولي . مـــــدرس و داملا
زموږ لغزني پرتحريرداقليدس کـــــوي املا
( تهذيب الواجبات ـ ۲۳۲ مخ )

پرتحرير اقليدس باندي حبواخونزاده يواثر لري. چي په خواني ( لغزني = لغرزني ) کي يې ليکلی و.

اوپه هغې کي دناروغ دپوښتني ، دمړي دغسل و کفن و جنازې و فاتحې آداب بیان سوي دي . دا رساله له اسرارالعارفین سره یوځای څو واره چاپ سوې ده .

ـ د تجوید رساله . په دوولسوفصلونو کي یې لیکلې ده اوپه هغې کي یې د تجوید قواعد او اصول دخفیف بحر په مثنوي کي بیان کړي دي . دا رساله یې هم د اسرارالعارفین سره یوځای چاپ سوې ده .

ـ دقصیدهٔ برده پښتو ترجمه .قصیدهٔ برده په عربي ژبه د حضرت محمد ( ص ) په توصیف کي یوه منظومه قصیده ده . ویونکی یې شرف الدین ابوعبدالله محمد بن سعید بن حمادالبوصیری دئ. پرملاشیرمحمد هوتك سربېره عَبدالقادرخان ختـك ، ملاشرف محب الدین او دخمکنودمیاعمر صاحب مرید نورمحمد قریش هم په پښتو نظم ژباړلې ده. دغه رازپه اردو ، انگلیسي ، جرمني او فرانسوي ژبو هم ترجمه سوې ده . د ملا شیرمحمدهوتك دقصیدهٔ برده څیني بیتونه د ښاغلي سرمحقق زلمي هیوادمل صاحب په نظر ښایي « په ادبي تاریخ کي د شاملولو جوګه وي .....»( ۱ )

---

( ۱ ) د پښتوادبیاتوتاریخ ( لرغوني اومنځنی دوره ) ـ ۱۹۵ مخ.

زما ( هوتك ) په کتبخانه کي د شیرمحمدهوتك دقصیدهٔ برده یوه نسخه سته چي ترهرعربي نیم بیتي لاندي یې فارسي او پښتو ترجمې راغلي دي .دسردبیت فارسي اوپښتوترجمې یې داسي دي :

فارسي :

ای بیادصحبت یارانت انــــــدرذی سلم — اشك چشم آمیختی باخون روان کشته بهم .

پښتو :

اي خــــــــمادل غمکینه حق ووایه مسلم — دالله یادديارانــــــــرچي وطن یې دی سلم

تاداوښکوکړون وکې چي دي راغی دزړه یم — دغــــــــه تل تویېږي له چشمانوکډ په دم

( دحاشیې پاته برخه په راتلونکي مخ کي ولولئ )

ـ شمایلنامه ( شمایل نبوي ) زموږ فاضل استاد پوهاند رشاد صاحب لیکي چي « دکتاب الشمایل نبوی راتولوونکی امام ابو عیسی محمد بن عیسی بن سوره الترمذي دئ ... کتاب الشمایل دهغواحادیثو مجموعه ده چي دحضرت پیغمبر ( ص ) د ذات او خوی وخصلت په باب دي .....» ( ۱ )

د ارواښاد استادعبدالروف بېنوا په یوه ناچاپه مقاله کي ، چي له ښاغلي سرمحقق زلمي هیوادمل سره خوندي وه ، دشیرمحمد هوتك دشمایلنامې په باب ویل سوي دي ، چي داشمایلنامه « په اته پنځوسو بیتونوکي دځلوریځو په کالب کي ویلې شوې ده ...اودپای بیتونه یې داسي دي :

شـــــمایل د محمد (ص) دی    پښتو کـــــــړی شیرمحمددی
خاتمه مي پـــــــرایمان کړې    ثناخوان دمحمد (ص) دی ( ۲ )

ـ کشف الاستارفی حل مغلقات شرح وقایه
ـ شرح مغلقات شرح الیاس
ـ معجزات
ـ مناجاتونه

---

( دتېرمخ دحاشیې پاته برخه ) دپای بیتونه یې :

شیرمحمدیوخـــــوارعاصي دئ گناهکاره    قصیده یې مرجم ؟کـــــــړه یادکاره
پښتنولـــره پښتویــــــــویه نکاره    گوندي عاصي یادکه په دعاکښي لوی وکم
ربه ته یې پــــه حساب کښي زهیرمه کړې    شرمنده یې پـــــه گناه و تقصیرمه کړې
له همه آل واولادې تـــــــویپرمه کړې    که سامع ( وي ) که قـــاري وي که خدم

( ۱ ) دخمکنومیاعمر ( رح ) ـ ۵۱ مخ ـ کابل ـ ۱۳۶۰ ش . پښتو شمایلنامې پر شیرمحمد هوتك برسېره اخونددرویزه . سکندرخان خټك . سیدحسین . امیر . عبیدالله میاگل او غلام نبي هم ترتیب کړي دي .

( ۲ ) شمایل نامه او پندنامه دسکندرخان خټك ـ ۴۵ ـ ۴۶ مخونه ـ پښتوټولنه ـ کابل ـ ۱۳۶۴ ش

# ملاصاحبدین اخوندهوتك

ملا صاحبدین اخوند اصلا د د کلات دسیوري د « منداو » د کلي و او دکورنی مشران یې هورې اوسېدل . ده پخپله د کندهار د ارغنداو ولسوالی په « مزره » ( ۱ ) کي ژوند کاوه او په همدې کلي مړ سو . زیارت ته یې ډېر خلك ورځي .

دملا صاحبدین اخوند د شهرت زمانه پر کندهار باندي د سردار کهندل خان ( ۱۲۰۸ ـ ۱۲۷۱ هـ ق ) د واکمنی وختونه دي او پخپله سردارکهندلخان ورته ډېره عقیده درلوده . دملاصاحبدین اخوند کورنی ټول دخپل وخت ستانه کسان وو . نیکه یې شیخ حمید عمرزی د هوتکو د پاچهی پروخت ژوند کاوه او له لویو بزرگانو څخه گڼل کېدئ . ورنیکه یې ملا عبدالغفور نومېدی ، چي هغه هم د وخت له لویو علماوو څخه و .

عبدالغفار هوتك وایي :

چي یې وچه ونه شنه کـړه
شیخ حمید عـــمرزیي ده

دملاصاحبدین اخوند مخلص مرید عیسی هوتك چي پخپله هم په مزره کي اوسېدی ، دی د « قطب الاقطاب » او « غوث » په درنو القابو یادوي اودده په باب داسي وایي :

وطن زمادئ قندهـــــار هم مزرعه ده
د مظلومــــــو تکیه گاه هم په اسره ده

---

( ۱ ) د مزرې په نامه دکندهار دارغنداو په ناوه کي دوه کلي سته . چي د باباولي زیارت په شمال کي تقریبا د نیم میل په واټن پراته دي .

پکې نن مسکین زمونږ قطب الاقطاب دئ
په محضه صاحبدین غـوث یې خطاب دئ
سرحلقه د اولیاوو د خـــــپل عصر
په هرکار کې څني غــــواړي واړه نصر
عرفان ، علم ، سخاوت دده الـــقاب دي
وهرچاوته ظــــاهر زیات ترافتاب دي
هرزمان دمظلومـــــــانوپه داد رسي
محضا لله د هــــــرچاپه فریاد رسي
ثاني نه لري اصلا پــــــه کمالاتــــو
چې بیان یې زه وکــړمه لَه صفاتو (۱)

دکندهار دارغنداو په « مزره »کې د ملاصاحبدین اخوند لمسیان اوس هم سته .

**********

*********

********

*******

******

*****

****

***

**

*

(۱) رفیع ــ حبیب الله ــ ادبي ستوري ــ دوهم ټوک ــ ۱۴۷ مخ

## قاضي غلام محمد هوتك

دکندهار ښار دکابل بازار د جنوبي راستې په منځ کي يوه کوڅه ستده ، چي اصلا دپوپلزوکوڅه وه خو په راوروسته کي د « نايب دهنې » په نامه يادېدله او اوس يې د « قاضي غلام کوڅه» بولي ( ۱ ). دغه قاضي غلام چي زموږ تربحث لاندي سړی دئ ، د سردارکهندل خان په واکمني کي د کندهار ښار قاضي و. په اسلامي علوموکي يې د « استادکل » لقب گټلی واو دعدالت دعملي کېدو او حق وحقدارته درسېدو په برخه کي دده دقضا دوختونو کيسې ترننه لاهم دخلکو په خولو کي دي . دده دقضا په وخت کي چا پرحيوانانو او څارويو باندي لا هم ظلم نسوای کولای. وايي چي په دغه وخت کي به خروالا وو خروته ويله « اشه اشه ، قاضي غلام غوندي غاور لرې ! »دشريعت پالني اندازه خويې د کندهاردخلکوله دې ورا شې څخه اټکلېدلای سي، چي وايي « رېره زماده اختياريې دقاضي غلام » .کله چي سيدجمال الدين افغاني په ۱۲۸۳ هـ ق کال د کندهار ښارته په سفر تللی و، د قاضي غلام هوتك علمي مقام ته د درناوي له امله دده کورته پخپله د ليدو لپاره تللی و اوله مجلسه يې مستفيد سوی و .دده نوم يې د کندهاردفضلاوود يادوني تقريبا په سرکي راوړی دئ ( ۲ ) .

---

( ۱ ) له نايب څخه مراد نايب گل محمدخان و چي دشاه محمودسدوزي په پاچهي کي دکندهار نايب الحکومه و .( دتفصيل لپاره وگورئ : هوتك ـ محمدمعصوم ـ احمدشاهي کندهار ـ ۳۸ مخ ـ تورنتو ـ کاناډا ـ ۱۳۷۵ ش )

( ۲ ) مجموعهٔ اسناد و مدارك چاپ نشده دربارهٔ سيدجمال الدين مشهوربه افغانى ـ جمع آورى وتنظيم اصغر مهدوى . ايرج افشار ـ صفحهٔ ۸ ـ چاپ ۱۳۴۲ تهران

وايي « اميرشيرعليخان هم دقاضي صاحب علمي منزلت اوشريعت پروري ته په قدركتل، زياتره وختونه به دده كور ته... ورتلى اودقاضي صاحب په صحبت به يې وياړكاوه» ( ۱ ) .

كله چي سرداركهندل خان د ۱۲۷۱ هـ ق كال د ذالحجه الحرام پر اتمه مړ سو( ۲ )، په كندهار كي د سردار رحمدل خان او د سردار كهندل خان د مشر زوى تر منځ د كندهار دواكمنى پر سر شخړي شروع سوې ، امير دوست محمد خان له دغو اختلافاتو څخه په استفادې سره كندهار د خپلي واكمنى په حدودو كي راووست . په دغه وخت كي د گلشن امارت د مولف نورمحمد نوري په قول ځينو ابليس صفتانو او شرارت غوښتونكو امير دوست محمد خان ته وويل ، چي ددغو ټولو شخړو لمسوونكى قاضي ملا غلام محمد هوتك و او د امير په زړه كي ددغه نامور عالم په نسبت كركه و نفرت ايجاد كړل . امير هم ددغو وسوسو تر اغېزې لاندې راغى او قاضي غلام محمد يې بندي او تر څلورو مياشتو بند وروسته يې د يوولسو زرو روپيو په جرمانه خوشي كړ . د گلشن امارت د مولف خپل بيان داسي دى.« چون امير عليين مكان برتخت قندهار تمكن يافت ... بعضى ابليس طينتان غرض گوى وبعضى شرارت جويان فسادجوى كه رفع خود رادرخفض ديگران ميشمارند بعرض واقفان سرير فلك نظر رسانيدند كه محرك اين سلسله و برپاكنندهٔ اين ولوله قاضى ملاغلام محمد

---

( ۱ ) زلمى ـ محمدولى ـ دكندهارمشاهير ـ ۲۱۷ مخ

( ۲ ) د افغانستان تاريخي پيښليك وګه نېټه د ذالحجه الحرام اوومه دسه شنبې ورځ بللې ده .

است وعنقریب ازوی اموراتی بظهورخواهد پیوست که تدارک آن از خیز قوت بیرون خواهدشد ...آنجناب امارت ماب ... آن جاحظ زمان راکه دردوازده سال حکومت غفران پناه سردارکهندلخان قندهار را قبت الاسلام ساخته شرایع شریعت غرا ومعالم ملت بیضا را بمدارج علیا ارتقاداده بود در حبس کشید چهارماه درقید ماند آخرالامر یازده هزار روپیه جرمانه ازوی گرفتند .... » خود امیر کبیر زوی امیرشیرعلیخان چي بیا دخپلي پاچهی په وخت کي کندهار ته ولاړ ، د نوموړي قاضي غلام درناوی یې ور اعاده کړ. په گلشن امارت کي لولو: « ... بهر یکی از سادات و علما و فقرا فراخورمراتب وظایف مقررفرموده علی الخصوص جناب المعی العصرآخر زمان مقتدای خواص وعوام جناب قاضی غلام محمد صاحب انارالله برهانه رابنقود و اجناس وافرنواخت ....»(۱)

د قاضي غلام هوتك په آثارو کي ماته د « تنزیه الخلفاء عن مطاعن الاعداء »په نامه یواثر معلوم دئ ، چي د ۱۲۶۴ ق کال دربیع الثاني پر اوومه د یکشنبې په ورځ یې بشپړکړی دئ . ددغه اثر یوه نسخه ، چي د ښاغلي محمدحلیم سلیمي په خطي کلکسیون کي خوندي وه، اوس له ماسره ده . دانسخه ارواښاد علامه حبیبي کتلې او دغه یادابنت یې پرکښلی اولاسلیك کړی دئ « تنزیه الخلفاء عن مطاعن الاعداء تالیف قاضی غلام محمدالقندهاری که روزیکشنبه وقت ظهر ۷ ربیع الثانی سنه ۱۲۶۴ هـ ختم شده .این کتاب

---

( ۱ ) نوري ـ نورمحمد ـ گلشن امارت ـ ۱۷ ـ ۱۸ـ ۱۴۲ مخونه . مولف چي په تیرنقل قول کي د سردارکهندل خان د حکومت دوولس کاله یاد کړي دي . مراد یې دده دوهم وار حکومت دئ . سردار کهندل خان پر قندهار پاندي په دوه واره ټول ۲۶ کاله واکمني کړې ده .

بسیارنایاب است وطبع نشده وحتی قبلا شناخته هم نشده و از مولفات یك عالم معروف قندهاری است ، که در عهد سردارکهندل خان قاضی قندهاربود ، وی ازقوم هوتك است و گذر قاضی غلام تاکنون در بازارکابل شهرقندهار شهرت دارد ، مزارش نزدیك حضرتجی متصل برج بردرانی شهرقندهار است . »دغه نسخه ترتالیف نهه کاله وروسته ( ۱۲۷۳ ق ) استنساخ سوېده . دقاضی غلام هوتك په آثارو کي بل کتاب « ارشادالحق » ښوول سوی دئ، چي وایي دا هم په عربي دئ . دااثرمانه دی لیدلی اوکتلی .

د قاضي غلام محمد هوتك په اولاده کي دده د یوه زوی ملا عبدالاحد نوم د سید جمالدین افغاني په یادانښتو کي ستته ، چي وروسته به پر وړغېږو .دنوروکسانو په باب یې زماسره همدا اوس څه معلومات نسته . یوسړی ، چي زما په یاد دئ اوخلکو دده کورنی ته منسوباوه ، لالکو نومېدئ ، چي د قاضي غلام کوڅې په خوله کي به دکوڅې په ختیځه خواکي پر یوه کوچنوټې دوکانچه ( صفه ) باندي پر نغاړکی ناست و اودمېرکي په ناروغی وهلي ناروغان به خلکو ورته راوستل او ده به اوده کول ( ۱ ).

د پښتو ژبي مشهور شاعر بهایي جان صاحبزاده د خپلي مورگنی سلسله قاضي غلام نامي ته رسوي .دی وایي :

مادرم ازگلبن قاضی غلام

مسجد بازار کابل را امام

دبهانیي جان دژوند لیك لیکوال ښاغلی کمال الدین مستان ددغه شخص بشپړ نوم « قاضي غلام حیدر » ښوولی دئ ( ۲ ) ، خو ماته د « مسجد بازارکابل » قرینه داسي ایسي ، چي له قاضي غلام څخه به مراد زمونږ دبحث وړ قاضي غلام محمد هوتك وي . والله اعلم ( ۳ ). دغه راز «دکندهار مشاهیر » مولف دقاضي غلام په اولاده کي د قاضي کوچي او شیرمحمد شعشعي نومونه راوړي

---

( ۱ ) احمدشاهي کندهار ـ د۳۹ مخ حاشیه ( ۲ ) کمال الدین مستان ـ دخوږ ژبي شاعربهایي جان ژوندلیك ـ ۳ مخ ـ کابل ـ ۱۳۶۳ ش . ( ۳ ) دغه مطلب مایه کاناډا کي دخپرېدونکي جریدې « افغان رسالې » د ۲۰۰۱ ع کال دفبرورى د اتمي نېټې په گڼه کي یوه یادونه کړي ده .

، چي د تامل وړ دي . زمادمعلوماتوله مخي دادوه تنه له قاضي غلام هوتك سره نسبي اړيکي نلري .

د قاضی غلام محمد هوتك قبرپه کندهاربښارکي دشاه ولې پرغاړه دئ ، چي وايي دمزار لوحه هم لري ( ۱ ) .

********

****

## ملاعبدالاحد هوتك

دغه ملاصاحب د قاضي غلام محمدهوتك زوی و، چي زه يې له نامه سره دعلامه سيد جمالدين افغاني په يادابښتو کي اشنا سوم . علامه سيد چي په ۱۲۸۳ ق کال کندهار ته سفر کړی و او هورې يې د ښکاپر بازار د حتن هندو په کاروانسرای کي استوګنه درلوده په خپل يوه يادابښت کي داسي ليکي « درقندهار در بازار شکارپور در سرای حتن هندو درشهر رجب نوشته شد مربوط کاغذ ملا عبدالاحد پسرقاضی غلام ۱۲۸۳ » وروسته يې بيا د کندهار د فضلاوو په لست کي هم نوم راوړی دئ ( ۲ ) .

فاضل استاد پوهاند رشاد صاحب ليکي ، چي د ملاعبدالاحد هوتك زوی ملااعظم اخوند نومېدی . د کلات په سيوري کي يې مځکي درلودې او د ملاصاحبدين اخوند کاريز او جايداد يې په بيه اخيستی و ( ۳ ) .

---

( ۱ ) دکندهارمشاهير ــ ۲۱۷ مخ

( ۲ ) مجموعة اسنادومدارك چاپ نشده دربارة سيدجمال الدين ــ صفخه ۸

( ۳ ) تاريخي بلټني ــ ۱۳۸ مخ ــ ۱۳۵۸ ش ــ کابل

## نورمحمد نوري افغان

د « گلشن امارت » او پښتو گرامر « تحفه الامیر یا غنچهٔ روه » لیکوال ، دپښتو اوپارسي ژبو شاعر ، مورخ ، گرامر پوه او خطاط مولوي نورمحمد نوري افغان په قوم هوتك او د کندهار اوسېدونکی و(۱). نوموړی د امیرشیر علیخان په دربار کي امیر ته د نزدې کسانوپه ډله کي گڼل کېدی او امیر ته یې دزړه له کومي اخلاص درلود . نوري افغان گرزنده سړی و او په پښتونخوا ، افغانستان ، هندوستان په تېره بیا پنجاب کي اوسېدلی و. دغه سبب دئ ، چي د سنده په تذکرو کي یې یادونه راغلې ده . دغه راز یې په ۱۲۸۴ هـ ق کي د انگلستان پایتخت لندن ته هم سفر کړی و . دی لیکي « و همدران ایام سنه ۱۲۸۴ که مسود اوراق درشهرلندن طرح اقامت داشت .... »(۲) .

په پښتنو پوهانو کي د نوري افغان په باب مفصله څېړنه د فاضل استاد اکاډمیسن پوهاند رشادصاحب په قلم په « پښتانه شعراء » دریم ټوك کي سوې اوهورې یې دده پر آثارو او ژوند باندي رڼا اچولې ده .

---

(۱) د نوري افغان په باب پخوا داسي فکر کېدی . چي په ختېه کاکړ و . زما گومان دئ . چي ددې خبري استناد د« تکملهٔ مقالات شعراء » پر لیکنو ولاړ و . دغه مطلب « په هند کي دپښتو ژبي اوادبیاتو دایجاد او ودې پړاوونه » نومي اثر ته هم لارکړې وه . خو زموږ فاضل استاد اکاډمیسن رشاد صاحب ددغه اثر په تقریظ کي ( دبریتانیا د جزیرو په کتابخانوکي پښتو کتابونه ) په حواله . چي غالبا یې مراد د میکینزي فهرست دئ . ولیکل « نورمحمد نوري کاکړ نه دی هوتك دی ». تر دې وروسته نو په افغاني لیکنو کي د نورمحمد نوري افغان له نامه سره د « هوتك » نسبي نسبت هم ور زیات سو .(۲) گلشن امارت ــ ۱۶۶ مخ . د « لندن » په نامه یوښار د کاناډا د اونټاریو په ایالت کي هم سته .

د مولوي نورمحمد نوري په آثارو کي « گلشن امارت » تاريخي کتاب دئ ، چي د اميرشيرعليخان د « ورکتوب ، ځواني ، شهزادگۍ ، لومړۍ پاچهۍ او دوهمي پاچهۍ د دوو کالو حالات پکښي درج دي » ددې کتاب يوه نسخه دکابل په ملي موزيم کي خوندي وه ، چي په ۱۳۳۳ ش کال په اريانا مجله کي په پرله پسې ډول چاپ سوه او دوه کاله وروسته د يوه مستقل اثر په توگه د افغانستان د تاريخ د ټولني لخوا چاپ سو . اروا ښاد احمدعلي کهزاد دغه چاپ ته په سريزه کي ، دغه تاريخ « يك اثر قيمتدار ملی » بللی دئ . د «گلشن امارت» دليکلو کال ۱۲۸۷ هـ ق دئ او ژبه يې پارسي ده .

بل اثر يې « تحفه الامير » نوميږي ، چي په پارسي ژبه د پښتو گرامر دئ ، چي په ۱۲۸۰ هـ ق کال يې په کندهار کي دخپل يو دوست په غوښتنه کښلئ دئ.دفاضل استاد رشاد صاحب په نظر په دې کتاب کي« دپښتو صرف و نحوي په باب يوه عالمانه او مدققانه څېړنه ... شوې ده اودپښتو په باب په ليکل شوو آثارو کښي يو نفيس اثرگڼل کېږي »( ۱ ) . د ميکينزي په فهرست کي د «غنچهٔ روه» په نامه يوه نسخه ستـه، چي د سرمحقق زلمي هيوادمل دڅېړني له مخي« غنچهٔ روه او تحفه الا ميرد يوه کتاب دوه بېلي خطي نسخې دي » ( ۲ ) . ماته پر « تحفه الامير »

---

( ۱ ) پښتانه شعراء ــ دريم ټوك ــ ۸۷۳ مخ

( ۲ ) هيوادمل ــ سرمحقق زلمی ــ په هند کي دپښتوژبي اوادبياتودايجاداو ودې پړاوونه ــ ۳۲۹ مخ ــ ۱۳۷۳ هـ ش ــ لاهور.

باندي د « غنچه روه » د نامه په ایښوونه یا بدلولوکي د راورټي د « گلشن روه » د نامه اغېزه دخیله ښکاري . باید ووراندي مي لا ویلي وای چي نورمحمد نوري افغان د برتانوي هند له هغو انگلیسي مقاماتوسره لیدنه کتنه کړې وه ، چي له پښتني فرهنگ او تاریخ سره یې دلچسپي لرله . ددغو لیدنو کتنو او فرهنگي اړیکو په لړ کي یې د انگلیسي ختیځ پوه او پښتو پوهاند هنري جورج راورټي ( ۱۸۲۵ ـ ۱۹۰۶ ع ) سره یې له نژدې پېژندله .

د نوري افغان په آثارو کي د افغانستان دتاریخ یادونه هم سوې ده او ویل کېږي ، چي ددغه اثر یوه نسخه د لندن په انډیا آفس کي سته . سربېره پرده یې پهخطاطي کي هم لاس درلود او د جورج راورټي لپاره یې دافضل خان خټک « تاریخ مرصع » اود عبدالقادرخان خټك « گلدسته » خطاطي کړې ده ( ۱ ) .

اکادمیسن پوهاند رشاد صاحب کښلي دي « نوري په پښتو، پاړسو ، عربي ، سندهي ، انگلیسي او اردو ژبو پوهېده او د امیر شیرعلیخان په دوهمه پاچهي کښې له قندهارڅخه سند ته تللی او هلته په کراچي ، ټهټه اونورو ځایو کښې اوسېدلی دی ... د مرگ کال او هدیره یې څرگنده نه ده » ( ۲ ) .

نورمحمدنوري افغان په پښتو و پاړسي دواړو ژبو شاعري کړې ده او په نثر کي یې ښه پوره قلم چلولی دئ . د پښتوشاعری دېوان یې ورك دئ . په پښتانه شعراء کي یې د دنظم دنمونې په توگه د

---

( ۱ ) په هندکې دپښتوژبي اوادبیاتودایجاداو ودې پړاوونه ـ ۳۲۸ مخ د مکینزي دفهرست په حواله .
( ۲ ) پښتانه شعراء ـ دریم ټوك ـ ۸۷۳ مخ

مثنوي يوه ټوټه ثبت ده او ويل کېږي ، چي په تحفه الاميرکي يې « دري ښکلي غزلي او يوه ټوټه مثنوي خوندي ده » .ما ته د تحفه الامير د ليدلو او کتلو موقع ميسره سوې نه ده .له غزلويې يوه غزل « په هندکې دپښتو ژبي اُو ادبياتودايجاد او ودي پړاوونه » نومي اثر کي خوندي ده، چي دلته به يې له هغه اثرڅخه رانقل کړم :

چي طالب دافتاب رويه دلـــــستان يم
د سحرپــــه شان به خودځيري ګرېوان يم
چي مي نمرد وصل سر په غروب کښېښود
د شفق په څېر تـــر سترګو خون فشان يم
هست و نېست مي په يوه ګردش کاوه شي
ګرد غبار د يوه څه ګـــــرم جولان يم
په هندي ادا يې هرڅه له مالـــوټ کړه
زه ساده په زړه پښتون دخـراسان يم ( ۱ )
برګ بيد غوندي به تل په لرزکي خود يم
چي عاشـــــق په هغه سروخرامان يم
راتـــه څـــه وايې له ننګه له ناموسه
خـــو په تورو تورو سترګو بنديوان يم
څو چي سـرمي غوڅوي بې مهره ښکلي
لکه شمع زياده ورتـــــه خندان يم

( ۱ ) پردې بيت باندي د کاظم خان شيدا ددغه بيت اغېزه پرته ده ، چي وايي :
په هندي ادا يې وکړې په ما چاري زه شيدا په زړه ساده د روه افغان يم

که مي وېـــوښتې له حـــاله حال مي دادئ
پــــه هجران د تـــــورو زلفو پرېشان يم
ودې باغ تـــه نن راغلی کـــوم گلرخ دئ
چې نوري غوندي يې زه په مخ گويان يم ( ۱ )

د پارسي شاعرۍ قوت يې له هغي قطعې څخه ښه ترا څرگندېدلای سي ، چې د اميرشيرعليخان په وصف کي يې ويلې ده :

### قطعه

اميرالــــــمومنين شيرعليخان آنکه شيران را
نباشد غيرظــــــل رايتش روز وغاملجا ( ۲ )
خيال تيغ تيزش آفــــــتاب اردرضميرآرد
بروج آسمان هريك زتحويلش شــــود جوزا
اگرزين سان شود معمور هــــربوم وبرازعدلش
نيابد جــــغد غيرازمسكن عنقادگرماوا
بعهد داد او بشگفت اگرچون قـــد گلرويان
دهد سرو سهی سيب و انار و نرگس و شـــهلا
زبس رشك كفش خون درجگر كرده است دريا را
صدف ياقـــوت تر زايد بـــجای لؤلؤ لالا
اگـــرنحل عسل درگلشن خلقش چرا گردد
ز دود شمع سقف خـــانه افلاك مشك آلا

---

( ۱ ) په هند کي دېښتو ژبي او ادبياتو ..... له کتابه د تحفه الامير دخطي نسخې په حواله
( ۲ ) کتېمت ولېکل سو. په معنايې پوه نسوم .

ازان بنواختش یـــزدان بتشریف چنین حشمت
که گـــیرد کاردین حق بسعی وهمتش بالا(۱)

دا بل نظم یې د امیر محمد اعظم خان ، چې دی یې سردار محمداعظم خان بولي، پر مړینه ویلی دئ . په دې نظم کې یې له دغه امیر سره خپله ناخوښي څرگنده کړې ده .

آن حاکمی که بـــود خلایق ازو نفور
وز سروریش رقت ز دلــــها بدو سرور
چون شد عزیز، عزت عالـــم بباد داد
ظلش بساخت عشرت عالـــم هوالحرور
چون نسبتش بظـــل الهی ثبوت داشت
سلطان عارفین بـوفاتش شده حضور(۲)
بسطام مـــدفنش شد و طاعون قتیل او
تاریخ فوت و مغفرتش خواه از غفور(۳)
یارب بحق شـــاه خراسان امیر آن
فغفر لـــه بفضلك یا منشق القبور(۴)

د نورمحمد نوري افغان نوم د پښتو هنري نثر د پیلامې

---

(۱) گلشن امارت ــ صفحه ۲ ــ کابل ــ ۱۳۳۵ ش

(۲) سلطان العارفین د شیخ بایزید بسطامي (رح) لقب و. امیر محمد اعظم خان د بایزید بسطامي په زیارت کې ښخ دئ او دلته همدغه مطلب ته اشاره ده .

(۳) « غفور » دامیرمحمد اعظم خان د وفات تاریخي ماده ده . چې ابجدي ارزښت یې ۱۲۸۶ کېږي . امیر د همدغه کال د رجب المرجب پر دریمه د طاعون په ناجوړی مړ سو . په تاریخي پېښلیك کې د امیرمحمد اعظم خان مړینه په ۱۲۸۵ کې بلل سوې ده .

(۴) گلشن امارت ــ ۱۸۵ مخ

اینبوونکو په لړکې د هشنغر د تنګي د مولوي احمد ( ۱۲۶۱ — ۱۳۰۰ ق ) ترخنګ راغلی دئ . دده د هنري نثر یوه نمونه به په ګډه سره ولولو او پر دغه ځای به د نورمحمد نوري افغان بحث ته د پای ټکی کښېږدو.

« په سنه یوزر و دوه سوه اتیا هجري کښې سردار محمد امین خان ( ۱ ) حقتعالی دې عفوه د تقصیراتو ورته وه کړي حاکم دقندهار وه محرر ددې رسالې یې تقریبا یوه شپه په خدمت حاضر وه پسله طول دمکالمې وفرمایل :په داهومبره سیاحت کښې که دې څه له عجایبو لیدلي وي په عرض یې ورسوه » فقیرعرض وکړ : جهان پناها ! عجایبات دحق تعالی په مضمون د درمشحون سره د آیه کریمه : « سنریهم آیاتنا فی الافاق » ترحده تېردي ، کلام رباني په بیان کښې ددوی قضا دوتر کړې ده ؟ مګر دوعاګوی ته یوه عجیبه مساله پېښه شوې ده چي په حل پوري یې حیران دی هغه داده: چي دوعاګوی لره عادت دی هروخت چي له ملکه دقندهار ووزي اوپه بل ملك داخل شي له استوګیو د کلیو د ښهرو په باب کښې دعمر ددنیا پوښتنه کوي ساکنان دټولو وطنو وایي چي بېشکه ستا ومزاج ته خلل پېښ شوی دی دنیا نوې څوانه پېغله ده مور غواړو پسله دې عمارات وکړو په سوداګری پسې

---

( ۱ ) سردارمحمدامین خان دامیرشیرعلیخان ورور اودخپل پلارامیردوست محمدخان ترمړیني وروسته ( ۱۸۶۳ ع ) دکندهارمستقل حکمران و .په ۱۸۶۵ ع کال یې دخپل وروراميرشيرعليخان سره دکندهاراوکلات ترمنځ دباجګاه په سیمه کي مقابله وکړه اوله خپل خوان وراره سردارمحمدعلي جان سره په مخامخ نښته کي دواړه ووژل سول . وایي په دغه بدمرغه کورنی جګړه کي اته زره تنه کندهاري عسکرمړه سول ( افغانستان درمسیرتاریخ ـ ۵۹۰ مخ ).

تللي گتہ وکړو کارېزونه وکاږو ، باغونه کښېږدو ، ولې وکینو ، کښتونه په وکړو ، نکاح وتړو په لو اولاده وهوسېږو .

په وخت د بازگشت چي قدم په عرصه د ضلعي دقندهار کښېږدي او پوښتنه وکړي. جهان پناها! ټوله په جواب کي راته وايي :

اې احمقه ! بې بصراوبصیرته ! څه ځای دپوښتني دی . نه وینې نمرپه لوېده وقت آخر دی ، نفس دهرسړي و غرندي ته رسېدلی په رمق بندد ی اسرافیل ښکرپه شونډوایښی غوږ پرآواز دحکم ولاړدی د قیامت او زمونږ ترمیان یوه گنبده ده .

جهان پناها! ودې برخلاف لوېدوته د اهل قندهار له تمامه جهانه نهایتي په تعجب کښې یم . چي فقیرعرض تمام کړ زمکه د ادب یې کښل کړه، حاضرانودمجلس وفرمایل :

جهان دیده بسیارگوید دروغ

سردارصاحب پسله تامله ووې هردم دسختی چي پرانسان ورشي قیامت یې دی . سختي چي نن ورخ پردې عالم ده په جهان کښې به نه وي » ( ۱ ) .

****

***

**

*

( ۱ ) د اروانباد نوري افغان پردې خبره نزدې یو نیم سل کاله تېر سوي دي . خو که نن هم څوك د کندهار له خلکوهمدا پوښتنه وکړي . چي نوري مرحوم ختي کړې وه . همدغه راز جواب به واوري ! ( م . هوتك )

# ملامحمد اکرم هوتك

د ملامحمداکرم هوتك په باب زه د ویلو ډیر څه نلرم .علامه حبیبي یې په «جنبش‌مشروطیت» کي دعلامه‌محمودطرزي داستاد په توګه نوم اخلي او لیکي ، چې طرزي ته ملامحمد اکرم هوتك دیني او عربي علوم ورزده کړي وو ( ۱ ). علامه حبیبي مرحوم د هغه افغاني پیلوټ له خولې چې‌محمودطرزي یې له هیواده دوتلو په نیت هرات ته بېوه ، لیکي ، چې په دغه وخت کي محمود ډیر ناآرامه و او اوښکي یې بهېدلې . له ځان سره دغه پښتو بیت وایه

دا ستا په مینه په شپو شپو زه کړېدلی یم
اوس دي پرېږدمه چي انګرېزدرته غندلی یم

پیلوټ وایي : علامه‌محمودطرزي ویل چې دوهمه مصرع اصلا داسې وه « چې رویبادرته غندلی یم » او دا بیت دده وفادار استاد ملامحمد اکرم هوتك هغه وخت ویلی و ، چې له هیواده واته .( ۲ )

دعلامه له کورنی سره دملامحمد اکرم هوتك مینه له دغه روایت څخه اټکل کېدای سي چي وایي هغه وخت چي دغه کورنی د امیرعبدالرحمان خان په حکم له هیواده په ډېر ناوړه شکل ایستل کېدله ( ۱۸۸۰ ع = ۱۲۹۸ ق ). ملا محمداکرم هوتك که څه هم په اصطلاح دمجرمینو په ډله کي یې نوم نه و ، خود وفادارۍ دود یې پرځای کړ او دی هم ورسره پردېس سو.اروانښاد استادعبدالروف بېنوادخولې خبره ده چې دعلامه محمود طرزي ورور

---

( ۱ ) جنبش مشروطیت درافغانستان ــ ۱۲۰ مخ ــ د۱۳۷۷ ش چاپ .

( ۲ ) هماغه‌اثر ــ ۱۱۳ مخ ــ ۱۳۷۷ ش

لالامحمدزمان خان هم دملااکرم هوتک شاگرد و( ۱ ) .لالا محمدزمان خان ډېرښکلی خط کیښ اودخپل پلار سردارغلام محمدخان طرزي ۸۹۱ مخیزدېوان یې په ۱۳۰۹ ق کال پخپلو هنرمنو گوتو کښلی اوچاپ کړی دئ .

ملامحمد اکرم هوتك دعلامه سیدجمالدین افغاني له افکارو څخه متاثر شخصیت و اوپه اغلب گومان به یې ورسره لیدلي کتلي هم وه . خپل شاگرد محمودطرزي ته یې داسلامي ملتونو د بیدارولو په باب دهغه د افکارو په هکله ډېر څه ویلي وو ( ۲ ) .

دملامحمداکرم هوتك په قلم په پښتوژبه دشعرویلواولیکني خبره ښاغلي سرمحقق زلمي هیوادمل کړې ده . ده لیکلي دي چې «د ... اوملااکرم پښتودېوانونه نه دي لیدل شوي ، مګرمتفرق پښتوآثاریې شته »( ۳ ). داآثارما ( هوتك ) پخپله نه دي لیدلي .

*******

******

*****

****

***

**

*

---

( ۱ ) پښتوچاپي اثار ـ ۱۰ مخ ـ دعبدالروف بینوامقاله « مرکه دپښتو » ـ کابل ـ ۱۳۵۷ ش

( ۲ ) جنبش‌مشروطیت ـ ۱۱۹ مخ .

( ۳ ) هیوادمل ـ زلمی ( سرمحقق ) ـ دپښتوادبیاتوتاریخ ( لرغوني دوره ) ـ ۲۲۵ مخ ـ ۱۳۷۹ ش

## صدیق اخوندزاده هوتک

د صدیق اخوندزاده هوتك نوم موږ ته د سردارمهردلخان مشرقي د ادبستان له لاري رارسېدلی دئ . دی د ۱۲۵۰ هـ ق کال په شاوخوا کي د کندهارښار په ښکاپربازارکي اوسېدئ او د میرزا حنان بارکزي ، حاجي جمعه بارکزي حاجي عبدالله ، ملامیران او نورو سره یوځای یې د هغه ادبي انجمن غړیتوب درلود ، چي په دغه وخت کي د سردارمهردل خان مشرقي تر مشرتابه لاندي په کندهارکي فعال و. میرزاحنان بارکزی د نورو پښتنو شاعرانو د یادوني په لړ کي د صدیق اخوندزاده نوم د معاصرینو په لړ کي راوړي.

اوس صدیق اخوندزاده ښه شعروایي

ډېرښه پوه دئ د بیتوپه نښلول ( ۱ )

زموږ په معاصرو تذکروکي دصدیق اخوندزاده پېژندلیك وارد واره په « پښتانه شعراء دوهم ټوك » کي خپور سو.دپښتانه شعراء دغه برخه د اروانښاد علامه حبیبي په قلم تهیه سوې ده .کله چي د سراج الدین خان سعید او مولوي صالح محمدهوتك ګډ تالیف « تذکره الشعراء » خپور سو ( ۱۳۶۶ ش ) ، څرګنده سوه ، چي دصدیق اخوندزاده معرفي ترپښتانه شعراء وړاندي هم سوې وه . . ددغه پېژندلیك له مخي صدیق اخوندزاده پر کلاسیکواو ملي اوزانو شاعري کړې ده او دشاعری ښه ډېره برخه یې فکاهیات وه .

---

( ۱ ) وګورئ : دمیرزاحنان بارکزي دېوان ـ د محمد معصوم هوتك په زیار ـ ۲۲۴ مخ ـ ۱۳۷۰ ش دپښتو اکېډمی بلوچستان کوټي چاپ دېوان دغه بیت نلري .

پښتو دېوان یې درلود ، چي « مهملات صدیقي » نومېدئ .دغه دېوان دده تروفات وروسته ورك سوی دئ .ادبي څېړونکود صدیق اخوندزاده شعرد خپلوخصوصیاتو له پلوه په هندي سبك کي شامل بللی دئ . زه به یې دکلام متفرق بیتونه وبدلي دلته راوړم .

پر دوکان به د حمیدصراف کوټه سي
آبداري صدیق د سرو ورکوي جس ته

********

خپل ســـاقي راته نیولي ډك جامونه دي
بېلتانه پرملك پاشــــلي سره اورونه دي
سپینه خـــــوله دي کټوری دئ دشرابو
سپینکی غاښ دي مرواري لب دي لالونه دي
چي د شنو توتیانو سېل راغی لـــــه هنده
زه توتي د بـــــل ولات مات مي بالونه دي
دخپل سېله راجـــــلاسوم هوایي سومه
راځه پاته د هــــــمزولو مجلسونه دي
پر پـــــرهارمي مـــــلهم مه ایږده‌طبیبه
چي پـــــردې پرهارمي بیاسباواورونه دي
ستاپردوو سترګـــــو مین صدیق دي نه مري
چي پرزړه یې د اشـــــنای د لاس داغونه دي

********

د عاشقی په کــــورکښي دومره دسترس لرمه
سر به قربان ترخپل جانان کم دومره وس لرمه

که ددیدن حج اکبر کـــــوي تلوار راوکه
پرسپین رخسار باندي د زلفو توراطلس لرمه

دصدیق اخونزاده دشعر دپورتنیوبېلګوله لوستلو څخه ماته داسي ښکاره سوه ، چي دابېلګې په مقامي سندروکي راتللای سي ( ۱ ) دده نوم که څه هم دمقامي سندروپه ویونکوشاعرانوکي زماپه سترګه سوی نه دئ خودابېلګي دمقامي سندروپرمقامونوبرابري خېژي .

صدیق اخونزاده تر ۱۳۰۰ هـ ق وروسته مړ او د احمدشاهي کندهار په عمومي هدیره کي ښخ دئ .

******

*****

****

***

**

*

---

( ۱ ) مقامي سندري دخوارلسمي هجري پېړۍ په سرکي رواج سوي دي . دلسندري دغزل هغه شکل دئ . چي دهندي راګوپرمقامونو ( بیرمي . پاړي . کستوري . بهاګ . اسا . نیریز .... ) برابر ویل سوی و . داغزلي دموسیقی په محفلونولوباندارونوکي دسندرغاړوله خواویلي کېدلې . دموسیقی دغوباندارونوته بې په کندهارکي ( شوق ) وایه لوسندرغاړي بې ( شوقیان ) بلل . چي د « اماتور » اصطلاح معادله بې بللای سو . دمقامي سندرو ویونکي شاعران په تېوله پښتونخواکي موندلای سو خوپه کندهارکي دلشاعري ښه په درب رواج وه لوده . پرولسي شاعرانوسرېېره دپښتوژبي ځینوتلیو او مخکښو استاداتو لکه علامه عبدالعلي کاکړ . حاجي ولي محمدمخلص . ملاعبدالمنان . سلام بابا . رحمت الله بابالوملاجانان اخوند هم په مقامي سندروکي قلم چلولی دئ . دمقامي سندروپه باب دتفصیل له پاره دپښتوادبیاتوتاریخ ( لرغوني اومنځنی دوري ) ــ ۲۷۲ ــ ۲۷۴ مخونه وګورئ .

## عیسی هوتك

عیسی هوتك دکندهارله هغو دېوان لرونکو شاعرانو څخه دئ ، چي پښتني نړۍ ته ډېر وروسته ورپېژندل سوی دئ . دده دېوان د ښاغلي سرمحقق زلمي هیوادمل په کتابتون کي خوندي و او ښاغلي حبیب الله رفیع د همدغه دېوان له مخي په « ادبي ستوري »دوهم ټوك کي ورباندي نسبتا مفصله لیکنه کړې ده . ښاغلي رفیع دده له دېوان له پای څخه یوه برخه رانقل کړې ده ، چي د شاعر په پېژندلو کي یوڅه مرسته کولای سي . دی وایي :

یـــــــــم زه عاصي عیسی هوتك په اصل
لغړی د حـــــــــاجي صاداد د نسل ( ۱ )
فقر وعلم وحلم تـــــــــول دده صفات وو
تقوی ، زهد ، حج یې واړه کـــــــمالات وو

.....

وطن زمادئ قندهـــــــار هم مـــــــزرعه ده
د مظلومو تکیه گاه هـــــــم پـــــه اسره ده
پکې نن مسکین زمـــــورږ قطب الاقطاب دئ
په محضه صاحبدین غوث یې خطاب دئ ( ۲ )

دملاصاحبدین اخوند دژوندزمانه پرکندهار باندي د سردار کهندل خان له واکمنۍ سره برابره ده . سردارکهندل خان پر کندهار باندي په دوه ټپاله واکمني کړېده، چي ددواړو واکمنیوترمنځ یې د

---

( ۱ ) لغړی دهوتکو له اتلسو پښو څخه یوه پښه ده .

( ۲ ) ادبي ستوري ــ ۲ / ۱۴۸ مخ

دروکلونو وقفه سته .لومړی واکمني یې له ۱۲۴۵څخه تر ۱۲۵۵ ق پورې دوام وکړ او دوهمه پلا یې له ۱۲۵۸ هجري قمري څخه تر مرګه پورې ( ۱۲۷۱ ق ) پایښت وموند .په دې ډول نودعیسی هوتک د شاعری زمانه دهمدغو کلونو تر منځ اټکلولای سو. څېړونکودده دېوان په ۱۲۶۰ ق کال کې بشپړ سوی بللی او په دغه وخت کې ده خپل عمر یوڅلوېښت کاله ښوولی دئ ( ۱ ). داسې ښکاري ، چې دسردار کهندل خان دمړینې پر وخت به غالبا ژوندی و.

له عیسی هوتک څخه د دوو زرو بیتو په حجم یو بشپړ مردف دېوان پاته دئ . شاعري یې دلوړې سطحې بلل سوې ده او د تصوف باریکی یې پکښې راوړي دي . ورځنی محاورې او د عوامو وراشې یې په شعر کې کارولي دي او دې کار یې د ځینو څېړونکو په قول شعر ته یو « امتیازي خصوصیت » ورکړی دئ . ده په دېوان کې دخپل وخت دکندهار شاعري « بې سوزه » بللې ده او خپله یې له سوزه ډکه .

د قندهار اشـــعاربې سوزه دي ټول
زما په شعر کې هم سوز شته هم ساز

خو دا قضاوت یې بې له دې چې یو شاعرانه غتبازي وبولو، بل څه نه تر وزي . ځکه ددغه وخت په کندهار کې دسردارمهردل خان مشرقي ادبي انجمن په موج کې دئ او دمیرزاحنان بارکزي ، حاجي جمعه بارکزي ، صدیق اخندزاده هوتک ، ملامیران ، حاجي

---

( ۱ ) ادبي ستوري ۲ / ۱۴۹ مخ

عبدالله او پخپله دسردارمهردل خان مشرقي په شان شاعرانو پکښې له « سوز و سازه » ډکه شاعري کوله . عیسی هوتك عروضي شاعري هم کړې ده ( ۱ ). د وینا نمونه يې له ادبي ستوري دوهم ټوك څخه رانقلوو .

له پرتوه ستادحسن کـــــــړي گل رقص
توتي رقص کړي ، قـــمري او بلبل رقص
لکه رقص چي ذره خوري د نـــمر له مخه
زه دیار له مخه کــــــــړمه تل تل رقص
چي ښکاره شي په مجلس کي ستاله شوقه
صراحي وشمع ، جام خـــوري د مل رقص
ستاد زلـــــــــفو دقامت د لب له پاره
سروه رقص خوري لالـــــــه و سنبل رقص
هسي نه چي ته یوازي عیسی رقص خوري
ستادیارله مخه خـــــوري عالم کل رقص

*********

*******

*****

***

*

---

( ۱ ) په پښتو ادب کي د خلیل بن احمدفراهیدي البصري پر اصولو برابره شاعري له عیسی هوتکه پرته نورو شاعرانو هم کړې ده . چي په هغو کي دولت لواني لومړنی معلوم پښتون شاعر دئ . چي ځيني غزلي يې پر عروضي اوزانو برابري ويلي دي . دتفصیل لپاره وګوړئ : ددولت لواني دیوان ته د پوهاند عبدالشکور رشاد سریزه .

## قاضي عبدالعلي اخندزاده هوتك

قاضي صاحب دکندهار دښکاړ بازار اوسېدونکی او دخپل وخت لوی عالم و. دکندهار مشاهیر لیکوال لیکي ، چې قاضي عبدالعلي اخندزاده « په معقولو ، فقه ، ریاضي او هیئت کي لوی لاس درلود او پرپارسي هیئت یې شرح لیکلې ده» (۱) د قاضي مرحوم د کورنی کورونه په همدغه بازار کي ښکاړ دروازې ته نژدې د بازار په لویدیځه راسته کي واقع وو .نوموړي یوه مسجد جامع په همدغه بازار کي ودانه کړې ده . دکورنی ځیني غړي یې اوس هم هورې اوسي . قاضي عبدالعلي اخندزاده هوتك په ۱۳۴۳ کي مړ او پخپله جامع کي ښخ دئ.

## عبدالغفوراخوندزاده هوتك

دده په باب معلومات به د کندهار مشاهیر په حواله ولیکو . هورې یې راوړي دي ، چې عبدالغفوراخوندزاده دکندهارله مشهورو عالمانوڅخه و.په علم‌طب ښه پوهېدی.دفارسي ادب مطالعه یې درلوده او پرمیرزابیدل یې فارسي شرحه لیکلې ده. په کندهارکي زیږېدلی او په همدغه ښارکي په ۱۳۳۶ ق کي مړدئ . قبریې د کندهار په عمومي هدیره کي دئ (۲ ).

*******

****

---

( ۱ ) دکندهارمشاهیر ــ ۲۹۹ مخ

( ۲ ) دکندهارمشاهیر ــ ۳۰۱ مخ . دنقل قول کلمات لاندې باندې سوي دي .

## حاجي محمد اکبر هوتك

حاجي محمد اکبر هوتك دملا موسی هوتك زوی او د محبت خان هوتك لمسی و ، چي د ۱۲۳۸ هـ ق کال په شاوخوا کي په کندهار کي زېږېدلی او د ۱۳۱۷ هـ ق کال د لوی اخترد میاشتي په وروستي ورځ ( چهارشنبه ) وفات سوی او د ۱۳۱۸ هـ ق کال دعاشورا په لومړۍ ورځ ( پنجشنبه ) پخپله پلرنۍ هدیره کي ښخ سوی دئ . حاجي محمد اکبرهوتك د امیر شیرعلیخان د پاچهۍ په دوره کي په کندهار کي اوسېدی او دهندوستان سوداګري یې کوله . نومړی د کندهار د ملاګلداد کوځې د هوتکو په کورنۍ کي دښه نامه څښتن او په کندهار ښار کي دخپل وخت مشهور سړی و.د بیت الله شریف په زیارت مشرف سو ی و. له شعر وادب سره یې مینه وه او پخپله یې هم دشعر ویلو قریحه او د څه لیکلو توان درلود . په پښتو و پارسي و عربي ژبو پوهېدی . په خطاطی کي یې هم لاس درلود .دده پـه لاس استنساخ سوي آثارځني پاته دي . ( ۱ ) د خطي او نادرو کتابو د ټولولو شوق یې درلود او یوه په کمي لحاظ وروکې خود کیفیت له مخي مغتنمه کتبخانه ځني پاته سوې وه .

حاجي محمد اکبر هوتك د ۱۲۹۸ هـ ق په حدودو یعني د امیرعبدالرحمن د پاچهۍ په سرکي له کندهاره برتانوي

---

( ۱ ) نومړوي د امام غزالی رحمه الله علیه( ۵۵۰ ق مړ ) اثر کتاب الاربعین فی اصول الدین خطاطي کړی دئ اوپه پای کي کښلي دي « کمل کتاب الاربعین بحمدالله وحسن توفیقه عن یداحقرالعبادالله تعالی محمداکبرهوتك فی وقت ظهر من خمسه شهررمضان المبارك فی یوم الاحد سنه ۱۲۶۷ هـ ق » ( بیدیاني کلوټه ۱ / ۲۱۲ مخ ) دغه نسخه اوس له ښاغلي حمدالله صحاف سره ده .

هندوستان ( دکوټي ښار ) ته تبعید سوی و . د تبعیدولو جریان او عوامل یې ما ( م . هوتك ) په خپل یوه کتاب « پوخ کاڼي » کي بیان کړی او دلته به یې بیا مکرر وکاږم .

انګرېزانو د ۱۸۸۰ ع کال د جولای پر اووه ویشتمه (د ۱۲۹۷ هـ ق کال دشعبان پر اوولسمه ) د میوند په تاریخي غزاکي د میوند د زمري غازي محمد ایوب خان په مشري د پښتنو لښکروله لاسه سخته تاریخي ماته وخوړه . انګرېزانوپه کابل کي له سردارعبدالرحمان خان سره دکابل پر امارت باندي له موافقې او دکابل تخت ته دنوموړي تر رسولو وروسته له غازي محمد ایوب خان څخه د غچ اخیستلو په منظور د جنرال رابرټس په مشرۍ یو درونډ لښکر کندهار ته ولېږه ، چي د همدغه کال د روژې په میاشت کي یې دکندهار په پیرپایمال کي غازي محمد ایوب خان ته ماته ورکړه . غازي سردار هرات ته پرشاوو د قواوو تر تجدید وروسته بیرته مخ پر کندهار راروان سو. د ۱۲۹۸ هـ ق کال د رجب دمیاشتي په پای کي یې ګرشك ته نږدې د (کارېز ) په سیمه کي د سپهسالارغلام حیدرخان توخي ، سردارمحمدحسن خان ( د سردارخوشدلخان کندهاري زوی ) او قاضي سعدالدین خان په مشرۍ د امیر عبدالرحمان خان پلوي لښکر ته ماته ورکړه او کندهار یې بیا ونیو . داخل امیرعبدالرحمان خان پخپله له دوولس زرو لښکرو سره د غازي ایوب خان د مقابلې لپاره له کابله کندهار ته ولاړ اودکندهارښارته څرمه دملاعلم اخوند په کلي او د کندهار زاړه ښارته نږدې یې په دوو جنګونوکي ایوب خان ته ماته

ورکړه (یو زر و دوه سوه اته نوي یم قمري کال دروژې میاشت) .
غازي ایوب خان ایران ته فرارسو او پلویان یې په هیواد کې دننه سره خواره واره سول . امیر د غازي محمد ایوب خان پلوي علماء ( عبدالرحیم اخونزاده کاکړاوملاعبدالاحد پوپلزی ) پخپل لاس د خرقې شریفې په صحن کي ووژل او پخپله کابل ته بریالی ستون سو. په دغه وخت کي غلجیو په کلات کي د شاخان هوتك په مشرى دامیر عبدالرحمان خان په مقابل کي قیامونه وکړل. له دغو قیامونوسره چي دغازي ایوب خان دپلویانوبالقوه اوبالفعل ملاتړ مل و ،دامیر لخوادېرسخت چلند وسواو په بېرحمی سره وځپل سول ( ۱ ) دغو پېښو په کندهار ښار کي اوسېدونکو هوتکو مشرانو او مخوروته هم مخکه سره تبی کړه . هغوی ته د سرکاري مقاماتو لخوا د کرکي په سترګه کتل کېدل او ډېر وچ ولانده ددغي کرکي په اور کي وسول .حاجي محمداکبر هوتك ، چي په دغه وخت کي دکندهار یو معزز سوداګر او مخور سړی او د شهید عبدالرحیم اخونزاده له کورنی سره یې خپلوي درلوده ، د همدغي کرکي او بدنیت قربانی او کوټي بلوچستان ته تبعید سو. حاجي محمداکبرهوتك د ۱۳۰۹ هـ ق کال ترشوال المکرم میاشتي وراندي د امیر عبدالرحمان خان په نامه په پښتو ژبه یوه عریضه ولېږله او په هغې کي یې دخپلي بیګناهی ادعا او له امیرڅخه یې

---

( ۱ ) ددي پېښوتفصیل په تاج التواریخ لومړی ټوك نهم اویوولسم فصل کي ولولئ .
شاه خان هوتك دمحمدافضل خان زوی د میرعلم خان لمسی دخان خانان عبدالرحیم خان کړوسی دغازي نورالله خان کودی او دحاجي انکو پردی و . حاجي انکو دملي قاید حاجي میرویس نیکه وراره اودیحیی خان زوی کېدی .

د بخښني او هيواد ته د بيرته راتګ غوښتنه کړې وه. ددغي پښتو عريضي اصل متن ما نه دئ کتلی ، خو د اميرلخوادعريضې جواب ښاغلي زلمي هيوادمل په « بېدياني ګلونه » کي داسي راوړی دئ : « اخلاص نشان حاجی محمداکبرهوتکی راواضح خاطرباد عريضهٔ شمابه خط وادبيات افغانی که به حضورانورشهرياری فرستاده بوديدازنظرهمايونی ګذشت آنکه اظهاربی ګناهی خودراکرده خداوندراضامن قرارداده بوديد حالی شديم.چونکه خداوندراضامن قرارداده ايد هرګاه شما ګناه و خطا کرده باشيد ازسرګناه شماګذشته عفوتقصيرشمارافرموديم به کمال خاطرجمعی بياييد، زيادچه نګارد . فقط تحريرفی۱۵ شهرشوال المکرم سنه ۱۳۰۹ » اميرعبدالرحمن ( مهر ) ( ۱ )

حاجي محمداکبرهوتك تردغه فرمان وروسته يعني د۱۳۰۹ هـ ق کال ترشوال المکرم مياشتي وروسته کندهار ته له تبعيده راستون سو( ۲ ). ده له « هندوستانه » ( مرادکويټه ده .م .هـ) د کندهار د نايب الحکومه په نامه هم يوه منظومه عريضه استولې وه او په هغې کي يې د خپلې بيګناهی او د « مفسدانود حسادت » ښرګندونه کړې وه اودغه راز يې له نايب الحکومه څخه غوښتي وه، چي دده عرض پاچا ته ورسوي. د اسي ښکاري ، چي د امير

---

( ۱ ) زلمی هيوادمل ـ بېدياني ګلونه ـ ۲۰۸ مخ ـ ۱۳۶۲ مخ

( ۲ ) داخبره .چي په فرهنګ ادبيات پښتو . لومړی ټوك ـ ۴۲۱ مخ کي کندهارته ديرته راستنېدو نېټه د ۱۳۰۵ هـ ق کال حدود ښوولي دي . سمه نه ده او ښايي د (۹ ) هندسي عدد د ( ۵ ) په شکل ثبت سوی وي. دغه راز ښاغلي سعيد ګوهر صاحب . چي په « پټه خزانه فی الحقيقت ـ ۹۴ مخ کي ېدانېټه ۱۳۰۴ هـ ښللي ده لوېر هغه باندي يې دخپل استدلال ودانی دروګي ده . بې بنياده خبره ده . زه به بيا وروسته پروغږېږم .

په نامه عریضه د کندهار دهغه وخت دوالي په توسط کابل ته استول سوې وه. دوالي په نامه منظومه عریضه هم ښاغلي هیوادمل صاحب په « بیدیاني ګلونه » کي خوندي کړې ده اوښاغلي سعید ګوهر په « پټه خزانه فی الحقیقت » پنځه اتیایم مخ کي رانقل کړې ده .

محب چهاریارنایب الحکومهٔ قندهار

هم والا يې هـــم سرکار
سر و مال مي تـــرتاجار
د نبي د روی د پـــاره
اې زمـــا علی باداره
عرض مي وکه و پاچا تـــه
اې زمـــابابکه پلاره
مفسدان دقندهـــــار
دوی مي ډېـــردي بې شمار
يـــولعین دئ بل شیطان
بل هـــــندو دئ دزنار
چي دادرې بلا یوځای سي
پناه غـــــواړم د ستار
پاړسي کاغذ مي هـــم زده
لیکن ستانه دئ پـــه کار
چي بندي د هندوستان يم
اوس مي نـــه کیږي رسد

نظربنده د حـــــافظ یم
زې قـــرضداره دولس صد
بېگناه يې زه بــــــرباد کړم
دښمنانو مفسدانـــــوپه حسد

حاجي محمد اکبر هوتك کندهار ته تر راستنېدلو تقريبا دوه کاله وروسته په ۱۳۱۱ هـ ق کي دامير دلېدو لپاره کابل ته تللی و او هوري يې د اميرحضورته په پښتو ژبه عريضه کښلې او د « ملاقات » غوښتنه يې کړې وه. (۱) په دغه سفر کي يې له خانه سره خپل ضمانت ليك هم وړی و، چي د کندهار د معتبرو سوداګرواو پخپله د کندهار د حاکم لخوا تصديق سوی و . په کابل کي يې امير ته په دې مضمون يوه عريضه کښلې وه .

بسم الله الرحمن الرحيم
ستاقربان سم ددرست اسلام پادشاها!
اودهرغريب پناها!

کمکی دغلامانو او مخلص ددعاګويانو هغه حاجی محمد اکبر چي په فرمان دعفوي سرفرازسوی وو نن ورځ ده چي په قدم بوسی دپادشاه عادل په کابل کي حاضر دی ، بخت و تخت دي ابدا برقرار او باوقار اوسه په روی د سرورکاينات عليه افضل الصلوه و علی آله و اولاده واصحابه واتباعه اجمعين .

---

(۱) دغه سنه په « بيدياني ګلونه ـ ۲۱۰ مخ » کي ۱۴۱۱ هـ ق ليکل سوې ده . چې چاپي غلطي يې بولم . ښاغلي سعيد ګوهر . چي په « پټه خزانه فی الحقيقت » کي دغه برخه اخيستې ده . نوموړي غلطی ته يې پام سوی دئ او د سواليې نخښه يې ورته ايښې ده . خود سمولو هڅه يې نه ده کړې .

امیر دخپل منشي په قلم د عریضې په پای کي ورته کښلي دي
« اطلاع حاصل شد سرکاروالاچندروزمی شود که قدری ریزش نموده دوا خورده میشود بعد از دفع ریزش شماربحضور انور می خواهیم فقط فی ۲۸ شهر ذی قعده الحرام سنه ۱۳۱۱ بخط نویسندهٔ حضورمبارك صحیح است فقط . مهر »

دا چي امیر به د « ریزش » تر ښه کېدلو وروسته حاجي خپل حضور ته څه وخت وربللی وي؟ ماته معلومات نسته . دومره راته ثرگنده ده ، چي نوموړی یې د ۱۳۱۲ هـ ق کال د شوال المکرم میاشتي تر پایه پوري په کابل کي ساتلی و او وروسته یې کندهار ته د تگ اجازه ورکړې وه . دغه راز یې د کندهار د حاکم او تجار باشي په نومونو یو فرمان هم په لاس ورکړی و او په هغه کي یې نوموړو ته د حاجي محمد اکبرهوتك د بخښني په باب لارښوونه کړې وه .

« عالیجاه عزت همراه امیرمحمدخان حاکم قندهار و تجار صداقت آگاه حاجی عبدالشکورخان تجارباشی قندهار را واضح خاطر باد در خصوص ضمانت نامهٔ حاجی محمداکبرقوم هوتکی که عالیجاه امیرمحمدخان حـــاکم قندهاردر ضمانت نامهٔ مذکور نوشته و مهر کرده بود، که هفت نفرضامنان حاجی محمداکبر مذکور معتبر وصاحب عزت می باشند و خط بعضی تجاران معتبر قندهار را هم که برای حاکم قندهار نوشته بود که ضامنان مذکور معتبر و صاحب عزت هستند باضمانت نامهٔ مذکوربه حضور والا فرستاده بودید . ملاحظه فرمودیم و به قرارتصدیق شما و تجاران مذکور

حاجی محمد اکبر هوتکی راازحضورانور مرخص و مقرر قندهار فرمودیم که درقندهاررفته بامر غریبی خود مشغول باشد و ضمانت نامه وخط تجاران قندهارراهم برای عزت نشان همتعلي خان صندوقدار صندوقخانهٔ جنسی سپرده شـد ، که با دیگر ضمانت خط های تحویلی خود یکجاکرده نگاه بدارد .

لهذا شمارا از مرخصی حاجی محمد اکبر مذکور خبردادیم همانست که نامبرده مذکور درقندهار میرسد و بامرغریبی خودمشغول می شود باقی از فضل الهی به همه باب خیریت است فقط می ۲۶ شهر شوال المکرم ۱۳۱۲ هـ » ( دامیرعبدالرحمان خان مهر »

د امیر داحکامو له مخي ځرګندېږي ، چې دغه ضمانت لیکونه د کابل په تحویلخانو کې خوندي سوي دي او زما یقین دئ ، چې که یې څوك د پیدا کولو ستونزه پرځان ومني ، پیدا کولای یې سي .

دحاجي محمداکبر د ادبي ذوق ښخه راولاړه سوې مهمه پښنه د « پټې خزانې » هغه نسخه ده ، چې ده دځان لپاره په ۱۳۰۳ هـ ق کال په کوټه کې د عباس کاسي په کتابت کاپي کړې ده او اوس دافغانستان په ملي آرشیف کې خوندي ده .علامه عبدالحي حبیبي همدغه نسخه په ۱۳۲۳ ش کال له شروحو او تعلیقاتو سره په کابل کې چاپ کړه او تر هغه راوروسته ځوځلي نور هم چاپ سوې ده .

دپټې خزانې په تایید او تردید کې له څو کلونو راهیسې بنه ډېرې لیکنې او مقالې خپرې سوي دي او په دغه لړ کې ما هم واردواره په « سپېدې » مجله ( دویم کال ، لومړۍ ګڼه ) کې دپټې خزانې

د موجوديت په دفاع د خپلو اسلافو او کورنيو روايتوپه رڼا کي يوه ليکنه خپره کړه ، چي د ارواښاد قلندرمومند د « پټه خزانه فی المېزان » په جواب کي مي ليکلې وه . کله چي کاناډا ته راغلم نو مي هغې ليکني ته يوڅه پراختيا ورکړه او د يوه کوچنوټي کتابګوټي په شکل مي په ۱۳۷۵ ش کال له ټورنټوڅخه خپور کړ . پر دغه کتاب مي « پوخ کاڼی » نوم ايښی دئ . د کتاب تقريبا دري سوه ټوکه ښاغلي امام الدين ساپي دخپل فرهنګي خدمت په لړ کي پخپل شخصي لګښت د ادب پر مينه والو ووېشل او ماته يې د چاپ لګښت نغد راوليږه. مايې پرخپل وخت ددغه فرهنګي خدمت ستاينه کړې ده او اوس يوځل بيا مننه تري کوم . زما وروستيو معلوماتو وښودل ، چي دغه کتاب لا ډېرو مينه والو ته رسېدلی نه دئ . په هرصورت ، چي خبره سره راغونډه کړم ، دپټي خزانې دَ مخالفينو په لړ کي ښاغلي سعيد ګوهر هم يو کتاب کښلی دئ ، چي « پټه خزانه فی الحقيقت » نومېږي او په ۱۹۹۲ ع کال په کوټه بلوچستان کي چاپ او خپور سوی دئ او په دغه کتاب کي زما د هغي مقالې په باب يو لړ څرګندوني سوي دي ، چي د « سپېدې » مجلې د دويم کال په لومړی ګڼه کي خپره سوې وه . ماته داسي وبرېښېده ، چي ښاغلي سعيد ګوهر صاحب ته زما کتاب « پوخ کاڼی » رسېدلی نه دئ . که دغه کتاب وررسېدلی وای ، ښايي زما د ليکني په باب يې د يادونو اړتيا نه وای احساس کړې . دهمدغو يادونو له بابته زه مجبور سوم دا څوضروري توضيحات ښاغلي ګوهر صاحب او نورو لوستونکو ته



ACKU

وړاندي کړم . خو تر ټولو دمخه دديې خبري یادول ضروري ګڼم ، چي زه د پټي خزانې د محتویاتو عام وتام مدافع نه یم . په دغو محتویاتوکي د نورو ورته تذکرو په شان خامی سته ، غلطی سته او د نه منلو وړ خبري سته . زه د حاجي محمد اکبر هوتك په کتب خانه کي د پټي خزانې په نامه دیوې نسخې د موجودیت عام وتام مدافع یم . دا خبره هیڅکله هم له امکانه لیري نه ګڼم ، چي په هماغه نسخه کي دي زیاتوني و کموني سوي وي .په دغسي یوه ذهنیت به ښاغلي ګوهر صاحب ته خپل بیان پیل کړم .

ما « پټه خزانه فی الحقیقت » څو واره لوستی دئ اودرنو لوستونکو ته به هم دکتاب ترلوستلو وروسته څرګنده سوې وي ، چي دا کتاب دنورو دغه شان کتابونو په پرتله ددې وړ دئ ، چي حساب دي پر وسي .ژبه یې د نورو ورته کتابو پرخلاف مهذبه ده . د « کردارکشی » کوم تلاښ ، چي په نورو ورته کتابو کي سرته رسېدلی دئ ، په دغه کتاب کي نه ښکاري او په دغه کتاب کي پر زیاترو واقعیتو باندي د نورو مشابه کتابود مروج متود پرخلاف ، اعترافونه څرګند سوي دي او تر ټولو لویه پراخ نظري یې لا دا ښوولې ده، چي دَ کتاب په پیل کي یې د ښاغلي سلطان محمد صابر هغه لیکنه هم بې له تصرفه خپره کړې ده ، چي دده زیاترو اعتراضو ته یې مضبوط جوابونه ورکړي دي. خود کتاب له دې ټولوښېګنو سره سره زما په نزدښاغلی ګوهرصاحب بیا هم بریالی سوی نه دئ ، چي د پټي خزانې د جعلیت په برخه کي دي لوستونکو ته د قناعت وړ ځوابونه ورکړي . ددغه کتاب له ۸۲ مخ

وروسته بیبا تر۹۴ مخ پوري د « حاجي محمد اکبر هوتکي » تر سرلیك لاندي څرګندوني سوي دي او دهغو په لړ کي زما یو نیم خبري هم رانقل سوي او نقد سوي دي . ښاغلی ګوهر صاحب د حاجي محمد اکبر هوتك په باب ټولي هغه خبري مني، چي ما او نورو افغاني لیکوالو په بېلابېلو وختونو کي کړي دي . یوازي دغه خبره نه مني ، چي پټه خزانه دي يې درلوده . دی وایي « ... زه حاجي محمد اکبر مرحوم بلا شبه دپښتو سره مینه لرونکی معتبر او مستند شخصیت ګڼم ... خبره دانه ده چي محمد اکبر هوتك په کوټه کښې نه وو، ادیب یاشاعر نه وو، علم دوست نه وو یا کتب خانه او قلمي نسخې يې نه درلودې. اعتراض صرف دادئ چې پټه خزانه يې نه درلوده . په هغه پوری داکتاب په ډېره هوښیاری او زيرکی سره اوتړلی شو .... »

زما ( م. هوتك ) د لیکني په برخه کي يې صرف دوې یادوني کړي دي او داسي ښکاري ، چي د نورو جوابونو په باب اعتراض نه لري . ځکه که يې درلودای ، هرو مرو يې کيښ . لومړی یادونه يې زما د هغو معلوماتو په هکله ده ، چي ما دخپل مرحوم پلار او دکورنی دنورو مشرانو له خولې د پټي خزانې د موجوديت په باب د هغې تر چاپ وراندي او وروسته اوریدلي وه ( پټه خزانه فی الحقیقت ـ ۹۰ مخ ) . دوهمه یادونه يې زما د هغه نظر تایید دیٔ ، چي ما د ادب د زړتابه د تقدس په باب ورکړی و . مالیکلي وه « ... ادب مورږ دخاور هغه کنډولی نه بولو چي د اصلیت او ارزښت اندازه يې له زړتابه څخه اټکل کیږي .... » ( هماغه اثر

ـ ۹۱ مخ ) . اوس د دغو دواړو یادونو په برخه کي خپل عرایض وړاندي کوم . دلومړی یادوني په برخه کي بیاهم داخبره تکراروم ، چي زموږ د کورنی له مشرانو څخه مي داخبره په کراتو اورېدلې ده ، چي پټه خزانه د حاجي محمد اکبر هوتك له کتابو څخه حبیبي مرحوم ته ورسېده . داخبره ما په « پوخ کاني » کي هم کړې ده او هورې مي کښلي دي « ... حاجي عبدالمجید هوتك ( دلیکونکي اکا ) دخپل ماما مرحوم حاجي احمدعلي هوتك له خولې لیکي ، چي دغه اوسنی پټه خزانه هماغه نسخه ده ، چي دحاجي محمداکبر هوتك په کتب خانه کي خوندي وه . داچي څه راز د اروانباد علامه عبدالعلی اخندزاده لاس ته ورسېده ، زموږ سره دقیق معلومات نسته .....» ( ۱ ) دغه حاجي احمد علي هوتك باید له احمدعلی اخونزاده هوتك سره مغالطه نسي . حاجي احمدعلي هوتك د حاجي محمد اکبر هوتك زوی و . ښاغلی سعید گوهر وایي « معصوم هوتك که له خپلو مشرانو څخه د اکبر هوتك په حوالې دپټې خزانې ذکر پخپله کورنی کښې اورېدلی وي نودانامممکنه خبره نه ده ، څکه چي دپټې خزانې داولني اشاعت هم اوس پنځوس کاله شوی دی.پنځوس کاله مخکښې داذکرهغه نه دی اورېدلی اونه په دې باب هغه څه داعتبار وړبیان دثبوت په ډول وړاندي کولی شي.( ۲ ) ښاغلي گوهر صاحب ته باید عرض کړم ، چي که تاسي « پوخ کانی » لوستی وای ، ښایي په قضاوت کي مو توپیر راغلی وای.

---

( ۱ ) هوتك ـ محمد معصوم ـ پوخ کانی ـ ۹۵ مخ ـ تورنټو ـ ۱۳۷۵ ش

( ۲ ) سعید گوهر ـ پټه خزانه فی الحقیقت ـ ۹۲ مخ ـ سکام ادبي اکېډیمي ـ ۱۹۹۶ ع

ما هورې د خپل اکا مرحوم حاجي عبدالمجید هوتك له خولې دا روایت کړی دئ او دده هغه څرګندوني مي بیان کړي دي ، چي له کندهاره یې ماته د۱۹۹۶ ع کال داپریل پر نهمه نېټه لیکلي وې .
حاجي صاحب زموږ دکورنی تر ټولو مشر سپین ږیری و ، چي د۲۰۰۴ ع کال داپریل پر اوومه دچارشنبې په ورځ دکراچي په ښار کي د نوي کالو اویوولسو ورځو په عمر وفات سو اوجنازه یې په داسباپه کندهارکي پخپله پلرنی هدیره کي خاوروته وسپارل سوه .
حاجي صاحب دخپلي کورنی داسلافو په پیروي د خطي نسخو یو ډېر قیمتي کلکسیون ټول کړی و ، چي د ثور په ناتارکي یې لــه لاسه ووت (ما په دې باب د « وفا » جریدې په څلوېښتمه ګڼه ــ ۱۳۷۳ ش کال یوه یادونه کړې ده ) .په ادب او تاریخ کي د پوره مطالعې څښتن اود پټې خزانې د اشاعت پر وخت یې عمر تقریبا څلوېښتو کالوته رسېدلی و. ده د حاجي محمد اکبر هوتك له زوی مرحوم عبدالطیف هوتك له خولې یې ماته روایتونه کښلي وو. دا روایات تر پنځوسو کالوو ړاندي روایات دي . تردغه زیات « د اعتبار وړ ثبوت » به بل څه وي ؟ زموږ په کورنی کي د ارواښاد حاجي محمداکبرهوتك بل زوی ارواښادحاجي احمدعلي هوتك هم خپل زوی عبدالحکیم امي ته دپټې خزانې د موجودي نسخې د سابقې په باب بیانونه کړي وو . ښاغلي عبدالحکیم دا نسخه خپل پلرنی میراث باله او له همدې امله یې د مرحوم داود خان په جمهوریت کي دوخت داطلاعاتووکلتور وزیردوکتور عبدالرحیم نوین ته عرض کړی و او د پټې خزانې د نسخې له بابته یې له ارواښاد

حبیبي څخه د نغدي مجرایي غوښتنه کړې وه . دوکتور عبدالرحیم نوین پر دغه عریضه باندي احکام هم ورکړي ووخو د عریضې جریان د هغه وخت د بیروکراسی له امله نن وسبا ته ځنډېدی . عبدالحکیم امي ته دوستانو مشوره ورکړه ، چي دغه موضوع نوره ونه شاربي . په کاناډا کي د « افغان رسالې » په نامه د افغاني جریدې چلونکي ښاغلي احمدشاه هوتکي ، چي د نوموړي عبدالحکیم خوریي کېږي ، راته وویل ، کله چي مي له خپل ماما عبدالحکیم څخه وروسته ددغي عریضې په باب پوښتنه وکړه ، هغه راته وویل « اوس حبیبي او کاکو ( مراد یې دحاجي محمد اکبر زوی عبدالطیف هوتك و. م . هـ ) دواړه مړه دي . د مړو خبري په مړو پسې ولاړې . نور به سرنه په گرزوو . » چي خبره سره راغونډه کړم ، زموږ دکورنی زیاتره مشران په دې عقیده وو او دي ، چي دا نسخه حبیبي مرحوم ته د میرزا عبدالودود هوتك پر لاس ورسېده . ښاغلي کاندید اکاډمیسن محمدانور نومیالي صاحب هم په « لېمه » مجله (۱) کي داخبره زما ( م . هوتك ) د دوو اکاگانو ( حاجي عبدالمجید هوتك او عبدالهادي ریشا ) له خولې کړې ده چي زماپرادعا گویاتایید بل مهرولگول سو.

د ښاغلي گوهر صاحب د دوهمي یادوني په باب ، چي وایي « ... خدای شته چي د پټې خزانې نورمتعرضین اوپخپله زه هم دغه نکته نظر لرم اوهم په دغه بنیاد موږ وایو چي ددې مصنوعي ارادي کوښښ هیڅ ضرورت نه وو. زموږ ادب چي فی الواقع له

---

(۱) وگورئ : لېمه ـ په مسکو کي خپرېدونکې مجله ـ ۱۱ گڼه ـ دریم کال ـ ۸ مخ

کومه خایه په استناد آغاز او ثابت دی ، هم هغه کافی او دډېرویاړ باعث دی ...»(١) باید عرض کړم ، چي ستاسي په باب خوبه داخبره درسره ومنم خو «د پټي خزانې دنورو معترضینو» په باب به یې «فی الواقع» منل گران وي. ځکه دغه حضرات دپښتو ژبي او پښتنو په باب ځانته مشخصه سیاسي ستراتژي لري او د پټي خزانې پرضد یې اعتراضونه د یوې علمي معضلې د سپينولو لپاره نه دي ، بلکي دااعتراضونه یې دخپلي هماغي مشخصي ستراتژۍ یوه برخه ده اوپه خواشینۍ سره باید ووایم ، چي ددغي ستراتژۍ بنیاد پر پښتون دښمنۍ او افغان دښمنۍ ولاړ دئ . د پښتو ژبي او ادب ځیني خواخوږي له بده مرغه په دغه ستراتژي یاسرنه خلاصوي او یاغوږونه کانه اچوي . مادغه ټکی پخپل کتاب« پوخ کاڼي »کي په یوه څه اجمال سره داسي بیان کړی دئ :« ... اوس چي زه په امریکا او غرب کي دپټي خزانې په باب کوم عکس العملونه وینم ( دتایید او تردید په دواړو شکلو نوکي ) ، منشاء یې زیاتره دهیواد په روان سیاسي کړکیچ کي موندل کېدای سي . علمي څېړنوته چي د سیاست میکروب ننووت ، باوروکړئ چي ډېري ناولي نتیجې ځني راوزي »(٢) .

ښاغلو لوستونکوته باید عرض کړم ، چي دالوړي څرگندوني دحاجي محمداکبر هوتك له نامه سره تړلي وې ، ځکه مي تاسي ته دلوستلوتکلیف درکړ . که دکتاب له موضوع سره یې ارتباط موزون درته ونه ایسېدی ، مابه وبخښئ .

---

(١) پټه خزانه فی الحقیقت ــ ٩٢ مخ

(٢) پوخ کاڼي ــ ١١٠ مخ

## عبداللطيف هوتك

عبداللطيف هوتك د حاجي محمداكبر زوی د ملاموسی لمسی اود محبت نيكه كړوسی دئ ، چي دكندهارښاردملاګلدادكوڅې د هوتكوپه كورنۍ كي د نامه او شهرت څښتن تېر سوی دئ . عبداللطيف هوتك ګرځنده سړی و . په ځواني كي يې د لوی هندوستان زياترو سيموته سفرونه كړي وو اوزياته موده په كوټه كي اوسېدلی و .دژوند په آخر كي په « وطن‌شركت » كي په كار مصروف و .عبداللطيف هوتك دسليقې وړادبي ذوق درلود .د پښتوژبي په زياترولهجوكي د پراخو معلوماتوڅښتن و او په پښتو ګرامركي يې ژوره مطالعه درلوده اوپه دې برخه كي يې يو كتاب هم كښلی دئ .داكتاب اصلا درسي كتاب دئ . په ۱۳۲۴ هـ ش كال پای ته رسېدلی دئ .درې نوي مخه لري او خطي نسخه يې د دوی له كورنۍ سره ده (۱) دغه راز يې د اوزانوپه باره كي يوه رساله كښلې اوپه هغې كي يې د وزنونودقيقه څېړنه كړې وه .(۲) په هندوستان كي يې د اوږدو سفرونو او استوګني له بركته دهند دنيمي وچي زياتره ژبي زده كړي وې .

كله چي په كندهار كي د علامه حبيبي مرحوم په مشري د طلوع‌افغان اخبار ټول په پښتو سو نوددغي جريدې له لاري د پښتو

(۱) هيوادمل ـ زلمی ـ فرهنګ ادبيات پښتو ـ ۲۴ مخ . په دغه ځای كي يوه خبره دسمېدلو ده اوهغه داچي وايي « ... نسخهٔ خطی آن ... دركتابخانهٔ احمد علی اخونزاده محفوظ است » دغه شخص احمدعلی اخونزاده نه و . بلكي حاجي احمدعلي هوتك و . چي دحاجي محمداكبر زوي كېدی. احمدعلي اخونزاده هوتك د ممو نيكه په كورنی كي متاخر سړی و .

(۲) د ميرزاعبدالودود هوتك په نامه رساله ـ دمحمدمعصوم هوتكَ ليكنه ـ ۸ مخ ـ ۱۳۷۷ ش

غورځنګ راپیل او پوله جدي اکاډمیکي هلي ځلي شروع سوې . د پښتو نوادرو لټون ته خلك وګومارل سول ، دکلاسیکو متونو خپرولو ته لاس واچول سو ، دپښتو ادب تاریخچه سرښته سوه او د املایي یووالي لپاره مقدماتي کارونه ترلاس لاندي ونیول سول .د دغه غورځنګ دپرمختابه په کار کي اروابناد عبدالطیف هوتك ښه پوره ونډه اخیستې وه . داخبار د دیارلسم کال له ۲۴ ګڼې څخه یوه لړۍ راپیل سوه ، چي « له پښتنوڅخه ادبي پوښتنه » یې سرلیك و . په دغه لړۍ کي د نادرو پښتولغتونو ( مالن ، دراوړ ، بالن ، ساوړ .... ) دمعناوو په باب پښتنوته دنظر څرګندولو بلنه ورکړه سوې وه .عبدالطیف هوتك ددغه بحث سرګرمه غړی لیکوال و، چي نظر ته یې د « صایب نظر» په سترګه کتل کېدله .( ۱ )

لکه چي د حاجي محمداکبرهوتك د معرفی په برخه کي مي اشاره وکړه ، دپټې خزانې یوازنی موندل سوې نسخه د اروابناد عبدالطیف هوتك له کتابتونه وتلې او د علامه حبیبي ګوتو ته رسېدلې وه . دغه کتابتون د حاجي محمداکبرهوتك له کتابو او د عبدالطیف هوتك په لاس له راغونډ سویوکتابوڅخه جوړ سوی و.

اروابناد عبدالطیف هوتك دادبي ذوق پر څنګ په لاسي صنایعو کي هم دمهارت څښتن و په تېره بیاپه ترکاڼي او آهنګري کي یې ښه لاس درلود. د ترکاڼی اسباب ( رنده ، اره او نور ) یې پخپل لاس جوړ کړي اوبیایې په ترکاڼي کي کار ځني اخیست . د ښکار سامانونه لکه د توپك د چرو ( سرچمو ) د تویولو ماشین

---

( ۱ ) ددغه ادبي هڅودتفصیل لپاره وګورئ : پوخ کاڼی ـ ۶۸ ـ ۷۸ مخونه .

يې پخپلـه اختـراع کړې و. وايي کلمه چې په سقوي دوره کې د کندهار ښار کلابند سو ، عبدالطيف هوتك پخپل کورکي د ژرندي يوه لاسي دستګاه جوړه اوپه کار يې واچوله . دکوځې دټولو کورونو غنم به په همدغه لاسي دستګاه اوړه کېدل . وايي ددغي دستګاه توليدي ظرفيت په ورځ کې پنځه اويا منه اوړه و.(۱) د طلوع‌افغان اخبار پر سر چې دوې توري او جوغه داره خول رسم سوی و، جستي ټاپه يې د مولوي صالح محمد هوتك په سپارښتنه نوموړي عبدالطيف هوتك جوړه کړې وه .

عبدالطيف هوتك په ۱۳۲۹ ش کال مړ سوی او پخپله پلرنۍ هديره کې ښخ دئ .يوه لوريې پاته اوهغه هم په نري رنځ ځوانيمرګه سوه.

*********

********

*******

******

*****

****

***

**

*

---

( ۱ ) دمرحوم حاجي عبدالمجيد هوتك يادانښت .د ژرندي دغه ځرخ ددوی په کورکي ساتل سوی او ما ( م. هوتك ) ليدلی و .

## مولوي صالح محمد هوتك كندهاري (۱)

د پښتو ژبي او معارفوستر خدمتګار او د پښتو د معاصر ادب امام ، مولوي صالح محمد هوتك كندهاري د فيض محمدهوتك زوی دحاجي محمد اكبرهوتك لمسی د ملا موسی كوسي او محبت نيكه كودی دئ (۲) . په ۱۳۰۷ ق كال دكندهار ښار د ملاګلداد په كوڅه كي زېږېدلی دئ .مور يې د علامه حبيب الله كاكړ (۱۲۱۳ ـ ۱۲۶۳ ق ) مشهور په فاضل كندهاري له درنې كورنۍ څخه د مولوي عبدالروف كاكړ (۱۲۶۷ ـ ۱۳۳۳ ق ) لور اودشهيد مولوي عبدالواسع (۱۳۰۸ ش شهيد ) خور كېږده . دمولوي صالح محمد هوتك روزنه دده د مورنې نيكه مولوي عبدالروف كاكړ پر لاس بشپړه سوه .د كابل د چوب فروشۍ په مدرسه (دحبيبيې مدرسه ) كي يې رسمي درس ولوسټ او ترفارغېدلو وروسته په همدغه مدرسه كي د پښتو ښوونكي په توګه مقرر سو . په دغه وخت كي پښتو ژبه د مدرسې په تعليمي نصاب كي شامله سوې وه . په ۱۳۳۵ ق كال د كابل د لومړنيو

---

(۱) د مولوي صالح محمد هوتك ژوند ليك له خپلي هغې سريزي څخه د لنډيز په توګه رااخلم . چي د « پاشلي ويناوي » لپاره مي كښلې او دمولوي صاحب ددغه اثر په سر كي چاپ سوې ده . دغه اثر زما (م. هوتك ) لخوا په ۱۳۶۹ ش كال په كراچۍ كي خپور سو . دخطاطۍ كار يې زما منځوي ورور محمد داود هوتك سرته رسولی دئ .

(۲) محبت خان او صحبت خان د كلات دسيوري دوه مشهور مخور وو . چي د لوی احمدشاه بابا په پاچهۍ كي د كندهار ښار ته له خپل قوم سره دَ ښار د ودانولو په كار كي د برخې اخيستلو په نيت راغوښتل سوي وو . دوی دښار او كلا په ودانولو كي ډېري خولې توېې كړې او لوی احمدشاه بابا ورته د كندهار د پوپلزو په كوڅه كي داستوګنې لپاره مځكه وركړه او كورېې پكښې ودان كړ . چي تر ننه لا ولاړ دئ . د پوپلزو دغه كوڅه وروسته دملاګلداد په نامه ونومول سوه .

ښوونځیو د نایب مرستیال سو.

دغازي امان الله خان دپاچهی په روښانه دوره کي کندهار ته د معارفو د لومړي مدیر په توګه راواستول سو اوپه دغه ښار کي یې د معارفو تاداو د لومړي ځل لپاره کېښېښود . له همدې امله د کندهار خلکو « د معارفو د پلار » لقب ورکړی و. مولوي صاحب په دغه وخت کي ډېره هڅه وکړه چي د کندهار داوسېدونکو پښتنو او پارسیوانانو ترمنځ یووالی او وروري ټینګه کړي.د پوهاند میرحسین شاه د محترم والد میرعبدالجواد اغا په سوانح کي لولو« ...اوبودکه به همراه مرحوم مولوی صالح محمدخان موسس طلوعافغان قندهار د دیگر رفقای شان برخلاف مفکوره متعصبین تهی خالی تهداب پخته ومتین اتفاق رادربین طبقات مختلف قندهار بنیان گذاشت بچه های مکاتب پښتوزبان و دری زبان و اهل هنود رادریك مکتب بزیر اثر و نظر مرحوم احمدجان اخندزاده خطیب جمع نمود ....» (۱) .مولوي صاحب د کندهار په ښارکي د مطبوعاتو لومړی خښته د طلوعافغان اخبار په تاسیسولو سره پخپل لاس کېښېښووله .ده په کندهار کي خپلي رسمي دندې تر سقوي دورې پوري وپاللې . په هیواد کي د سقوي نظام ترراتګ وروسته بیکاره سو او ورټل سو.دسقوي نهه میاشتنی توري دورې تر پای ته رسېدلو وروسته یې بیا هم په کندهار کي د معارفو د مشر په توګه وظیفه درلوده او په دغه ښار کي ذ پښتو ادبي انجمن له جوړېدلو سره سم ( پنجشنبه ۹ قوس ۱۳۱۱ ش )

---

(۱) دکندهارمشاهیر ـ ۲۸۸ مخ

ددغه انجمن سرگرمه غړی سو. مولوي صالح محمد هوتك ددغه انجمن دپرانستلو په غونډه کي وينا وکړه او دغه لاندي شعر يې حاضرينو ته ولووست ، چي وروسته بيا په زرين خط ديوې پاڼې په شکل پرحاضرينو وويشل سو. هغه پاڼه په دې ډول ترتيب سوې وه :

## پښتو ترانه

### په مناسبت دافتتاح دپښتوادبي انجمن

( دجناب مولوي صالح محمد خان مديرمعارف وينا )

نن راغـــــلی دئ دوران دپښتنو
خدايـــــه وکاږې ارمان دپښتنو
مبارك دي وي داڅنگه ښه ساعت دئ
غمخــــوري کا نادرخان دپښتنو
هم مهمند محمدگل خان حاضره ناست دئ
مــــرکه ده دعمــــران دپښتنو
پښتو ژبه ســـامباليږي انجمن دئ
هــــم حاضردي اديبان دپښتنو
دپښتوجنډه ســـوه پورته بری راغی
خدايـــه ! پراخ کاندې ميدان دپښتنو

۹ قوس ۱۳۱۱ش ( ۱ )

مولوي صاحب تر ۱۳۱۴ ش کال وروسته کابل ته وغوښتل سو او دپښتو ټولني د پښتو مبصر وټاکل سو ، چي پر څنگ يې په

---

( ۱ ) په پاشلي ويناوي ــ ۴ مخ کي دپښتوادبي انجمن دپرانيستلو نېټه د ۱۳۱۱ ش کال د جدي نهمه بلل سوې ده . چي دکاتب تېروتنه ده او بايد د قوس په نهمه تصحيح سي .

دارلتحریر شاهي کي يې دپښتو ښوونکي دنده هم درلوده .(۱)
مولوي صاحب په ۱۳۱۶ ش کال د زيري جريده تاسيس کړه او
يوکال وروسته حج ته ولاړ او تر راستنېدلو وروسته تقاعد او په
کندهار کي اوسېدی. په ۱۳۳۵ ش کال د شورا نهمي دورې ته د
کندهار دخلکو د استازي په توګه وټاکل سو او په همدغه دوره کي
د وکيلانو لخوا د ملي شورا لومړی معين مقرر سو . د شورا په
لسمه دوره کي بيا د کندهار د خلکو دوکيل په توګه مقرر سو ،
چي د مرګ تر وخته پر دغه دنده پاته سو ( ۱۳۳۹ ش ) . مولوي
صاحب د کندهار ښار په لويه هديره کي حضرتجي بابا ته نږدې
پخپله پلرنۍ هديره کي ښخ دئ . درې زامن او پنځه لوڼي يې پاته
دي . په زامنو کي يې بلال احمد بري لوړ تحصيلات کړي او په
ظاهر شاهي دوره کي يې دبهرنيو چارو په وزارت کي ډيپلوماتيک
وظايف درلودل . کشره لور يې مريم صالحي نومېږي او له خپلو
نورو ورونو ( نوراحمد او حاجي سيداحمد ) سره دامريکا په
متحده ايالاتو ( ويرجينيا ) کي اوسي . مريم صالحي هم لوړ
تحصيلات کړي دي او د شعر و ادب سليقه لري خو په منظمه توګه
يې پاللې نه ده . دمولوي صالح محمد مشره لور زما ( م .
هوتك ) مور ده .

مولوي صالح محمد هوتك پښتو ژبي ته ډېرستر کارونه کړي دي . چي دغه
لاندي آثار خني پاته سوي دي :

۱ ـ لومړی کتاب دپښتو، ۱۳۳۵ ق ، دلاهور دين محمدي مطبعه

---

(۱) په دارالتحرير شاهي کي د مولوي صاحب مرحوم زياتو هلو خلو کومه نتيجه ورنکړه او په شاهي
کورنۍ کي دده شاګردانو تريايه يوه کلمه پښتو پرخوله رانه وړه .

۲ ـ دوهم کتاب دپښتو
۳ ـ دریم کتاب دپښتو
۴ ـ خودآموزپښتو، دکندهار مطبعه ، ۱۳۱۳ ش (۱)
۵ ـ پښتو ژبه، لومړی ټوك ، پښتوټولنه ، ۱۳۱۶ ش
۶ ـ پښتو ژبه، دوهم ټوك ، پښتوټولنه ، ۱۳۱۷ ش
۷ ـ د پښتوژبي لپاره تدریسي کتاب
۸ ـ پښتو صرف اونحو، له اردوځخه ژباړل سوی.
۹ ـ د عزیزي تفسیر ترجمه په پښتوژبه ، قلمي نسخه .
۱۰ ـ اطاعت اولوالامر، په پښتوژبه ، د دارلسلطنهٔ کابل چاپ ۱۳۳۴ هـ ق
۱۱ ـ پښتومثنوي ،دپښتودانکشاف او تقویې ریاست ، ۱۳۵۰ ش
۱۲ ـ تذکره الشعرا، دمولوي صالح محمد اوسراج الدین سعید ګډ تالیف ـ دخېرندوی بختاني په زیار ـ ۱۳۶۶ ش
۱۳ ـ پاشلي ویناوی ـ د محمد معصوم هوتك په سریزه او زیار ـ ۱۳۶۹ ش

مولوي صاحب په پښتو شعر وایه او په سراج الاخبار افغانیه کي لومړی پښتو شعر هم دده د یٔ . بل شعریې « د بلبل ژړا » یا « په قفس کي بلبل » نومېږي . داشعر په فارسي ژبه عبدالهادي داوي ویلی و خو مولوي صاحب په دومره ظرافت ژباړلی دیٔ ، چي د ارواښادمحمد صدیق روهي ( ۱۳۷۵ ش مړ ) خبره «ځانګړی ادبي ارزښت لري »(۲) .

---

(۱) داکال په « پښتوادبیاتوتاریخ ـ معاصره دوره »کي سهوا ۱۳۱۴ راغلی دیٔ.
(۲) دپښتو ادبیاتوتاریخ ( معاصره دوره ) ـ ۶۰ مخ ـ ۱۹۹۹ ع

## د « بلبل ژړا » یا « په قفس کي بلبل »

یوسحر زما تـــــرغوږ سوه له بلبله
په قـــــفس کي یې ژړل دایې ویله
چي بندي سوم د صیاد له سختته دله
ولي نه پوښتي څوک حال زمایوله بله

ولي نسته بې فغانـــه کار و بار زما
ولي حبس ابدي راغی پـــــه وارزما

نـه محرم چي د زړه حال ورته بیان کم
نـــه مي وس چي خبرداره بلـبلان کم
نه مـــلګري چي چمن تـه یې روان کم
بیا بیان ورتـــــه دګـل ودریحان کم

خپل ډك زړه د ارمانـــو ورته خالي کم
ټول مرغان د چمنوپـــــه ځان حالي کم

چاته وژاړم پــــرچا باندي فریاد کم
چاته خاوري پرخپل سرباندي بادبادکم
چاته وګـــورم په څه شي زړګی ښادکم
د صیاد له لاسه چاتـه عرض و دادکم

څه راوسوه چي د تـــورقفس بندي سوم
نه خلاصیږم پــه دا بند کي ابدي سوم

ولي زه له خپله ســـــبله راجلاسوم
ولي زه لــــــه خپل وطنه راجدا سوم
ولي زه په ویراخته پـــــه واویلاسوم

کور وکلی مي سو پاته خوار تنهاسوم
کوم ظالم کړمه بندي خدای دې بندي کي
خدای دې ماغوندي اخته په جدایي کي

اوس به زه لکه ها نور په هوا تلمه
په هوس د آزادۍ به نازېدمه
پرغنچو به د گلانو مسېدمه
ورځ په ورځ به غورېدمه لوېېدمه
چابندي کړم خدایه تې په ځان اخته کې
په قفس کې د زندان جگرسوخته کې

اوس به گرځېدم آزاد په چمنوکي
الوتم به په صحرا او په باغوکي
مست به گرځېدم خوشحال په شگوفوکي
ولي اوس یم په غمو، په اندېښنوکي
چي بندي دي د قفس کړمه صیاده
خدای دي ماغوندي بندي که اې آزاده

الغرض چي ده وهلې دا نارې
د قفس له لاسه و په غلبلې
چي ناگاه د چمن باد راغی د کښې
چي پر ونښت دایې وواته له خولې
مگردا باد د چمن د خوا راغلی
چي زما صبر و آرام یې راځه وړی
********
په حسرت و په افسوس یې داویله

وګلشن تـــــه يې کتل بيايې ژړله
د قفس و دروازې تـــــه يې څغستله
لاريې نه وه وزرونې ســـــرپوله

په هـــــوا سو سريې ونښت له قفسه
ويني توی سوې سوړپوړولوېدله هوسه

سرتــــــرپايه په سرو وينوکي غرقاب و
ځان بايللی ، زړه زخمي ، حال يې خراب و
يابې هــــوښه يا پرهوښ ،په اضطراب و
چي پرهـــوښ به سو ، ګويانه په داباب و :

سرمي بايلوېه هــــواد آزادۍ
شکرشکرســـوم فدا د آزادۍ!

د مولوي صالح محمد دا شعر په سمبوليکه ژبه د آزادۍ ولولې بيانوي او زموږ د ادب د پياوړي استاد اروانباد روهي صاحب په وينا « ... په هغه کې يو مهم ملي آرمان په ښکلي عاطفي رنګ کې منعکس شوی دی . په دغه شعر کې تعقيد او زايد الفاظ نشته ، داصطلاحاتوله پلوه غني او ژبه يې طبيعي اوله محاورې سره سمه ده . په نوموړي شعر کې دتصوير بشپړتيا ، منطقي انسجام او حسن ختام ، دعواطفو تلطيف ، درمزيه ژبه داسارت اومريي توب پرضداعتراض اودطبيعت دښکلاانځور پرهمدغه شعر باندي د جاودانګی مهرلګوي .»( ۱ )

د مولوي صالح محمد هوتك آثارله عزبزي تفسير پرته نور ټول

( ۱ ) روهي ــ محمدصديق ــ دپښتو ادبياتو تاريخ ( معاصره دوره ) ــ ۶۷ مخ

چاپ سوي دي . زما سره يې يوه وروستۍ ليکنه ستنه ، چې د ۱۳۳۶ ش کال په عقرب کې يې په کابل کې کښلې ده او په هغې کې يې د وخت له حالاتو ، دخلکو له بېدينۍ او بې لارۍ څخه شکايت کړی دئ اوخلکو ته يې د قرآن او سنت دلاري ټينګولو سپارښتنه کړې ده . ددغې ليکنې سرليك ( مونږ څوك يو ، څه کوو، څه بايد وکړو ؟ ) دئ او پرسر يې دغه بيت ورته کښلی دئ :

مونږدڅه لپاره رب يـــــو پيداکړي
څه کوو څه موګفتارڅه موکرداردئ ؟

مولوي صالح محمد هوتك په نجومو کې پراخه مطالعه درلوده . ماددوی په کاغذو کې د « جنتري ابدي » يا « تقويم دورداېم » په نامه يوه جنتري وموندله ، چې پر هغې يې ليکلي و : مخترع صالح محمد . ددغې جنترۍ يوه دانه ما د مولوي صاحب په ژوند په کندهارکې ددوی په کور کې پر ديواله ځوړنده په ياد ده . دې جنترۍ څو غټې و کوچنۍ دايرې ګانې درلودې او د هغو په تاوولو سره چا کولای سوای په سلګونو کاله وړاندې او وروسته د قمري مياشتو او ورځو حساب ځان ته معلوم کړي . ددغې جنترۍ يوه کاپي د همدې ليکنې سره مل راوړم . درانه لوستونکي کولای سي له هغې څخه دځان لپاره ابدي جنتري جوړه کړي . دمولوي صالح محمد هوتك بحث د هغوی په يوه لنډ شعر سره پای ته رسوم . داشعر ماپه ۲۰۰۱ ع کال د خپلې مور له خولې ثبت کړ . بل ځای چاپ سوی نه دئ .

وکـــــوره مينه د پتنګ دعشق و زور ته
دايې امتحان دئ چې خـــان اچوي و اورته

وخت دازموبښت دئ ترشا مه درومه زلميه
درومه برى مومه چي ځان ورنکړې پېغورته
ټوله دي ستاورونه که پښتوکه پارسي وايي
ژرسه پښتو زده که کتاب وغـوړوه وروړته
شکرکړئ زلميو دوعاکـــړئ وظاهرشاه ته
نن د پښتو بڼغ دئ په وطن‌کي وهـــرلورته

*****

***



ACKU

( شکل وهیئت جنتری ابدی : )



- ۱ -

(طریق معلوم نمودن سنه)

قطعهٔ خورد که بر ۸ خانه تقسیم میباشد و در هر خانهٔ آن یکعدد هندسه از یک (۱) تا (۸) علی الترتیب نوشته شده (قطعهٔ سنوات) میباشد که هر سنه خواه گذشته باشد خواه آینده، با یکی از اعداد هشتگانهٔ آن برابر میباشد.
مثلاً امسال که سنه ۱۳۳۳ هجری قمری که سال اختراع این جنتری میباشد، برابر است با یک (۱) یعنی نمبر سنهٔ هذا یک میباشد. و سال آینده که سنه ۱۳۳۴ باشد نمبر سنه دو ۲ و سال دیگر که سنه ۱۳۳۵ باشد نمبر سنه ۳ میباشد. و بهمین قرار تا ابد الآباد علی الترتیب دور خورده برود.

و سنوات گذشته بالعکس آن میباشد، یعنی امسال که ۱۳۳۳ است نمبر سنه یک است. و سال گذشته که سنه ۱۳۳۲ بود نمبر سنه ۸ بود و پرار سال که ۱۳۳۱ بود نمبر سنه ۷ هفت بود علی هذا القیاس به ترتیب دور خورده برود.

- ۲ -


(طریق معلوم نمودن غرهٔ ماه)

غرهٔ هر ماهیکه مطلوب باشد اولاً قطعهٔ ماهها را دور داده همان ماه را از پردهٔ اول ظاهر سازد — باز پردهٔ دوم را دور داده روزهاییکه زیر همان ماه نمبروار نوشته شده ظاهر نماید. باز نمبر سنهٔ همان سال را در روزهاییکه زیر همان ماه نوشته شده ببیند که پهلوی کدام روز نوشته میباشد همان روز غرهٔ ماه مطلوب خواهد بود.

باز همان روز غره را در قطعهٔ ایام یافته زیر غره برابر نماید، تا جنتری یکماهه مکمل شود.

مثال: — امسال که سنه ۱۳۳۳ باشد نمبر سنه یک میباشد میخواهیم که غرهٔ ماه ربیع الثانی را معلوم نماییم، اولاً قطعهٔ ماهها را دور داده ماه مذکور را از پرده ظاهر ساختیم باز پردهٔ دوم را دور داده روزهاییکه زیر ماه ماد نوشته شده ظاهر نمودیم، باز دیدیم که که نمبر سنه یک است و پهلوی پنجشنبه نوشته شده — پس همین پنجشنبه غرهٔ ماه ربیع الثانی است. و با جنتریها نیز مطابق و برابر است.

«قطرهٔ ماهیها»


محرم
صفر
ربیع الاول
ربیع الثانی
جمادی الاول
ذیحجه
ذیقعده
شوال

# حاجي عبدالغني هوتك (۱)

حاجي عبدالغني هوتك مشهور په حاجي اکولالا دکندهار ښاردملاګلداد کوځې دهوتکوپه مشهوره کورنۍ کي د حاجي محمد عمر هوتك زوی دملاموسی لمسی اودمحبت خان کړوسی دئ . محبت خان دلوی احمدشاه بابا په وخت کي دکلات له سیوري څخه د باباپه غوښتنه دکندهارښارته رالېږدېدلی و. حاجي عبدالغني د کندهار له معمرو او مخورو سپین ږیرو څخه و ، چي په ۱۳۰۹ ش کال کي يې په لويه جرګه کي د کندهار ښار د مرکز د استازي په توګه برخه اخيستې وه .(۲) د زیږېدو کال يې غالبا ۱۲۴۵ ش دئ . مړینه يې په ۱۳۱۷ ش کي پېښه ده او پخپله پلرنۍ هدیره کي حضرتجي باباته نژدې ښخ دئ .

حاجي عبدالغني هوتك د وخت مروج علوم څه ناڅه لوستي وو خو پېشه يې سوداګري وه . د ژوند په وروستيو کلونو کي په سوداګرۍ کي تاواني سواو ګوښه نشيني يې اختیارکړه . زموږ دګران هېواد دهغه وخت زياتره سوداګر په تزاري روسيه کي د۱۹۱۷ع کال د بلشويکي انقلاب له راتګ او ورسره سم د روسي

ACKU

---

(۱) د حاجي عبدالغني هوتك او د هغه د زوی حاجي عبدالباقي هوتك په باب ماپه ۱۳۶۴هـ ش کال د زیري جریدې په دوو ګڼوکي (۲_۳ ګڼه او۴ ګڼه ) کي د « دوه شاعران . پلار او زوی » تر نامه لاندي يوه مفصله مقاله خپره کړې وه .په هغې کي مي ددوی د اشعارو دوې خطي مجموعې او دغه راز د دوی د ژوندحالات د لومړي خل لپاره پښتني ادبي نړۍ ته وروپېژندل . چي بیا وروسته په فرهنګ ادبیات پښتو کي هم ځای ورکړه سو . په دې حاضره لیکنه کي دهماغي مقالې انتخابي برخي رااخيستل سوي دي . حاجي عبدالغني هوتك د لیکونکي پلرنی نیکه دئ .

(۲) مهربان ـ عبدالله ـ تاریخ جرګه های ملی درافغانستان ـ ۱۱۷ مخ او ترديد شايعات باطله شاه مخلوع ـ ۶۴ ـ ۸۵ مخونه

بانك نوټونود ناچله کېدلو له امله سخت تاواني سوي وو . حاجي عبدالغني هوتك هم له دغو زيانمن سويو سوداګرو څخه و .

حاجي عبدالغني هوتك په پښتو ژبه شعر وايه اوشعري تخلص يې « زهير » ټاکلی و. د عمر په وروستيو کلونو کي خو يې بېله قلمه بل مونس هم نه درلود .

چي له لاسه مي پـوره نه سوه ښه ګټه
بيا په تش لاس منتظر د لوی کرم سوم
بل مونس راســـــره نسته غمشريکه
په تصميم دزړه ممنون دخپل قلم سوم

دده داشعارو يوه کوچنوټې مجموعه ، چي تنقيح سوې هم وه ، زما سره په کندهارکي وه . دغه راز دده تقريبا دوه سوه غزلي مي پخپل لاس تنقيح کړي اوله سره ليکلي وې ، چي دې دواړوته مي اوس مي لاس نه رسېږي .خودده دناتنقيح سويواشعارو خوړا درنه برخه دلته په کاناډا کي راسره سته، چي داصلاح و تنقيح وخت ورته نلرم .په اشعاروکي يې د رديفونو له تنوع او زياتوالي څخه داسي ښکاري،چي دی دديوان جوړولو په فکرکي و.يو ځای وايي :

جوړوم به د ســـــــاده شعر دفتر
ګوندي پاته سي له مـــــــانه يواثر
پردنيا خـــو دعبرت لوحې دي ډېري
ماهــــم لوحه دعبرت کړه برابر( ١ )

---

( ١ ) زما په ګومان دلته د سراج الاخبارافغانيه « لوحهٔ عبرت » ته اشاره ده . د « لوحه » په کلمه کي دلته دشعري اړتياله مخي فشارپرلومړی څپه راغلی دی .

خدای ته لوی امیدزماپه دغه شان دئ
چي مي دا دفتر سي معتبر
بلکي زره دیو مومن په موثرسي
یايې ښاد زما په ویلو سي خاطر
خیرالناس هغه کسان دي چي يې نفعه
ورسیږي و انسان ته یو قدر
دولتمند که دنیا وپاشي لري يې
زه پاشمه ښې خبري لکه زر

دکلام نوري بېلگې يې :

چي پرخپله ونده اچوې کودې
داعمل دي دئ زده کړی له تېشې
رنده هم ښه برابر حرکت نه که
چي مدام وبل ته غورخوي تراشې
مرتبه دعدالت وسطه بویه
په معاش کي سبق اخله له ارې
کله ځان ته نفعه کش کي کله بل ته
غورځوه پردوه طرفه برادې ( ۱ )
دا اصول د معیشت و تمدن دئ
ټینگ يې نیسه دغه سر دکلاوې

---

( ۱ ) داشعر زه دپارسي د یو شعرترجمه برلم :
تعلیم ز اره گیردرکسب معاش
چیزی بسوی خودکش وچیزی بپاش

که هستي دي په لکودسیم و زر وي
خوبه یوکفن له خـــانه سره وړي
پر زهیرو زړو کرم کــړه بخل مه کړه
داعمل به دي په ښـــه درسي هوړي
*****
لابه څو هوا هـــــوس کړم دشباب
قدمي چنګ سوله پیری لکه ربـــاب
الوداع درڅه کوي عـــــمر تیرېږي
ته بناوي جوړوې پـــــر روی د آب
سپین وېښته دي په ســـرو شاهددمرګ دئ
در په یاد که « حاسبواقبل الحساب »
صناعت و تجارت دي دئ پـــاس کړی
هیڅ ددین له علمه نه کـړې اکتساب
داورقه دي چـــــپه مخ ته نیولې
بې ګودره یې ګډ سوی پـــه دریاب
ضروري اشغال دي پـــرېښوده معطله
ځان دي اړ کئ پـــه مشکله اسطرلاب
زه زهیرخطاب وځان ته کړم بل څه کړم
دهرچا سره خپل سوال سي خپل جواب
***
**
*

# حاجي عبدالباقي هوتك

د حاجي عبدالغني هوتك مشهور په اکولالامشر زوی ،چي په ۱۳۰۸ هـ ق کال د کندهارښاردملاګلدادپه کوڅه کي زیږېدلی و. په ځواني کي يې د هرات سوداګري کوله خو وروسته يې له دنیا لاس واخیست . دده خوجې د عمرجان صاحبزاده ( ۱ ) مخلص او ارادتمند و. حاجي عبدالباقي په مروجو علوموکي د پوره صلاحیت څښتن و. د خروټي عبدالصمد اخونزاده په شان يې د کندهار لوی علما، او روحانیون مجلسیان وو. وايي ، چي مجلس يې خوږ او عالمانه و . په خبرو کي به يې د پخوانیو شاعرانو زیات بیتونه د خپلي پیاوړي حافظې په مرسته د استناد لپاره راوړل . په خبرو کي به يې کله کله د اورمزاجي نخښي لیدل کېدلې . په ۱۳۳۳ ش کال د روژې پر اووه ویشتمه مړ سوی او پخپله پلرنۍ هدیره کي ښخ دئ . وايي ، د مړیني خبر يې دده دوست مرحوم عبدالصمداخونزاده ته په داسي وخت کي ورسېد ، چي هغه مرحوم پخپله جامع کي خلکو ته وعظ و نصیحت ( چي کندهاریان يې دور بولي ) کاوه . راوي وايي ، چي اخونزاده کتاب ټول کړ او اورېدونکو ته يې داسي وویل « مايه ژوند کي درې ملګري درلودل . يو قرآن ، بله توره او بل هم حاجي عبدالباقي . حاجي مرحوم خوبه مړینه راڅخه بېل سو ، له دانورو دوو مي دي خدای لاس نه

---

( ۱ ) عمرجان صاحبزاده کیشانی د محمد یار صاحبزاده آتش نفس زوی و. چي د کلات ( زابل ) په غوندانو کي زیږېدلی او په مدینه منوره کي د موټر په ټکر مړ سوی دئ . مرثیه يې زما دمعلوماتو له مخي پر مولوي صالح محمد هوتک او څینو محلي شاعرانو سربېره حاجي عبدالباقي هوتک يې هم ویلې ده .

کاږي » وروسته يې و حاجي عبدالباقي ته په ګډه د مغفرت دوعا وکړه . له دې څخه درانه لوستونکي د هماغه وخت دعلماوو په نزد دحاجي عبدالباقي هوتك قدر و منزلت اټکلولای سي .

حاجي عبدالباقي هوتك په پښتو او دري ژبو شاعري کړېده .پر دواړو ژبو يې پوره تسلط درلود . داشعارو پياوړتيا يې په شعر و ادب کي دده د ژوري مطالعې نخښه ده . شعري ژبه يې روانه او خوږه ده داشعارو مذهبي اړخ يې درونددئ خو پرڅنګ يې عشقي غزلي هم ويلي دي . په پښتو شعر کي يې تخلص « ملګری او تبسم » کاوه او دپارسي شعر تخلص يې « تهيدست » و . د پښتو اشعارو مجموعه يې« خوږه وينا » نوميږي ، چي پخوازماسره خوندي وه او اوس په کندهارکي زموږ په کورني کي ساتله کېږي. دلته به دده دوه شعره د کلام دنمونې په توګه رانقل کړم .

| | |
|---|---|
| نه کلا لـــــرم نه کلی | نه مي څوك پـــــرمخ وهلی |
| نه قاضي نـــه محتسب يم | نه دربار تــــــه ورغلی |
| سوداګرنه يـــــم د پشم | نه مي پاو پــــه منه تللی |
| نه جوازد انحصار کـــړم | هيچا حر نــــه دئ تړلی |
| چي حرام بـــه حلال بولي | نســــــته بل تردې نتلی |
| له کتابه کـــړي بحثونه | وي د بل وحــــق ته غلی |

خدا« ملګری » مفسد مه کړې
مــه يې کــړې د بدی څلی

*******

***

په فراق کې د دلبر مي وېښته سپين سو
هم د غم پټى مي بيا پـر زړګي شين سو
کم قسمته تورطالع ترما بل کم (۱) دئ
ګرداګرد راتـــه چاپېرد بېلتون سين سو
معلم د فلك درس د هجـــــرلوستى
که وماته په دې شان پـــه قهر وکين سو
د وصال نوبت يې څرکنده (۲) شغله ده
تورلېمه مي د فراق په اوښکو سپين سو
د وطن شګي روښـــــانه ملغلري
د لاله په شان مي زړه ورپسې خوږين سو
په دلبر پسي نارې وهـــــم ژړا کړم
زه «ملګرى» دا مي خوى دامي آيين سو

دحاجي عبدالباقي درې زامن پاته سوه اوپه هغوکي يې منځوى زوى ملاعبدالسلام زمااستاد دئ اودفقه مبادي اوپارسيات مي څني لوستي دي.اوس په کندهارکي اوسي اودمولاناى رومي دمثنوي شريف تدريس کوي.

****

***

**

*

---

(۱) کم (دلومړي په زوره کي) = کوم

(۲) د لومړي توري په سکون . ځلېدونکې . روښانه

# میرزاعبدالودو هوتک

میرزا عبدالودو هوتک د حاجي عبدالغني هوتك زوی ، دحاجي محمد عمر لمسی دملاموسی کړوسی او دمحبت نیکه کوسی و، چي د ۱۳۳۱ هـ ق کال ددوهمي خورپرنونسمه دچارشنبې په شپه دکندهاربنارد کابل بازاردملاګلدادپه کوڅه کي زیږېدلی اود ۱۳۶۶ هـ ق = ۱۳۲۶ ش کال دجمادی الاول پراووه ویشتمه دسه شنبې په ورځ مړ سوی اودملاګلدادکوڅې دهوتکوپه پلرنۍ هدیره کي ښخ دئ .په اماني دوره کي یې درشدیې تر دریم ټولګي پوري درس ولووست،چي ددرس د بشپړېدلوکال یې دامان الله خان د پاچهۍ له وروستیو ورځو سره برابر و. تردغي نېټې وروسته نورپه هیواد کي دپوهني کمبله ټوله اوسقوي دوره پیل سوې ده .میرزاعبدالودود پر پښتواودري ژبو سربېره انګرېزي، اردو او عربي ژبي هم زده وې اودترجمې صلاحیت یې پکښې درلود .رسمي کار یې د طلوع‌افغان په اداره کي پیل کړاو دمړیني تروخته پرهمدغه وظیفه پاته و.

میرزاعبدالودودهوتك څوبعدي شخصیت و. پوخ لیکوال و، محقق و، خطاط و، ژورنالیست و، انځورګر و اوددې ټولو پرځنګ بیا فلسفي و متصوف سړی هم و.دطلوع‌افغان په اداره کي یې رسمي دنده د جریدې خطاطي، رسامي او دتصحیح چاري وې او پخپل ښکلي خط یې دخوشحال ختك مرغلري ، دعبدالقـــــادرخان ختك دیـــــوان ، ملي پسرلی او نور کښلي دي ( ۱ ) . خو پرځنګ یې

---

( ۱ ) دغه خبره ما دپوهاند رشاد له خولې پخپل مونوګراف « میرزا عبدالودود هوتك » کي کښلې ده . ښاغلي همېش خلیل دخوشحال ختك مرغلري د سیدحسین لیك بولي .( تول پارسنګ ـ وړومبی برخه ـ ۲۶ مخ )

قلمي همکار هم و. د « ع . ل » په مستعارنامه یې ښې ډېري مقالې په اخبارکي چاپ سوي دي.

میرزاعبدالودود هوتك دتصوف په لارکي ډېري خوارى کښلې وې او اویسي طریقې‌ته منسوب و. په دې‌طریقه کي سالك بې‌له مرشده دتصوف بېلابېل پړاوونه وهي.دغه طریقه حضرت اویس قرني (رح) ته منسوبه ده .

دلته به داروابښاد میرزا عبدالودود هوتك هغه لیکني رانقل کړو ، چې د « حقیقت » ترسرلیك لاندي دطلوع‌افغان ورځپاڼې د ۱۳۲۴ ش کال په ګڼوکي په پرله پسې توګه د «ع ، ل » په مستعار نامه چاپ سوي دي (۱) .

## حقیقت

حقیقت له ابتداڅخه تراوسه پوري دعامو خاصوپه اذهانو کښې ځاى موندلى اوداکلمه دهرچاغوږوته رسېدلې ده .

په لیکنو او خبروکښې داکلمه ډېره په مخه راځي . مثلا یوځاى لولو چي « دایوحقیقت دئ چي هیڅوك انکارنشي ځني کولاى » یامثلا « پلانى عالم دپلاني لوى حقیقت په لڅولو کښې موفق شو » په پښتو کښې یو متل دئ چي « سل کاله عبادت یوه خبره دحقیقت » . غیرله دې دفلسفې اساس او بنا دحقایقو پردرك اوپېژند ګلوى باندي اېښو شوې ده اوپه ادبیاتو کښې هم په هره زمانه کښې دحقیقت غوښتني دخـالـت لـرلـى او ادبـاهـرکـلـه دحـقـیـقـت

---

(۱) ددغې لیکنې او یوې بلې نیمګړي لیکني « علم په آینده کښې » کاپی ښاغلي حمدالله صحاف کاناډا ته رالیږلې .دزړه له کومې منته ورڅخه کوم .کله چي ما د « میرزا عبدالودود هوتك» په نامه وروکې رساله لیکله او خپروله مې . دغه لیکني مې په واك کي نه وې . که یو وخت ددغې رسالې ددوهم چاپ اړتیا منځ ته راغله . باید دغه دوې لیکني هم پر وروزیاتي سي (م . هوتك ).

په پلټلو کي لګیا اودهغه دموندلو تږي دي . اماتراوسه هیڅوك له دوی څخه پخپل مقصد کښي نه دي کامیاب شوي بلکه په لوی سرکښي دبدیعي مکتبو دټولو ادبي مسلکو مرام لکه رومانتیزم او کلاسیزم او نورو دحقیقت طرفداري کول دي .

حتی په ۱۹ ع پیړی کښي یوه ډله ادبا او لیکوال لومړی په فرانس او وروسته دیورپ په نورو ځایو کښي منځ ته راغلل چي هغوی ته یي ریالیسټ یعني حقیقیون ویل او ددوی مسلك یي ریالیزم باله ، ددي ډلي اصلي غایه او مقصد دحقایقو لڅول و ، خو د ( چون نه دیدند حقیقت ره افسانه زدند ) په فحوا سره دنورومسلکو خاوندان پردوی راپورته شول اودغه قوي او دقیق مسلك یي له منځه بیرته کړئ . الغرض حقیقت په هرشي کښي جلوه لري او له دي جهته په هروخت په انسانانوکښي دحقیقت غوښتلوطلب پروت دئ . دنړی دپوهانوجدال اودفلاسفه وو قیل وقال دعواموترڅیرنو پوري دحقیقت په لار کښي خورا ډیر دئ .

حقیقت څه دئ او آیاحقیقت ته رسیدلای شو ؟

ددي پوښتنو دجواب دپاره ښایي ویوهیږو چي دهرشي ذات دهغه شي حقیقت دئ او څکه چي دیو شي ذات ته رسیدنه امکان نه لري نودهغه حقیقت ته ور رسیدل هم محال دئ په دي دلیل چي انسان هرشی دهغه دخواصو او صفاتو له لاري پیژني ، نه د ذات له مخي . یاپه بل عبارت دانسان حواس اودعقل و شعور آلات دده اودنوروشیانوترمنځ چي خارج له ده څخه دي ، صرف وسایط او وسایل دي . ددغو په مرسته دی تش دشیانو په نسبت علم اویقین

حاصلوي او بس . هوکې ، دشي دصفاتو په نسبت علم اودحقيقت دمقام په نسبت علم اويقين يې سره بېل دي . مثلا دڅراغ لمبه د هـــغه د رڼا په ذريعه پېژنو او له رڼا څخه يې استفاده مومو ، امادشعلې و ذات ته رسېدلای نشو ولي هرکله چې زموږلاس وشعلې ته ورسېږي ياپه بل عبارت دشعلې د ذات ( حقيقت ) په دائره کښې داخل شي ، سوځي او دا سوځول هم دشعلې د ذات صفت دیٔ نه عين ذات .

نوترټولوآخري کشف چې موږ ته دڅراغ دلمبې په نسبت راحاصل شوی دادیٔ ، چې څراغ لاس سوځي نورنوتردې زيات وړاندي نه يوتللي . دمخه چې مونږ وازي دڅراغ دروڼا ( صفت ) په خصوص کښې علم درلود او ډول ډول استفادې موکولې ، وېل مو چې څراغ نه سوځوي . اوس چې مونږ په مشاهده او يقين سره دهغه دسوځولو په باب کښې علم حاصل کړیٔ ، معلومه ده چې سابق نظريات موغلط راوتلي او نوی علم مونسبتا وحقيقت ته ورڅرمه دیٔ .

نوځرنګه چې دمخه ووېل شوه حقيقت په لوی سرکښې دشيانوله ذات څخه عبارت دیٔ چې موږتش دخپل علم او يقين په قدر د هغه له مقام څخه ترجماني کولای شو ، نه داچې په عين حقيقت ( ذات ) ورګډېدلای او رسېدلای شو ( ١ ) . دحقيقت

---

( ١ ) کېدلای شي چې ځيني اشيا لکه اوبه او نور... دبعضو عملياتوپه واسطه تجزيه اوځو مختلف عناصرځني راوايستل شي . په دې ډول زموږدمخنی وېنا چې دشيانو و ذات ته رسېدل امکان نه لري . ظاهرا غلطه ثابت کېږي . ځکه دلته اوږد او بېل بحث دیٔ نوښايي چې سمدلاسه دپوروتني مطلب دفهم دپاره داشياوو له ذات څخه مراد هغه عناصر واخيستل شي چې دوی ځني ترکيب موندلی دیٔ . داهم علاوه کېږي چې دڅراغ او نورمثال په معنی دلته توکه راوړل شي.

مثال لکه هغه شی دئ چي په خارج کښي موجود او دلمس او امتساس قابل نه دئ او انسان هرڅومري چي زیاروکاږي دخپل علم تردائرې چي دده په دننه وجودکښي دئ دباندي نشي وتلای .

په دې ځای کښي دا پوښتنه منځ ته رالویږي چي آیادانسان علم دحقیقت موندلو دپاره ترټولو آخري او کافي وسیله نه ده ؟ که نه ده نو ولي انسان ته ترعلم پورته بله ذریعه نه ده ورکړه شوې ؟ او که علم آخري واسطه ده نودغه علم دحقیقت په لارکښي معتبردئ .

په دې معنی دهرشي په باب کښي چي دبشرعلم حاصل شو ګواکي دهغه شي وحقیقت ته ور ورسېدئ . ددې پوښتني جواب دادئ ، چي هرشی دخپل اصل ( یاذات اوحقیقت ) په مرتبه کښي دخپلو ټولو صفاتو او اعراضو جامع دئ . علم یوه مرتبه راکښته ، دشي دجامعیت دمقام اودهغه دعدم دمقام ترمنځ یوفاصل او وسط حد دئ . دعلم په خانه کښي دشي دجامعیت د مقام مشمولات تفصیل او تمایز پیداکړي یو یو له دغو مشمولاتو څخه راښووي .

په لوی سرکښي لکه دبشر هره ظاهري او معنوي قوا چي دعلم آلات دي ــ تر یوه شي یوه حال زیات نشي راښوولای . علم هم تریوه زیات نه رامعلوموي . مثلا دباصرې حاسه د وني هري پاڼي ته چي متوجه کړه شي ، هماغه پاڼه راویني . ټولي پاڼي یې په یوه پلا او فرداً فرداً نه راویني . نو معلومه شوه چي د وني دپاڼو دجامعیت مقام دباصرې ترمقام پورته دئ او ددې دپاره چي دغه دجامعیت مقام یې ولیدل شي ، داډول دباصرې قوه په کارده چي ټولي پاڼي یې جلا جلا اوپه یوه وخت کښي راوویني . دغــه ډول

اوبه دخپل جامعیت په مرتبه کښې رنګ ، بوی ، ذایقه ، نری توب او مخ پرکښته دجریان طبع لري . امادغسي یوه قوه یاحاسه انسان نه لري چي د اوبودجامعیت مرتبه دي په یوه واردرك او حس کړي ، بلکي رنګ یې د باصرې په مرسته ، بوی یې دشامې په واسطه ، ذایقه یې دژبې په کومك ، نری توب یې په لامسه او جریان یې په سترګو پېژني . په دې ډول د اوبو دجامعیت مشمولات دحواسو په ذریعه چي دعلم آلات دي ، حس کړای شوي ، دعلم په خانه کښې تفصیل اویوله بله تمایز پیداکوي .

د حقیقت اقسام : ځومري چي اشیا دي ، هغومري حقایق دي اوپه هره اندازه چي دشیانو صفات او اعراض دي ، په هغه قدر دعلم په مرسته له هغوځخه تعبیرکېدلای شي . که عالم پخپله د انسان له خواخلق شوی وای نودهغه حقایقوپه باب کښې به انسان ښه تراعلم درلودای . خوټول پوهېږو چي داسي نه ده او دعالم موجودات او هم انسان پخپله خودي سره نه دئ پیدا شوی بلکي ټول کاینات دننه په انسان کښې دي اوکه ترهغه دباندي له بلي خوا خلق شوي دي دبشر وجود یوه معنوي ذیروحه دعکاسی کمره ده چي د ظاهري حواسو او عاقله قواوو په وسایلو سره مجهز او نهایت حساس او اثرقبلوونکې ده . داحقیقي آله سمدلاسه په کار کښې لوېدلې دافکارو ، خیالاتو او احساساتو له لاري ذهني تصاویر په حافظه کښې راټولوي چي همدغه ذخیره په نتیجه کښې د بشر علم تشکیلوي .دبشر علم هیځکله واردواره بشپړ نه وي بلکي ورو ورو دتکمیل درجې ته رسېږي . هــرشی په ابتداکښې

دبشریه نزد مجهول دئ په هره اندازه چي دده حواسو او د عقل و شعورآلاتو کارکړی ، هغومري گواکي هر يوله دغو قواوو څخه دخپل استعداد سره سم يوحقيقت کشف کړی دئ . علم چي اوسني انسانان يي دموجوداتو په باب کښي لري دپېړيو حاصل دئ چي له درو لارو څخه يي موندلی دئ او هغه درې لاري له حواس ، عقل او دين څخه عبارت دي . هريو له دغو درو لارو څخه بيابېر دوو برخو ويشل کيږي ـ ظاهري اوباطني .مثلا ظاهري حواس چي دجسم سره تعلق لري او باطني حواس د روح سره اړه لري .څرنگه چي دلته ذايقه ورته وايي ، هلته يي ذوق بولي . دغه ډول باطني عقل د فلاسفه وو او د نړی دعقلي نبوغ دڅښتنانو وي . همدغسي دين هم ظاهري اوباطني خواوي لري .په دې صورت نوحقايق هم درې ډوله دي . يوډول حقايق دي چي دحواسو ( ظاهري اوباطني ) له لاري کشف شوي دي او کيږي . دوهم عقلي حقايق دي او دريم ديني حقايق . هريو له دغو حقايقو څخه لکه څنگه چي څرگنده شوه له آخري کشفو څخه عبارت دي چي دموجوداتو داشياوو د صفاتو او خواصو په باب کښي شوي دي اوکيږي . بشردټولو موجوداتو د حقايقو د کشف دپاره همدغه ذکرشوي طريقې لري . په دې ځای کښي يوه تکته ده او هغه داده چي : هريو له ذکرشوي حواس ، عقل او دين څخه دخپل صحت او اعتدال په حالت کښي ، د شي صحيح حقيقت ( چي دهغه شي له خواصو او صفاتو څخه عبارت دئ د ذات تر لوموړي سرحد پوري ) دکشف او تعبيرله لاري راښووي . اما که يي صحت او اعتدال ترخپل حد تېرشي او

یا نوموړی شی خپل شکل واړوي ، هغه وخت نو اصلي تعبیر هم پټیږي او د هغه پرځای بل تعبیر چي د لومړي تعبیر سره متفاوت دئ ، راڅرګندیږي . په داسي صورت کښي هغه لـــومړنی صحیح څرګندتیا یې غلطه او د مجاز یا اکثراوقات د فساد په نوم یادول کیږي . دمثال په ډول باصره د صحت په حالت کښي د انار میوه چي هغه هم روغوالی ولري ، سور راښووي او ذایقه دهغه خوند خوږ یا تریو رامعلوموي . اما که سترګي احولي شي یابل نقص وریښی شي یا انار متفسخ شي هغه وخت نو دانار اصلي شکل هم تغیر کړی دهغه پرځای دوه اناره یا بیخونده اناران پېژندل کیږي . معلومه ده چي په داسي صورت کښي دذکرشوي میوې صحیح حقیقت له سور او خوندور انار څخه مراد دئ او دوهم شکل ته یې مجازي یا فاسد انار باید وویل شي .

په لوی سرکښي لکه په کیمیا کښي چي قاعده ده چي دڅو مختلفوعناصرو یامختلفو مرکباتو له ترکیب څخه یو دریم شی چي د لومړنیو شیانو سره کوروټ اختلاف لري پـه لاس راځي ، همدغسي عینا دغه قاعده په ټولو مواقعو کښي نفوذ لري . مثلا دڅو مختلفو حسي حقایقو له اجتماع څخه دریم حسي حقیقت چي د خپلو اصلیو حقیقتو سره کوټ اختلاف لري ، مینده کیږي . دغه ډول دڅو مختلفو عقلي حقیقتو له یوځای کېدو څخه نور مختلف عقلي او دیني حقایق منځ ته راځي او همدغسي تسلسل پیدا کوي چي دابحث نود حقیقت او مجاز په بحث پوري اړه لري .

حقیقت او مجاز : مجاز د حقیقت دوهم شکل یا د هغه عکس

دئ چي دبشر علم ته تر حقیقت یوه مرتبه ورنژدې دئ . یاپه واضح ډول څه چي غیرله حقیقت څخه دئ ( اعم له حسي ، عقلي او دیني حقیقتو څخه ) دمجاز په دائره کښې داخل دي . دحقیقت له اوصافو څخه چي وروسته بې بیان هم وشي ، یو دادئ چي حقیقت لایتغیردئ . ددغه تعریف له مخي د اجسامو حقایق ( چي د حسي حقیقتوپه جمله کښې راځي ) له عناصرڅخه عبارت دئ او نورټول جسمي مرکبات چي دځو عناصرو له مخلوط کېدلو څخه په وجود راغلي دي دغیرحقیقت یعني مجاز په دائره کښې شامل دي . دغه ډول عقلي او دیني حقایق هم له هغو لومړنیو عقلي اصولو او دیني عقایدو څخه عبارت دي چي ټول معقولات او دینیات پربناشوي دي . په دې ځای کښې دې مهمي نکتې ته هم توجه بایده ده چي غیرحقیقي شیان تر معیني اندازې پوري چي په دردخوري دقدرت له خوا انتخاب او خلق شوي دي . دمثال په ډول اوبه د طبیعي مجازي اجسامو په جمله کښې راځي ولي چي حقیقت یې آکسیجن او هیډروجن دوه عنصره دي چي لایتغیردي . دغه ډول دیني معاملات چي نسبت و دیني معتقداتواو اصولو ته د مجازپه دائره کښې راځي دڅښتن له خوا معین شوي دي . همدغسي ترمسلمو عقلي اصولو او متودو لاندي حکمت او عقلي علوم منځ ته راغلي دي . په پورتنیو درو مثالو کښې څه چي حقایق ګڼلی شي او کوم چي غیرحقایق یا مجازبلل کېږي ، تریوې اندازې پوري واضح او څرګند شوي ، اضافه تردې و دغو شیانو ته نور ترکیب ورکول او مخلوط کول غیرقدرتي او د انسان له بدعتو

څخه ګنل کیږي . لکه چي د دوو عناصرو له اختلاط څخه زهرناکه جسم رااېستل دانسان ابداع ده .
حقیقت الحقیقت : په اصل کښې د حقیقت له بحث څخه لويه غايه او هدف حقیقت الحقیقت دئ چي هلته بېله علمي بېحاصلی نورڅه دانسان په لاس نه ورځي . ټول دساينس پوهان په راوروسته کښې پردې متفق دي چي د جسم حقیقت دعناصرو او مرکباتو دواړو په هاخوا دئ او له الکتريکي ذراتو ( الکترون ) څخه عبارت دئ چي دحس تر مرتبې پروته دئ او په عين زمان کښې د زيات قوت لرونکی دئ . عقل خوله ابتدا څخه ټول کارونه و نامعلوم طبيعت ته منسوب کړي اوطبيعت حقیقت الحقیقت بولي . دين حقیقت الحقیقت دڅښتن تعالی ( ج ) له ذات څخه عبارت بولي چي دهرډول کمالاتو مبداء دئ او علم دهغه د ذات کنه ته نشي رسېدلای او فقط د ( هست ) پـــه کلمه سره يې تعبيرکوي ( غيرازين پی نه برده اند که هست ) بلکي هرڅومري چي هغه ذات بېچون او بيچګون مشاهد شي هغومره يې کمال بولي .
د حقیقت اوصاف : حقیقت لايتغير دئ . حقیقت غالب او څرګند دئ . حقیقت ترځان رانژدې دئ . دحقیقت په مقام کښې زمان ، مکان ، ګټه ، تاوان ، زه او ته او نورهيڅ ډول شخصي او محلي ملاحظات نه ځايیږي بلکي په هغه مقام کښې مطلق حقیقت دئ . چي ددې شيانو فهم ګران نه دئ .
څومري حقایق کشف شوي دي ؟
ددې پوښتني په جـــــــــواب کښې بايدو وويل شي چي ډېرو لږو

انسانانو د حقیقت طلب کړی دئ په تېره بیا د اوسنیو انسانانو زیارخوله یوه مخه دعالم مادي دحقایقودکشف په لارکښې صرف شوی او په هغه کښې هم اصلي هدف دا نه دئ چي حقیقت د مطلق حقیقت دپاره لټ کړي . ( انتها )

*****

## احمدعلي اخوندزاده

دکندهاریو معمر سوداګر او زمیندار اوپرښتګ یې دمطالعې خاوند اوډذوق څښتن و . داحمدشاهي ښارپه ښکارپردروازه کي يې کوراو جامع ودانه کړې وه . ډېره پراخه کورنی يې ده .نوموړي څان دپټې خزانې دمولف محمدهوتك ( ممونیکه ) له اخلافوڅخه باله اوخپله نسبي شجره یې تر محمدهوتکه پوري داسي رسوله :
«احمدعلي اخونزاده هوتکي ولدمغفورملاعبدالعلي اخونزاده ولدغفران پناه ملاجان محمداخونزاده ولدمرحوم عالم کامل زکریااخونزاده شهیدمدفون فی سیوری ولد عالم الزاهدکامل حاجی الحرمین والشریفین حاجي ملاصاحبداداخوند ولدعالم کامل ملامحمدیوسف اخوندولدفاضل کامل ملاسیف الدین اخوند ولدفاضل کامل رکن الدین ملافتح محمداخوند ولدعالم کامل قطب الزمان العارف المعروف اعنی ملامحمدنیکه هوتکي المسمی به ممونیکه مدفون فی محل سیوری قلات »( ۱ ) .

احمدعلي اخونزاده تر۱۳۶۲ ش وروسته وفات سوی دئ .

---

( ۱ ) هیوادمل ـ زلمی ـ دمحمدهوتك ژوندلومزار ـ ۱۰ مخ ـ ۱۳۶۲ ش ـ کابل



ACKU

# شیرمحمد هوتك

شیرمحمدهوتك د ولی محمد هوتك زوی او د كندهار د منډیسار کلي اوسېدونکی و(۱) . دده له نامه سره مو د « تذکرة الشعراء » دراته مولفین آشنا کوي . هوري لولو چي شیرمحمد هوتك « دخپلي زماني عالم او متصوف یوشاعر و... خاتته مرتب او مردف دېوان هم لري چي طبع ته نه دی رسېدلی . ملاشیرمحمد په ۱۲۴۴ هـ زېږېدلی اوپه ۱۳۰۴ وفات شوی دی اوپخپله قریه کښي ښخ دئ » (۲) .ښاغلي څېړندوی بختاني پخپله یادونه کي د پښتانه شعراء دوهم ټوك یوسلو پنځه شپېتم شاعر شیرمحمد زموږ تریحث لاندي شیرمحمد سره مغالطه کړی دئ . زما په فکر دا دوه شیرمحمده بېلابېل کسان دي ځکه کله چي مي ددغو دوو تنو پښتو شاعرانو دژوندحالات سره پرتله کړل ، له نامه او کندهاریتوب پرته مي نور هیڅ راز مشترکات ددوی ترمنځ ونه لیدل .دشاعردکلام نمونه یه یې هم له هماغه کتابه رانقل کړو .

پرداغلي مخکه نـــــــه سي کوروکلی
څه یه توان کاد هجران لـــــــمبو وهلی
نام و ننگ په عشق کښي څومره لوګناه ده
په مذهب د عـــــــاشقانودئ دروهلی

---

( ۱ ) منډیسار - چي میرزایاتو له هغه څخه منډحصار جوړ کړی دئ - دکندهار ښار جنوب ختیځ ته تر هوایي ډګر رامخته د ترنك رود پر جنوبي غاړه پروت دئ - دکندهار ـ سپین بولدك لویه لار ددغه کلي په مخ کي تېرېږي -

( ۲ ) تذکره الشعراء ـ دسراج الدین سعید اومولوي صالح محمد هوتك کډه لیکنه ـ ۲۱۷ مخ ـ سرېزه - تدوین او یادوني د څېړندوی بختاني خدمتکار ـ ۱۳۶۶ ش

هسي غم نه دئ چي څوك يې په سر واخلي
دغه باردئ د عاشـــــق په سرتړلی

که دي چيري په خيال گرځي چي هوس دئ
دعشق اوردئ ترتـــــمام جهان وتلی

که لمبه د بېلتانه دي پـــــه سرراشي
بيا به نه وکړې هـــــوس مادئ ليدلی

مال وځان مي د اشنا پـــــه مخ فداشو
شيرمحمددئ دغه ســـود و زيان منلی

**********

## عبيدالله هوتك

عبيدالله هوتك دكندهار اوسېدونکی او د پښتو ژبي دېوان لرونکی شاعر تېرسوی دئ، چي په پر هندي سبك برابره شاعري يې کوله . د ژوند زمانه يې د اميردوست محمد خان له پاچهی سره برابره ده . ښاغلی سرمحقق زلمی هيوادمل يې دخطي دېوان څرك موندلی دئ ( ۱ ) .

*******

****

***

**

*

( ۱ ) زلمی ـ هيوادمل ـ دپښتوادبياتوتاريخ ( لرغوني او منځنی دوره ) ـ ۲۲۶ مخ ـ ۱۳۷۹ ش

## گل محمد افغان هوتك

ددغه پښتون شاعر دژوند په باب معلومات نشته. داسي ښکاري چي دغه شاعر دزیږېدلو مېنه کندهاردئ ، خوله خپل پلرني هیواده لیري په بخارا او ددغه امارت په توابعو کي یې دمنغتیه واکمنانودواکداری په وخت کي ژوند کړی او په « نوراتا » کي یې ، چي د بخارا امارت یوه سیمه وه ، دحاکم په توګه وظیفه درلوده . دغه راز یې ددغه امارت په ځینو نورو برخو کي هم حکومتونه کړي دي . گل محمد افغان هوتك په پارسي او پښتو شاعري کړې ده . د پښتو ژبي څو غزلي یې پوهاند رشاد صاحب پیداکړي دي او ویل کېږي ، چي ارواښاد حسین نایل یې دپښتو اوپارسي شعردېوانونه د بخاراپه کتابتونوکي کتلي اوپاداښتونه یې ځني اخیستي دي(۱) . په پښتانه شعراء څلرم ټوك کي دپوهاند رشاد صاحب دڅېړنو په حواله لیکل سوي دي ، چي « دکندهاري دین محمد خان په بیاض کي د گل محمد افغان څوپښتو غزل اورباعي ګاني ثبت دي . په هغو کي دغزل په شکل یو منظوم مکتوب هم شته .کله چي نوموړی دین محمد خان بخاراته تللی و نوگل محمدخان ورته داليك لیکلی دی ....» :

وامي وربېده خانـــــــه له ولاته یې راغلی
پس له ډېره عــــــمره بخاراته یې راغلی
سترګي چي کړم پټي له هغې ورخي راهیسي
وینم دي په خوب چي (نوراتا ) ته یې راغلی

---

( ۱ ) مهاجرنامه ـ ۷۷ مخ

ژر راسه طبییه مارنخـــــورد پردیسی ته
تـــــه د خدای په حکم زما دواته یې راغلی
وغرره سترګي پـــــــه تمامه بخاراکي
ته چي ( افغان ) نه وینې و چاته یې راغلی

وايي دګل محمد افغان هوتك دپارسي شعر دیوان او د ( عادل افغان ) په نامه مثنوي یې تر شلو زرو بیتونو اوړي ( ۱ )

افغاني څېړونکو دګل محمد افغان هوتك دزېږېدلو نېټه د دوولسمي هجري پېړۍ پای او دمړيني دایې تر ۱۲۵۵ هجري قمري کال وړاندي کلونه ټاکلي دي .

************

***********

**********

*********

********

*******

*****

****

***

**

*

(۱) دپښتو ادبیاتوتاریخ ( لرغوني لومنخني دوره ) - ۱۹۴ مخ

# دبلاهیر

## ملارمضان هوتك

دعقلي او نقلي علوم‌واستاد ملارمضان هوتك د ملاقضات زوی او د ملارسولداد لمسی و . پلار و نیکه یې د کندهار د کلات له « سیوري »څخه د وردکو ولایت د میدان ښار د « بیني بادام » کلي ته لیږدیدلي دي . ملا رمضان هوتك دخپل وخت له وتلو علماوو څخه و . امیر شیرعلیخان دده علمي قدر و منزلت ته په درنه سترگه کتله او کله چي یې دکابل په بالاحصار کي یوه مدرسه تاسیس کړه ، ملارمضان هوتك یې له بیني بادام کلي څخه دکابل ښار تـه راوغوښت او ددغـي مـدرسې اداري چاري یـې وروسپارلې . ملا رمضان هوتك دامیرعبدالرحمان خان دپاچهی په وخت کي دهغه د زامنو سردارنصرالله خان او سردار حبیب الله خان د استادی وظیفه هم درلوده . ده په ۱۳۰۷ هـ ق کال د سردار نصرالله خان لپاره « عقاید نسفی » په پارسي ترجمه کړ ، چي خطي نسخه یې د کابل په ملي آرشیف کي خوندي وه . ملارمضان هوتك د ۱۳۱۹ هـ ق کال د ذی الحجې پر اوومه د اویاوو کالو په عمر په کابل کي وفات سوی دئ ( ۱ ) .

******

*****

****

***

---

( ۱ ) دافغانستان تاریخي پېښلیك ـ ۲۱۲ ـ ۲۱۹ مخونه

# عبدالعلي مستغني

عبدالعلي مستغني د ملارمضان هوتك زوی د ملا قضات لمسی او د ملارسولداد کړوسی و ، چي د ۱۲۹۳ هـ ق کال د ذی الحجې پراووه لسمه د کابل په بالاحصار کي زیږېدلی و. د دوی پلرنی مېنه د کندهار دکلات « سیوری » دئ او لکه څنګه چي مو د ملارمضان هوتك په برخه ویلي دي ددوی کورنی د ځینو عواملو له امله د وردکو بیني بادام کلي ته رالېږدېدلي اودمستغني پلار د امیرشیرعلیخان د پاچهی په وخت کي کابل ته راغوښتل سوی و .

مستغني له خپل دانشمند پلاره متداول علوم ، منطق فلسفه ، کلام ، فقه او ادبیات لوستي وو . په پارسي ادبیاتو کي یې خورا زیات مهارت درلود او په نجوم ، رمل او هندسه کي یې پراخه مطالعه درلوده . په عربي ژبه هم د مهارت څښتن و. په پښتو و پارسي یې روان شعر وایه او د مولانا خال محمد خسته دخولې خبره ده ، چي مستغني دشعر په روانی کي سیال نه درلود (۱) .د شعرزیاتره اقسام لکه غزل ، قصیده ، مثنوي ، رباعي ، مخمس ، مسدس ، ترکیب بند و ترجیع بند یې ویلي دي . اشعار یې زیاتره اخلاقي و تربیوي رنګ لري . مستغنيَ د امیر حبیب الله خان د پاچهی پـــه وخت کي د سراج الاخبار افغانیه د ادبي صفحې محرر او څه موده مصحح و. د کابل دادبي انجمن غړیتوب یې د مړیني تروخته درلود . څه موده د حبیبیې په لېسه کي د ادبیاتو

---

(۱) خسته ـ خال محمد ـ معاصرین سخنور ـ ۱۷۲ مخ

استاد هم و.

مستغني د ۱۳۱۲ هـ ش کال دحوت پر یوویشتمه د یکشنبې په ورځ د کابل په ملکي روغتون کې تر یوې اوونی ناروغی وروسته مړ سوی دئ. ملك الشعراء قاری عبدالله خان یې دمړیني تاریخي قطعه ویلې ده.

چـو مستغنی قتیل بـذله گو را
به کـوچ ناگهانی هـمرهی کرد
قلـم تاریخ فـوتش را رقمزد
که مستغنی عجب قالب تهی کرد (۱)

دغه راز یې دده پر مرگ اوږده قصیده ویلې ده، چې مطلع او مقطع به یې له «معاصرین سخنور» څخه رانقل کړو.

مسخر گشت اقلیم معانی بـر سخندانی
سخن رامی سزد برخودکند گرشوکت وشانی
کنون افغانیان را کی بـود درگلشن معنی
چومستغنی نواسنجی چوقاری سحردستانی

وایي مستغنی په ځواني کې د غېږ نیولو (کشتی گیری) شوقي و او په دې برخه کې یې شاگردان هم روزلي وو.

دده د پښتو کلام په برخه کې به دده د یوې اوږدې قصیدې یوه برخه راوړو:

---

(۱) دغه تاریخي قطعه ما (هوتك) داسي حل کړې ده:
«مستغنی» بخپله تاریخي ماده ده. چې ابجدي ارزښت یې ۱۵۶۰ کیږي. د «عجب قالب» ابجدي ارزښت ۲۰۸ دئ. چې که د (تهی) قرینې په حکم د تاریخي مادې له ابجدي قیمت څخه وایستل سي. ۱۳۵۲ پاتېږي او دا په قمري حساب د عبدالعلي مستغني د وفات کال دئ.

بې له علمه به څه غــــوارې په دنیا څوک
که عاقل وي که هـــوښیاروي که داناڅوک
تردې ښه متاع پــــه دې دوکان کې نشته
سودبه وکا که کـــــوي دغه سوداڅوک
درست جهان قربان د عـــــلم ترګوهر شه
دغه وایم که مي و پـــوښتي رشتیا څوک
علم سل خـــــــــرواره ثقل په هواکا
درولی شي یـــــــو ښه په هوا څوک
مجهولات به د عالم ورته معـــــلوم شي
که دعـــــــلم له مضمونه شي جویاڅوک
تـــــــرقیامته خرابي پرې اثرنه کا
که دعـــــــلم پر بنا کښېږدي بناڅوک
په دنیا دې هـــــــغه قصربې قصوره
چې د عـــــــلم په قرارېې کړي برپاڅوک
چې د عـــــلم د طبیب دارو ونخوري
له مرض د جـــــهله نه مومي شفاڅوک
د هـــــــغه ملت به څرنګه ښادي وي
چې په ده کې به عالم نـــه وي اصلاڅوک

..............

«مستغني» که په پارسي که په پښتو وي
په ګفتارکې دي زه نـــــه وینم همتاڅوک

..............

د پارسي کلام بېلګه يې :

وطن را ازمعارف میدهد اهـــل وطن رنگی
بلیٰ باشد چمن را ازگل و سروســـمن رنگی
دهد ازسعی خویش این خانه رااهل وطن زینت
که بی جوش ریاحین نیست برروی چمن رنگی
کند هـــــرچیز را ممتاز اقران کوشش فردی
که دارد بی تـوان از جوش خون کوهکن رنگی
گلستان را بلند آوازه ســــــازد نالهٔ بلبل
که گلزار وطن را میدهد اهـــل سخن رنگی
کجا این صفحه را بی کـوشش نقاش تصویری
توگـرنقشی نه بندی نیست در بنیاد من رنگی
وطن را رونـــــق ادراك بخشد همت مردی
یقین از پرش یك شـــمع گیرد انجمن رنگی

د استاد عبدالعلي خان مستغني يو زوی جنرال عبدالکريم مستغِني د شهيد سردارمحمد داود په جمهوري کابينه کي د دفاع وزير و .

*****

****

***

**

*

*

# عبدالولی عاشق

عبدالولی « عاشق » د ملارمضان هوتك زوی او د عبدالعلی خان مستغني کشر ورور و ، چي په ۱۳۱۵ هـ ق کال د وردکو په بینی بادام کلي کي زیږېدلی او د ژوند په وروستیو کلونو کې د کابل په خوابگاه کوڅه کي اوسېدی . اروانباد عاشق له خپل پلاره د وخت مروج علوم لوستي وو او د پوهي په تلاښ تر پېښوره هم تللی و . په هغه وخت کي دپښتنو لپاره پېښور د دیني علومو د کسب لوی مرکز و . وایي عبدالولی « عاشق » ښکلی خط کیښ او په نستعلیق کي یې مهارت درلود . په ځینو دولتي ادارو او تجارتي موسسو کي یې کارکړی و . پښتو یې مورنی ژبه وه او په پارسي یې شعر وایه . د پارسي شعر یوه نمونه یې د « معاصرین سخنور » مولف راوړې ده ، چي دلته یې هم رانقلوو .

کرده چـــون سیماب حسنت بیقرار آیینه را
ساخت رخسارتـــــوباحیرت دچار آیینه را
ازکنارش رفته تـــــاحسن عرقناك کسی
روز روشن گشته زانرو شـــــام تار آیینه را
چشم مست دلکشت تادیده ای نـــــور نظر
هست از کیفیتش در ســـــرخمار آیینه را
تادهد یاد ازصفایي عـــارضت ای مه جبین
بعد مردن میکنم لـــــوح مزار آیینه را
کی شـــــود پیش رخت منظور ارباب نظر
میکنم قـــــربان رویت صدهزار آیینه را

ازصفايي عارضت دردام حیرت مانده است
کرد حسن عـــــالم آرایت شکار آیینه را
پیش قلب عاشق ازصدق وصفا کی دم زند
گرنباشد باورت جـــــانا بیار آیینه را

د اروانښاد عبدالولی خان عاشق په باب زما سره د ور کتوب یوه خاطره ستـه ، چي لیکل يې دلته لازم گنم . زه به لس کلن وم ، چي د خپل نیکه مرحوم مولوي صالح محمد هوتك سره د کابل ښار په منډوي بازار کي راروان وم . مولوي صاحب مرحوم له یوه دوکان څخه څو کیلو بوره واخیسته او کڅوړه يې ماته په شا راکړه . په دغه وخت کي اروانښاد عبدالولي خان عاشق په مخه راغی . له مولوي صاحب سره يې په خورا مینه روغبړ وکړ او دخبرو په ترڅ کي اروانښاد عاشق زماپه شا پلنډي ته وکتله او بیایې مولوي صاحب ته په یوه معنی داره انداز سره ومسل . مولوي صاحب خو دراك سړی و په موضوع پوه سو او په جواب کي يې ورته وویل « کوچنی گل دئ ، بویوه يې – چي د اوو کالو سو، بوده دئ ، چلوه يې – چي لوی سو غم دئ ، گلوه يې » تردې شعر وزمه جملو وروسته دواړو په کټ کټ وخندل او اروانښاد عاشق ورته وویل « ددغه کوچني بار ماته دروند ایسي » .د لاري په بهیر کي مولوي صاحب مرحوم راته وویل « دغه سړی دپښتو دخورا لوی ادیب مستغني ورور و » . پاك خدای (ج ) دي هغه ټول نیازمن وبخښي .

***

*

## بهادرخان هوتك

ددې سړي نوم د پوهاند رشادصاحب له ليکني رامعلوم دي ، نور يې حال راته ځرګندنه سو. رشاد صاحب ليکي، چې دحاجي شهبازنيکه د قبر شنختي نوموړي بهادرخان هوتك له کابله راوړي ( ۱ ). رشادصاحب دانه دي ويلي . چې دغه شنختي يې کوم ځاى ته راوړي .

## ولي محمد هوتك

داسړى دبلوچستان دسيمو اوسېدونکى و . ددیارلسمي هجري پېړۍ په منځ کي يې د مصباح الظلم په نامه يو کتاب تاليف کړى دئ . وايي چي عالم سړى و اوپه پښتو يې روان شعر وايه ( ۲ ) .

*********

********

*******

******

*****

****

***

**

*

---

( ۱ ) تاريخي پلټني ـ ۱۳۷ مخ

( ۲ ) زلمي ـ هيوادمل ـ فرهنګ زبان وادبيات پښتو ـ ۱ / ۵۴۱ مخ ـ ۱۳۵۶ ش

## میرحاتم غازي

داغازي دملااحمدهوتک زوی واودکندهارداوسني ښارپه هرات بازارکي يې دموچڼ دوزانوپه يوه دوکان کي دشاګردۍ په وخت کي پرځوارلس کلن عمريوه تاريخي حماسه جوړه کړې ده چي د افغانستان په تاريخ کي ديادوني وړ ځای لري .داحماسه پر کندهار باندي دانګرېزانودلښکرودتېري په وخت کي ( نومبر ۱۸۸۸ ع ) پېښه سوې ده . دحماسې بيان به داروانښادعلامه عبدالشکوررشاد ( ۱۳۰۰ ـــ ۱۳۸۳ ش ) له خولې ولولو. اروانښاد داحمدشاهي کندهاردهرات بازاردموقعيت تر بيانولو وروسته داسي ليکي :«... پرکندهارباندي د منحوس پردي حکومت په ورځوکي يوه ورځ دخونخورو پرنګيانو د کړلي پوځ يومغروره زلمي منصبدار ( افسر ) چي ( سينټ جان ) نومېده په نوموړي هرات بازارکي په خوراغروراوخيال تېرېده ، ديوه موچڼ دوزدوکان ته يې پام سو... نېخه دمغروره انګرېزمنصبدارپه زړه کي څه وروګرځېدل چي ناڅاپه په خورابې پروايۍ ددوکان خولې ته ورتاوسو اوله موچڼ دوزاستاد څخه يې غالبادموزودګنډلوپه باب څه وپوښتل ...دموچڼ دوزپه شاګردانوکي يوځوارلس کلن ځوانکی هم و چي ميرحاتم نومېده ... ( دی ) وارپه وارله خښمه ډکېده ، مخ يې سوراوښتی و ، خولې پرراماتي سولې ، نابېره له ځايه وغورځېده دبرېښناپه تېزۍ يې خان انګرېزافسرته ورساوه اوپه تېره برنده يې دانګرېز ( سينټ جان ) نس داسي وڅيره چي دسترګوپه رپ کي يې کولمې مخي ته کوټه سوې .»استاد زياتوي چي پرميرحاتم غازي باندي دپرنګيانو

عدالتي محكمې دده دعمرد لړوالي له امله د « عمري بند » سزا وټاكله اوتورواوبوته يې ولېږه ( ۱ ) . ميرحاتم هوري اتلس كاله بند كاټ كړ اوداميرعبدالرحمن خان دپاچهۍ په وخت راخوشي سو خوكندهارته راغئ اوپه كوټه كي ميشت سو . هوري يې « دطبابت دوكان پرانيست ، واده يې وكړ ، اولادونه يې وسول ، ترڅه مودې وروسته دكندهاربنارته راستون شو ... په كندهاركي ومړ او پخپله پلرنۍ هديره كي خاوروته وسپارل سو. » . پوهاند رشاد وروسته زياتوي : «دغازي ميرحاتم پنځه زامن پاته سول : عبدالله جان ، عبدالقاهر، عبدالحی ، عبدالرشيد مشهوربه پاچا اوعبدالواسع . »

داروانبادفاضل استاد پرېادونوبه زه دومره ورزيات كړم چي د ميرحاتم غازي په زامنوكي حاجي عبدالقاهر اوحاجي عبدالحی قادري دكندهارمشهورسوداګران تېرسوي دي .حاجي عبدالحی قادري دېرخيراندېش اوخيررسوونكی سړی و .پربېوزلواوغريبانويې همښتنی پېرزوينه درلوده . له كندهاره تركابله يې پرهررباط باندي داوبوڅاهان وكښل ، سلواغې يې پروځولې چي مسافروبه تنده پرماتوله . ددې صدقهٔ جاريه اثرله روسانوسره دجهادپه كلونوكي

---

( ۱ ) ميوند ــ دافغانستان دتاريخ ځلی ــ د « خوارلس غازي ميرحاتم » په نامه داروانبادعلامه رشاد مقاله ـ ۲۱ ـ ۲۴ مخونه ـ ۱۳۷۹ ش .

له توررواوبوڅخه داروانبادعلامه رشادمراد د انډيمان ټاپوګان Andaman Islands دي . په دغه نامه په بنګال خليج كي يوشمېرجزيرې سته چي په اداري لحاظ دهند ترائرلاندي دي . ددې جزيروټول شمېر ( لويې او وړې ) دوه سوه څلورته رسيږي او اوږدوالی يې دهوكلي له خولې څخه دبرمادنيكربز تر راسه پورې ۵۹۰ ميله دئ . په دغوټاپوګانوكي درې ټاپوګان ډېرمهم دي چي دشمالي . منځني اوجنوبي انډيمان په نوموياديږي . ( دتفصيل له پاره وګورئ : انسايكلوپيډيا ـ بريټانيكا ـ اول ټوك ـ ۸۹۵ مخ ) .

ډېر زیات و ځکه زموږ له تنډي چولاوه مجاهدین به پرهمدي ځاهانواوبېدل ... د قادري شرکت په نامه دکابل کندهارترمنځ لوموړنی منظم اوعصري ټرانسپورټ دده له خواجوړ سو . حج ته دلوموړي ځل له پاره دده خوازميني كاروان ولېږل سو(۱) . دحاجي عبدالحي قادري په زامنوکي اروابښادحاجي احمدقادري دزیاتي مطالعې څښتن واوپخپل کورکي ښه کتبخانه درلوده .د دغه حاجي احمدقادري دوه تحصیلیافته زامن پاته دي . حمید قادري دپښتني بانك رئیس او حبیب الله قادري دولسمشر حامد کرزي په حکومت کي د کابینې وزیردئ .

**********

*********

********

*******

******

*****

****

***

**

*

---

(۱) هوتك ــ محمدمعصوم ــ احمدشاهي كندهار ــ ۳۷ مخ ( حاشيه ) ــ ۱۳۷۵ ش ــ ټورنټو ــ كانادا .

## خداینظرخان مشهورپه ماما

دسردارپایندخان بن حاجي جمال خان بارکزي له ځوماندینوڅخه یوویشت زامن پاته سول ، چي په هغوکي شیردلخان ، کهندلخان ، پردلخان ، رحمدلخان او مهردلخان ( کندهاري سرداران ) له یوې موره وو ( ۱ ) . دامېرمن په قومي لحاظ غلجۍ اوپه غلجیوکي ایدوخېله هوتکه وه . زموږتربحث لاندي خداینظرخان ددې ښځي ورور او د کندهاري سردارانوماما و. دخداینظرخان له نامه سره موږدهغوپېښوپه ترڅ کي مخامخ کېږو، چي په افغانستان کي له سدوزوڅخه وبارکزوته دپاچهۍ دلېږدېدلوپه وخت کي پېښي سوي دي . وایي کله چي دکشمیرواکمن سردارمحمدعظیم خان وفات سو ( ۱۲۳۸ ق = ۱۸۲۳ ع ) ، زوی یې سردارحبیب الله خان دپلارله زیات ثروت سره په کابل کي دسدوزي تیمورشاه دزوی ایوب شاه دتش په نامه پاچهۍ رقیب اوحریف سو . بارکزیو سردارانوله دغو دوو بې تجربه ځوانانوڅخه دخپل اقتداراوواکمنی په ګټه کاراخیست ، یویې دبل پرضدلمساوه اوخبره یې قتل وقتال او وینوتویولوته ورسوله . داقتدارغوښتلوپه دې بدمرغه هنګامه کي دسرداردوست محمدخان ( وروسته امیردوست محمدخان ) اوسردارحبیب الله خان ترمنځ ټکرپېښ سو . د اکا او وراره ترمنځ په دغوجګړوکي سردارشېردلخان چي د سردارمحمدعظیم خان تر

---

( ۱ ) ددوی په باب دالاندي رباعي په خینوتاریخوکي راغلې ده :

مابنج برادران کـــه ازیك پشتیم     دردست زمانه همچوپنج انکشتیم

چون فردشـــویم درنظرهاعلمیم     چون جمع شویم بردهن ها مشتیم

مړيني وروسته دبارکزيوورونوپه منځ کي په زړه ورتوب ، عقل او تدبيرباندي مشهوررو ، له کندهاره کابل ته له خپل لښکرسره ولاړ. په دغه لښکرکي يې خپل ماما خداينظرخان هم دمشر سلاکار په توگه ملگرى و. شيردلخان دکابل بالاحصارونيو ، سردارحبيب الله خان اوسرداردوست محمدخان يې دواړه بنديان کړل ، خو ډېرژر يې بيرته دواړه خوشي کړل اوسردارحبيب الله خان يې دنوموړي خداينظرخان په ضمانت لوگرته ولېږه . سرداردوست محمدخان ته يې دسردارمحمدعظيم خان له سرمايې څخه يولك روپۍ په لاس ورکړې اوترهغه وروسته يې دبارکزيو ورونوترمنځ دافغانستان د وېشلونقشه جوړه کړه . سردارشيردلخان دکابل ترنيولووروسته د سردارمحمدعظيم خان دزيات ثروت دترلاسه کولوپه لټه کي سو. دغه سرمايه په کابل کي له څينومتنفذوکسانوسره خوندي وه . سردارشيردلخان خپل ماما خداينظرخان اوغياث الدين خان الکوزي وگومارل چي دغه ثروت له خلکوڅخه راغونډکړي . دوى له خلکوڅخه دپيسوپه راغونډولوکي له ظلم اوسختۍ څخه کار واخيست اودکابل خلك يې دسردارشيردلخان په وړاندي بدبين کړل اودي کاردسرداردوست محمدخان له پاره دکابل دتخت په گټلوکي لازمه زمينه برابره کړه ( ١ ) .

دخداينظرخان هوتك په باب زه نورڅه دليکلونه لرم .. خودومره خبريم چي پرکندهارباندي دکندهاري سردارانودواکمنى پروخت په دغه کورنۍ کي يومتنفذ سپين ږيرى و او خوريانويې ورته داحترام په سترگه کتل .خداينظرخان په لوگر کي جايداد هم درلود .

---

( ١ ) کهزاد ـ احمدعلى ـ رجال وورويدادهاى تاريخى ـ ۴۵ ـ ۶۳ مخونه ـ انجمن تاريخ ـ کابل.



ACKU

## میرزامحمدایوب هوتک

میرزامحمدایوب هوتک دمحمدعارف زوی اودحاجي محمداکبر هوتک ( ۱۲۳۸ ـ ۱۳۱۸ هـ ق ) لمسی و، چي د ۱۲۶۰ ش کال په شاوخواکي د کندهارښار د کابل بازاردملاګلمداد په کوڅه کي زیږېدلی و. دخپلي کورنی په علمي چاپېریال کي یې خصوصي زده کړي سرته ورسولې . د امیرامان الله خان دپاچهی په وخت کي یې رسمي ماموریت درلود اودکندهاردنائب الحکومه سردارغلام فاروق خان ددفترد منشي په توګه یې رسمي وظیفه درلوده .

میرزامحمدایوب دادبي ذوق څښتن و اوله شعر وادب سره یې مینه وه او نستعلیق خط یې ښه کیښ . زمادکندهارپه کتابوکي دده په لاس یو لیکل سوی جونګ خوندي و ، چي په هغه کي دپارسي شاعرانوحافظ ، سعدی ، صایب ، کلیم ، خیام ، بیدل ، امیخسرو او نوروانتخابي شعرونه په نسبتا ښکلي نستعلیق خط په سره ، شین اوتوررنګ کښل سوي وو. دشعروپه پای کي په پارسي ژبه یوه خوابنامه هم ورسره لیکل سوې وه . ددغه جونګ زیاتره شعرونه ماپه وړکینه په یادکړي وو اوځیني مي تراوسه په حافظه کي ، چي چندان ښه حافظه هم نه ده ، خوندي دي .

میرزامحمدایوب هوتک په ۱۳۰۷ ش کال په کندهارکي وفات سواوپخپله پلرنی هدیره کي ښخ دئ .مېرمن یې دمولوي صالح محمدهوتک خورکېده اوله هغې څخه یې یوازنی زوی پاته سو چي محمدیعقوب نومېدی . محمدیعقوب دمولوي صالح محمد هوتک ترسرپرستی لاندي لوی سو. د کابل په صنایع مکتب کي یې درس

ولووست اوهنرمن سړی تري جوړ سو . دکندهاردوړيوپه فابريکه کي يې کارکاوه . محمديقوب په ۱۳۸۲ ش کال په کويټه کي مړ اوپه کندهارکي پخپله ابايي هديره کي خاورو ته وسپارل سو.

دميرزامحمدايوب هوتك ښه ډېره سرمايه اوجايداد پاته سو خودورثې په درد يې ونه خوړ .

*******

## سردارمحمد زهير

سردارمحمد زهيردپښتوژبې نقادليکوال اومنورپښتون وچي د ملي قايد حاجي ميرويس نيکه د ورور ميرعبدالعزيزله اخلافوڅخه شمېرل کېدی . دده دکورنی شجره ترميرعبدالعزيز پوري داسي رسيږي . سردارمحمدزهير د ميرزافتح محمدخان ( ۲۰ قوس ۱۳۵۰ ش مړ ) زوی ( ۱ ) د حاجي نيك محمدخان لمسی د ملا محمدنورکړوسی دعبدالحميد کوسی و چي دغه عبدالحميد بياد ميرعبدالعزيز زوی اودښالم خان نيکه لمسی کېدی . ښالم خان د ملي قايد حاجي ميرويس نيکه پلارو اودهوتکو ښالم خېل همدغه ښالم خان ته منسوب دي ( ۲ ).سردارمحمدزهير په ۱۲۹۸ ش کال په کندهارکي زېږېدلی و( ۳ ).

سردارمحمدزهيرد ۱۳۷۰ ش کال دسنبلې پرشپږمه دچارشنبې په ماښام په کراچي ښارکي تريوې اوږدې ناروغی وروسته وفات

---

( ۱ ) دميرزافتح محمدخان دوه ورونه حاجي علي محمد خان اوسلطان محمدخان نومېدل چي د رغنداو ولسوالی په ميانجوی کلي کي پرخپل جايداد اوسېدل . دحاجي علي محمدخان اولاده اوس هم خپل پلرني جايدادپه لاس کي لري . ( ۲ ) ښالم خېل دساکزيوهوتکويوښاخ دئ او د اروانښاد سردارمحمد زهيرکورنی هم خانونه ساکزي هوتك بولي .( دريمه حاشيه په راتلونکي مخ کي ولولئ )

سواوپه داسبا يې معمارکمپلکس ته نژدې دېردېسوافغانانوپه هديره کي ښخ سو . زه يې پرجنازه حاضروم .ترمرګ يوه ورځ وړاندي يې زه کورته پوښتني ته ورغلم . پربسترپروت و . پښويې ملګری ته ورسره کاوه . ښه په مړه ګېډه مومجلس سره وکړ . زمانوې چاپ سوې شعري مجموعه« سرامني اوښکي »يې لوستې وه اوپرهغې باندي يې دتبصرې په ترڅ کي وويل « په اشارو ، تشبيهاتو اواستــعـارو دي زه پـوه سـوم چـي څـه وايـې ؟ »مـاخـبـري دده دروغتيايي حالت پوښتني ته واړولې . ده خپلو بې حسو پښوته اشاره وکړه اوزياته يې کړه « داپښې بيادرېدلونه دي . دغه حالت ته سکرات الموت وايي » ده دخپـل مرګ په باب په دومره سړه سينه خبري کولې چي مافکرکاوه زه ناروغ يم اودی مي پوښتني ته راغلی دئ ، وروستی خبره يې داوه « تراوسه خوښه روانه ده . نورهم خدای مهربان دئ »-. له « ښه روانه ده » څخه يې مراد دمرګ سختی وې .دماښام دلمانځه پروخت څيني رخصت سوم او په داسباسهاروختي چاکورته حال راووړ چي « زهيرصاحب په حق ورسېد ».

---

دتبرمخ حاشيه دلته ولولئ :

( ۳ ) په کندهارکي دهوتکويوه کورنی وه . چي مشرېې چيني کاکا نومېدی . دچيني کاکا مېرمن دکندهاردمشهورسوداګرلوسپين ږيري مشر ميرزاجان محمدخان هوتك خورکېده . دده بله خور دمولوي عبدالواسع کاکړمېرمن وه . زماپه ياد ده لويه کورنی کي مو « ادي » بلله . زما ( م .هوتك ) مورنی انا « نيا » ددغي پېښتني لوروه . دچيني کاکا دوې لوڼي اويوزوی ( نوراحمد ) پاته سول چي يوه لورېې په ميرزافتح محمدخان واده وه . له دې ميرمني څخه زموږ تربحث لاندي سردارمحمد زهير. شهيدمحمدصادق معلم اوحاجي محمدرحيم پاته سوي دي . ددې کورنی زياتره کسان په امريکا کي اوسي .

اروابناد سردار محمد زهیر له طلوع افغان اخبار سره همکاري درلوده . غالبا به دځلوښتمو کلونو حدود وه ، چي ده په اخبارکي دکندهار دښځمنو پر ژوند او دهغوی دورځني ژوند پرځینو اړخونو دهغوی پخپله ژبه او وراشه ډېري په زړه پوري لیکني خپرولې . د اخبار لوستونکو به هره ورځ دده دلیکنو له پاره داخبار لټه کوله . دغه لیکني دهنري نثر په ښه لګوکي راتللای سي او باید راغونډي سي . زما لاس او س نه وررسیږي

*******

## محمد صادق خان معلم

محمد صادق خان معلم دمیرزا فتح محمد خان هوتك زوی اود سردار محمد زهیر ورور کېدی . ددوی مشرنیکه دملي قاید حاجي میرویس خان ورور ، میرعبدالعزیز دئ .محمد صادق خان دکندهار په معارفو کي هغه پېژندل سوې څېره وه ، چي دلیاقت ، تربیوي انضباط او تقوی خبري یې دهرچا پرخوله دي . نوموړی په ۱۳۰۵ ش کال دکندهار ښار په نورزو شاه برج کي زیږېدلی و. تر تحصیلاتو وروسته یې دکندهار داحمد شاه بابا په لېسه او میرویس لیسه کي د ریاضي او فزیك دښوونکي په توګه ډېر کلونه تدریس وکړ او خورا زیات پیاوړي شاګردان یې وروزل . دی دکندهار په معارف کي لومړنی ښوونکی و ، چي شاګردانو ته یې لابراتواري تجربې په عملي توګه ښوولې . محمد صادق خان په ۱۳۴۳ ش کال دامریکا متحده ایالاتو ته دعالي تحصیلاتو له پاره ولاړ اوتردوه کاله تحصیل وروسته په ۱۳۴۵ ش کي بیرته هیوادتـــــه راستون سو

اودښووني او روزني وزارت دښووني اوروزني په موسسه کي يې په کارپيل وکړ . ده ته له ډېره وخته دسترګويورازنارو غي پېښه وه . د همدې ناروغی د شدت له امله يې ونسوکولای کارته ادامه ورکړي . نوموړي وزارت ورته دده د زياتوخدمتونوله امله په کندهارکي يوه داسي رسمي وظيفه ورکړه ، چي دده له روغتيايي حالت سره مناسبه وه . دی يې ډميرووېس نيکه په لېسه کي د لابراتوار د مستحضرېه توګه وټاکه ، چي له ځوانوښوونکوسره يې په لابراتواري کاروکي د سلاکارپه توګه مرسته کوله .

محمدصادق خان معلم د۱۳۶۳ ش کال دقوس پرشلمه دکندهار دِ وړيوفابرېکې ته نزدې دروسي عسکروديوه کاروان دډزوله امله په ګولی وويشتل سو اودهمدې فابريکې مخې ته يې ساه ورکړه . خدای (ج ) دې شهادت قبول کړي .صادق خان په کندهارکي پخپله پلرنی هديره کي ښخ دئ . اولادونه يې دامريکاپه بېلابېلوښا ونو کي اوسي .

*********

********

*******

******

*****

****

**

*

## محمدیوسف ویران

محمدیوسف ویران دکندهاربناریوه پېژندل سوې ادبي او اجتماعي څېره وه . په پښتوژبه یې لیکنه کوله اوشعریې په وایه . نوموړی دمیرزاعبدالغفارهوتك مشهورپه کاکاجان مشر زوی و او د ۱۳۰۵ ش کال په حدودوکي په کندهاربنارکي زېږېدلی و. رسمي زده کړي یې په کندهارکي سرته رسولي وې .دهماغه زلمیتوبه یې له شعراولیکني اودغه رازله موسیقي اوښکارسره جوړه وه .دکندهارله زیاترو محلي شاعرانواولیکوالوسره یې ناسته ولاړه درلوده اودکندهارپه محلي مطبوعاتوکي یې لیکني او اشعارچاپېدل . ددغه ښاردزیاترواولسي شاعرانو ژوندلیکونه دده اوښاغلي نصرت صاحب په همت خپاره سوي دي .

ویران صاحب په ورځني ژوندکي یوخنده رویه اوظریف سړی و . مجلس یې له ظرافته ډك و . په موسیقي ښه پوهېدی او پخپله یې هم په خصوصي مجلسونوکي سندري ویلې . دکندهارپه ښکاریانو کي دیوه وتلي ښکاري په توګه پېژندل سوی و .

اروابنادویران د ۲۰۰۳ ش کال داکتوبرپراتمه.د پاکستان د کراچي په ښارکي په حق ورسېد اوبه داسبابې جنازه کندهارته انتقال سوه اوپخپله پلرنی هدیره کي خاوروته وسپارل سو .

****

***

**

*

## ددې کتاب

په ليکلو کې له دا لاندې ماخذونو څخه استفاده شوې ده:


۱ـ افغان رساله، جريده، تورنتو، کاناډا، دفبروري ۸ گڼه، ۲۰۰۱ ع

۲ـ افغان، عبدالباقي، تهذيب الواجبات لتخريب العادات، ۱۴۰۸ ق

۳ـ اصغر مهدوی، ايرج افشار، مجموعۀ اسناد و مدارک چاپ نشده دربارۀ سيد جمال الدين مشهور به افغانی، تهران، ۱۳۴۲ ش

٤ـ انسايکلوپيډيا، بريټانيکا، لومړی ټوک

۵ـ بلخي، بوعلي سينا، مخارج الحروف، پښتو ترجمه، سريزه او تعليقات د پوهاند عبدالشکور رشاد، کابل، ۱۳۵۹ ش

٦ـ بېنوا، عبدالروف، ميرويس نيکه، کابل، ۱۳۲۵ ش

۷ـ بېنوا، عبدالروف، هوتکي ها، کابل، ۱۳۳۵ ش

۸ـ پالنه (مجله)، دوهم کال، څلرمه گڼه، دليکونکي مقاله

۹ـ پښتو چاپي آثار، دمقالو مجموعه، دبېنوا مقاله، کابل، ۱۳۵۷ ش

۱۰ـ پښتانه شعراء، دريم ټوک، کابل، ۱۳۴۲ ش

۱۱ـ تاج التواريخ

۱۲ـ تاريخي پلټنې، دمقالو مجموعه، کابل، ۱۳۵۷ ش

۱۳ـ ترديد شايعات باطلۀ شاه مخلوع، ۱۳۱۰ ش

١٤ـ جهانکشای نادری

۱۵ـ جهاني، عبدالباري، هرات پښتانه او ستره لوبه، ۱۳۸۰ ش

۱٦ـ جغرافيايي قاموس

۱۷ـ څلمی، محمدولی، دکندهار مشاهير، دوهم چاپ

۱۸ـ حبيبي، عبدالحی (پوهاند)، تاريخ مختصر افغانستان، ۱۳٦۸ ش

۱۹ـ حبيبي، عبدالحی (پوهاند)، دافغانستان تاريخي پېښليک، لومړی ټوک، ۱۳۵۳ ش

۲۰ـ حبيبي، عبدالحی (پوهاند)، جنبش مشروطيت در افغانستان، ۱۳۷۷ ش

٢١ ـ حبيبي ،عبدالحی (پوهاند )،دافغانستان لنډتاریخ ، کابل ، ١٣٥٦ ش
٢٢ ـ حبيبي ،عبدالحی (پوهاند )،لوی احمد شاه بابا ،کابل ، ١٣١٩ ش
٢٣ ـ حزین ، محمدعلی ، تاریخ حزین ، اصفهان ، ١٣٣٢ ش
٢٤ ـ حیات محمدخان ،حیات افغاني ( پښتوژباړه )،کابل ، ١٣٧٠ ش
٢٥ ـ خالص ، سلطان محمد ، تاریخ سلطانی ،بمبیی ، ١٢٩٨ ق
٢٦ ـ خسته ، خال محمد ، معاصرین سخنور، کابل ،١٣٣٩ ش
٢٧ ـ دحاجي جمعه بارکزي دېوان،سریزه اولغتنامه دپوهاندعبدالشکوررشاد ،کابل ،١٣٦٠ ش
٢٨ ـ دمیرزاحنان بارکزي دېوان ، سریزه ، سمون اولغتنامه د محمد معصوم هوتک ،١٣٧٠ ش
٢٩ ـ دمیرزاحنان بارکزي دېوان ، پښتواکیډیمي کوټه ، ١٩٩٦ ع
٣٠ ـ دسره غره ګلونه ، کابل ، ١٣٥٧ ش
٣١ ـ دمولوي صالح محمدهوتک یاداښتونه ( خطي )
٣٢ ـ دحاجي عبدالمجیدهوتک یاداښتونه ( خطي )
٣٣ ـ رشاد ، عبدالشکور(پوهاند ) ، دځمکنومیاعمر( رح ) ، کابل ، ١٣٦٠ ش
٣٤ ـ رفیع ،حبیب الله ، ادبي ستوري ،دوهم ټوک
٣٥ ـ رفیع ، حبیب الله ، دهوتکوناريِ ، کابل ،١٣٤٩ ش
٣٦ ـ رفیع ، حبیب الله ، پښتوخپروني ، کابل ، ١٣٥٦ ش
٣٧ ـ ریدي خان مومند ، محمودنامه ،سریزه ، سمون اوسپړنې دحبیب الله رفیع ، پېښور ، ١٣٧٩ ش
٣٨ ـ روهي ، محمدصدیق ، دپښتوادبیاتوتاریخ ، معاصره دوره ، ١٩٩٩ ع
٣٩ ـ زېری (جریده ) ٢ ، ٣ ، ٤ ګڼه ، دلیکوني مقاله ، کابل ، ١٣٦٤ ش
٤٠ ـ سپېدې ( مجله ) ، دویم کال ، لومړی ګڼه

٤١ـ سراج التواريخ ، جلد اول ، تهران ، ١٣٧٢ ش
٤٢ ـ سعيد سراج الدين او مولوي صالح محمد هوتک ، تذکره الشعراء ، دخیړندوی عبد الله بختاني په زيار ، کابل ، ١٣٦٦ ش
٤٣ ـ سعيد ګوهر ، پټه خزانه في الحقيقت ، سکام ادبي اکيډيمي ، ١٩٩٦ ع
٤٤ـ سکندر خان خټک ، شمايلنامه او پندنامه ، کابل ، ١٣٦٤ ش
٤٥ـ طلوع افغان ، د ١٣٢٤ ش کلکسيون ( دصحاف کتابتون )
٤٦ـ طلوع افغان ، اتم کال ، اتمه ګڼه
٤٧ـ ظفر کاکاخېل ، پښتانه د تاريخ په رڼا کښې ، پېښور ، ١٩٦٥ ع
٤٨ـ قاري ، عبد الله ( ملک الشعراء ) ، ديوان قاري ، لاهور ، ١٩٢٣ ع
٤٩ـ کاکړ ، ډاکټر محمد حسن ، رڼا او دفاع ، ١٩٩٩ ع
٥٠ـ کهزاد ، احمد علی ، رجال و رويدادهای تاريخی ، کابل
٥١ـ ګنډاپور ، شير محمد ، تواريخ خورشيد جهان ، ١٨٩٤ ع
٥٢ـ ګلزار قندهار ، تاليف الحاج شيخ محمد حسن قندهاری ، مطبعة النعمان نجف اشرف
٥٣ـ لېمه ( مجله ) دريم کال ، يوولسمه ګڼه
٥٤ـ مجرم ، ميرزا محمد جان ، مخمس توتيه ( خطي )
٥٥ـ محمد کاظم مروی ، عالم آرای نادری ، جلد اول ، ١٣٦٤ ش
٥٦ ـ مستان ، کمال الدين ، دخوږبي شاعر بهايي جان ژوندليک ، کابل ، ١٣٦٣ ش
٥٧ـ مهربان ، عبد الله ، تاريخ جرګه های ملی درافغانستان
٥٨ـ ميوند ، دافغانستان د تاريخ خلی ، دعلامه رشاد مقاله ، ١٣٧٩ ش
٥٩ـ نوری ، نور محمد ، ګلشن امارت ، کابل ، ١٣٣٥ ش
٦٠ـ وکيلی ، عزيز الدين ، دره الزمان ، کابل ، ١٣٣٧ ش
٦١ ـ ويليام فلور ، برافتادن صفويان ، برآمدن محمود افغان ، ترجمهٔ ابو القاسم سری ، ١٣٦٥ ش

٦٢ـ همېش ، خلیل ، تول پارسنګ ، ورومبی برخه ، ۱۹۹۲ ع
٦٣ـ هوتک ، حاجي امان الله ، دخپلواکی لمرخرک ، دوهم چاپ
٦٤ـ هوتک ، محمد ، پټه خزانه ، لومړی چاپ ، کابل ، ۱۳۲۰ ش
٦٥ ـ هوتک ، عبدالغفار ، هوتکنامه ، سریزه ، سمون اوسپړنې د حبیب الله رفیع ، پېښور ۱۳۷۹ ش
٦٦ ـ هوتک ، عبدالرحیم ، مهاجرتنامه ، پښتوژباړه ، سریزه ، سمون اوسپړنې دحبیب الله رفیع ، پېښور ۱۳۸۰ ش
٦٧ـ هوتک ، شیرمحمد ، قصیدهٔ برده ( پښتو ) ، خطي
٦٨ ـ هوتک ، محمد معصوم ، احمدشاهي کندهار ، ټورنټو ، کاناډا ، ۱۳۷۵ ش
٦٩ـ هوتک ، محمد معصوم ، درنه کورنۍ ، کابل ، ۱۳۸۲ ش
۷۰ـ هوتک ، محمد معصوم ، میرزاعبدالودودهوتک ، صحاف نشراتي موسسه ، ۱۳۷۷ ش
۷۱ـ هوتک ، محمد معصوم ، زېری ( جریده ) ، ٤٥ ګڼه ، ۱۳٦٥ ش
۷۲ـ هوتک ، محمد معصوم ، پوخ کانی ، ټورنټو ، کاناډا ، ۱۳۷۵ ش
۷۳ـ هوتک ، مولوي صالح محمد ، پاشلي وېناوي ، سریزه اوحاشیې دمحمد معصوم هوتک ، ۱۳٦۹ ش
۷٤ ـ هیوادمل ، زلمی ( سرمحقق ) ، دپښتوادبیاتو تاریخ (لرغونې اومنځنۍ دوره ) ۱۳۷۹ ش
۷٥ ـ هیوادمل ، زلمی ، فرهنګ زبان وادبیات پښتو ، لومړی ټوک ، کابل ، ۱۳٥٦ ش
۷٦ـ هیوادمل ، زلمی ، فرهنګ ادبیات پښتو ، ۲ ټوک ، کابل ، ۱۳٦٥ ش
۷۷ـ هیوادمل ، زلمی ، بېدیاني ګلونه ، کابل ، ۱۳٦۲ ش
۷۸ـ هیوادمل ، زلمی ، دمحمدهوتک ژونداومزار ، کابل
۷۹ـ هیوادمل ، زلمی ( سرمحقق ) ، په هندکي دپښتوژبې اوادبیاتو د ایجاد اوودې پړاوونه ، لاهور ، ۱۳۷۳ ش

# Hundred Turbans
# One Shawl

*National, Spiritual, Literary and Social personalities of Hotak tribe*

ACKU

*Auther:*
***Mohammad Masoom Hotak***

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ــ جرمني
VEREIN ZUR FORDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V
د خپرونو لړ (۶۹)